


عزت الله "اکبری"

# رسنیز او ژورنالستیک مفاهیم

ژمی ۱۳۸۹

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

# بسم الله الرحمن الرحيم

# رسنیز او ژورنالیستیک مفاهیم

مؤلف : عزت الله  (اکبر ی)

**سریزه وړاند وینه**

څرنګه چې، موږ او تاسي په دې خبره ښه پوهیږو چې مطبوعات او رسنۍ په «مشروطیت» او «ولسواکۍ» په دغو دواړوځانګو کې یې ځیني د علم او پوهې خاوندان د څلورمې قوې په نوم یادوي چې د «مجریه» «مقننه» او «قضائیه» قوو کړه وړه څاري او نظارت پرې کوي او د هغوی له مثبت او منفي کارونه څاري او خلکوته یې په واقعي بڼه وړاندې کوي.

کله چې دا نړۍ منځ ته راغله ور سره سم اړیکې هم رامنځ ته شوې هغه ډول چې موږ ټول ښه پوهیږو چې کله آدم (ع) او بي بي حوا د ژوند ساه واخیسته نو ورسره جوخت د دوی ترمنځ اړیکې رامنځ ته شوې چې د دوي د ژوندانه او ورځنیو اړیکو کیسې په کلام الله مجید کې په صراحت سره راغلي دي، نو په دې توګه ویلی شو چې په نړۍ کې مطبوعات او رسنۍ اوږده مخینه  لري او د همدې موخې په لاره کې یې ګټور اوګړندي ګامونه او چټ کړي دي. زموږ په هیواد کې هم رسنۍ د علامه سید جمال الدین افغان د اصلاحاتو ژور پلان او پروګرام  له مخې رامنځ ته شوي او ده پټیلې وه چې اسلامي هیوادونه له کورنۍ زورواکۍ او استبداد او بهرني ښکیلاك څخه د همدې رسنیو له لارې خپلواك، هوسا او بسیاکړي چې په اوږده موده کې همداسې وشول اوله افغانستان نه تر ایران، مصر، ترکیې او هندوستان پورې یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د رسنیو له لارې د آزادۍ تخم وکاره.[1]

اوس رسنیو د بڼې، څرنګوالي او څومره والي له اړخه زیاته وده کړې او د چاپي خپرونو تر څنګ، غږ یزې، انځوریزې او دوه اړخیزې (انټرنیټي)رسنۍ هم رامنځ ته شوي او د کار ساحه او اغیزه یې تر پخوا ډیره پراخه شوې ده.

اوس  رسنۍ کولی شي چې ډېر ځواکمن دولتونه او حکومتونه رانسکور کړي. څو لسیزې وړاندې په امریکا کې رسنیو د دوو تکړه او پیاوړو خبریالانو د یوه څیړنیز رپوټ په خپرولو سره  د واټرګیټ رسوایي همدې  بربنده کړه او د امریکې د هغه وخت انتخابي حکومت یې رانسکور کړ چې ریچارج نکسن یې مشري کوله.  په نوره نړۍ کې هم رسنیو ډېر بې لارې حکومتونه لړزولي او راپرځولي دي.

په افغانستان کې اوسني حکومت چې تر نهو کلونو یې زیات وخت په ملت غولوني تېر کړ د اداري فساد، بډو، درغلیو له لارې بې کفایته کسان لوړو څوکیو ته رسولي، ورسره د دولت نور ارګانونه شورا او قضاء هم ډېر له ملي غوښتنو او هیلو نه لرې دي نو دا د رسنیو دنده ده چې د دغه فساد  ورکولو یا له منځه وړلو له پاره پرله پسې، هوډمنه او دوامداره مبارزه وکړي خو په دې شرط چې په خپله همدغه رسنۍ د کوم لوري یا طرف خوا ونه نیسي چې دا به د خبریالي دغه پاک مسلک ته سخت ګوزار ورکړي او  هغه څه ته به چې ټولې رسنۍ او خبریالان یې  دعوه کوي سخت زیان ورسوي .

---

[1] په افغانستان کې د خبریالي لړۍ – پوهاند محمد کاظم آهنګ

رسنیو ته اړتیا ده چې د هوسا او بسیا ټولنې له پاره کارو کړي . درې ګوني قوې وڅاري او د ملت غږ د چارواکو تر څنګ د نړیوالو غوږونو ته هم ورسوي او د څلور مې قوې په توګه خپله سپېڅلې انساني، اسلامي او افغاني دنده تر سره کړي. خلک، مدني ټولنې او دولت په یومنظم شکل سره یو له بل سره وتړي او د یوبل غوږونو ته کره او رښتیانئ خبرې ورسوي له درواغو، آوازو او شایعاتو څخه په کلکه ډډه وکړي او هغه څه چې د ملت او دولت د پیاوړتیا سبب ګرځي په سالمه توګه خپلې ټولنې ته د خبریالي د قانون او اخلاقو تر سیوري لاندې ورسوي .

د خپلې مورجانې پاکې او سپڅلې مینې ته یې ډالی کوم

عزت الله اکبري

**سریزه**

دا یو ښکاره او روښانه حقیقت دی چې خبریالي یوه ستونزمنه اوپه عین حال کې یوه ډېره غوره او سپیڅلې دنده ده.که یو خبریال په بې پرې ، پوره اخلاص او صداقت سره واقعیتونه خپاره کړي، خپله اسلامي اوانساني دنده یې په ښه توګه ترسره کړې ده، چې د لوی رب العزت او د ټولنې د ټولو غړو د خوښئ او رضایت سبب به وګرځي او په همدې سره به د خبریال مسلکي وړتیا د ټولنې او خلکو باور او اعتبار وګټي.

په نړۍ او په ځانګړې توګه په افغانستان کې هرکال په بېلابېلو پېښوکې په لسګونو خبریالان خپل ژوندله لاسه ورکوي او په لسګونو نور معلول، بندي او له کوم دلیل پرته وهل او ټکول کېږي ، ځکه خبریال د خپلې سپیڅلې دندې په خاطراو د واقعیتونو د ترلاسه کولو او منعکسولو له پاره د پېښو ځایونواوآن د جګړې ډګر ته ځان ورسوئ،که څه هم ښه پوهیږي چې دغه کار له خطره ډک دی خود دې له پاره چې خپل مسوولیت اودنده یې په ښه او واقعي توګه اجراکړې وي نو چمتو وي چې د واقعیتونو راټولو له پاره هرې خطرناکې سیمې ته لاړ شي او خلکو ته په پوره ایمانداریئ هغه مالومات وړاندې کړي چې هغوی ورته اړتیا لري.

څرنګه چې، موږ وینو د خبریالانو وژل کېدو موضوع ته د حکومتونو په تیره بیا د نړیوالو موسسو چارواکي چنداني ارزښت نه ورکوي، آن ډېر ځله موږ او تاسې د دې شاهدان یو چې خبریالانو ته ډېرې ستونزې دولتي چارواکي جوړوي او د هغوی ژوند له خطرسره مخ کوي. ډېرځله لیدل شوي چې کله یو خبریال د دې سپیڅلې دندې پر وخت په قصدي اویا هم خطایي توګه د ښکېلولوریو له خوا وژل کیږي حکومتي چارواکي، د ډلومشران او نړیوال مسوولین یوازې په یوه یادونه بسنه کوي او هیڅکله نه دي لیدل شوي چې په دې اړه واقعي پلټنې او څېړنې وکړي، نو دې پایلې ته رسېږو چې خبریالان یوازې دي او خپل امنیت باید په خپله وساتي.

ډېری چارواکي داسې ګڼي چې د خبریالانو ویرول به یو ښه کار وي ځکه هغوی بیا لږ د دوی د کارونوپه اړه پوښتنې اوګرویږني کوي. دغه راز، ډېرځله لیدل شوي چې د خبریالانو ټیپ،کمره او داسې نور وسایل ترې اخیستل کیږي ، یا قاضي حکم کوي چې خبریال باید د خپل خبر سرچېنه افشاءکړي آن په هغو هیوادوکې چې د دیموکراسئ جنډه یې هم پورته کړې خبریالان ګواښل کیږي .

خبریالي داسې دنده ده چې، د نورو برخو په پرتله زیاتې ځیرتیا ته اړتیالري او د هرې پیښې په باب د رپوټ برابرولو ترڅنګ باید د خپل ځان امنیت ساتنې په اړه ډېر پام وکړي، بریالی خبریال هغه دی چې ژورې ټولنیزې اړیکې، پېژندګلوئ او پراخ مالومات ولري.

دغه راز، ژورناليزم د بيلابيلو پيښو، مسلو او موضوعاتو په اړه د خبرونو، رپوټونو، شننو او تحليلونو برابرولو ډګر ته لاره پيدا کوي. هغو کسانو ته چې په دې ډګرکې فعاليت کوي او يا هم په بله وينا ژورناليزم د تاريخ ليکنې بنسټ جوړوي ځکه همدغه ژورناليستان دي چې د نړۍ په بيلابيلو برخوکې مهمې پيښې خپروي او هره يوه خبري رسنۍ هڅه کوي چې په دې لار کې تر نورو مخکښه وي. په دې اړه پر اسلامي او ژورناليستيکي اصولو عمل او توازن ساتل د ټولنې د بيلابيلو پاړکوله پاره يوه ګټوره چاره ده. خپلواک او بې پرې ژورناليستان په خپلوخپرونو سره د خلکو د حقوقو له تر پښولاندې کولو د حکومتي واکمنو، موسسواو ارګانونو د مشرانو په مخنيوي کې مهمه ونډه لري او هغوی دې ته اړباسي چې د خلکو غوښتنو ته ځواب و وايي.

نن سبا په نړۍ کې په زرګونه بريښنايي اوچاپي رسنۍ فعاليت کوي چې دا ټولې د ژورناليزم په ډګرکي په بيلابيلو سياسي، مذهبي، علمي، ټولنېزو، ښوونيزو، پوزي، ورزشي او تفريحي برخوکې د راډيويي او تلويزيوني چېنلونو، ورځپاڼو، مجلو، اونيزو، وبپاڼو او وبلاګو له لارې د خبرونو، سرمقالو، شعرونو، نظمونو، ډول ډول نثرونو، کېسو، ناولونو، فلمونو او ډرامويه خپرولو په فردي او ډله ييزو ګروهنو سره د بيلابيلو صليقواوغوښتنوله پاره فعاليت کوي. نننی ژورناليستان اړ دي چې خپل کار د اوسنۍ بشري ټولنې د اړتياوو پر بنسټ پرمخ بوزي او په اصطلاح د مخاطبينو تنده ماته کړي.

فعال ژورناليستان هغه د چا خبره ځان اورته اچوي چې ترې زړونه خړوب کړي. ټول د احساس او منطق، عقل ا و منطق، دين اومنطق تر منځ سرګردانه دي او دا سرګرداني تر ډيره په ليبرالو ټولنو کې ليدل کېږي . د رسنيوکار هم د ښه بازار موندلو پربنسټ وي او پوه خبريالان له هر څه زيات بايد له سوداګرېزې پوهې هم برخمن وي ځکه ژورناليزم په خپله يو ډول سوداګري ده. په دغه ډګرکي هم د نورو چارو په شان تل په ګټه فکرکېږي چې دا ګټه له نوروګټوسره توپير لري، د بيلګې په توګه دا سوداګري په مطبوعاتوکې د تيراژ په لوړوالي پورې نه محدوديږي بلکې له بيلابيلو سياسي لورو سره مقابله او بريالیتوب ترلاسه کول هم د دې ډګر د کارکوونکو هڅه ده، خو د غيراسلامي ژورناليزم په پرتله په اسلامي ژورناليزم کې اسلامي د اصولو په پام کې نيولوسره تر ډيره دا شان انديښنې کمې وي، ځکه دلته معيار اسلام او عدالت وي او تل پر مثبت اړخ فکرکېږي ، په مقابل کې د لويديځ اسلامي ضد ټولنې او حکومتونه يوازې له سياسي او پوزي لارې د اسلام پر ضد مبارزه نه کوي بلکې د رسنيو او نورو بيلابيلو وسيلو په کارولوسره هڅه کوي چې د اسلامي نړۍ اوسيدونکي له اسلامي اصولو لرې او تر وسه اخلاقي فساد او ابتذال د هغوي ترمنځ دود کړي چې، دا ددوی دايمي او نه ستړې کېدونکي منفي هڅې دي، په داسې حال کې چې مسلمان ژورناليستان بيا تل د اسلامي اصولوله مخې په عمل کولو سره په مثبت اړخ کې کارکوي يانې هڅه کوي چې ټولنې له فساد او ابتذاله د سوچه ټولنېز چاپيريال او له فساده لرې ديندارۍ لارې ته را واړوي .

مسلمان ژورناليستان که غواړي چې خپرونه يې ډير پلويان ولري نو په ټولو ليکنو او خپرونوکې اعتدال غوره کوي او هر لوري او ډلې ته په برابره توګه ونډه ورکوي، د هر چا او هرشي او د ټولنېز ژوند د هرې برخې په اړه چې ليکنې او خپرونې کوي اساس او معيار يې اسلام او عدالت وي ځکه اسلام د اعتدال، سولې او د ژوند ټولو اړخونو ته د اصولو د معيار ټاکلو دين دی .

په لويديځو ټولنوکې د ديموکراسۍ آو ازادۍ شعار ورکول کېږي خو په عمل کې د پراخو جاسوسي ادارو له لارې چا ته اجازه نه ورکوي چې د هغوی د بې عدالتيو په اړه ترې پوښتنه او ياهم پرې نيوکه وکړئ، آزادانه فکر وکړئ، په خپله خوښه د ټاکلو حق ولري او د هغوی له ناسمو او ناوړه کارونو پرده پورته کړي.

په خواشینۍ سره باید ووایو چې نن سبا زموږ اکثره مسلمان ژورنالیستان په عمل کې د اسلام د دښمنانو پر پوچو شعارونو غولیدلي او په یو ډول د هغوی د ګټو له پاره کارکوي .

نن سبا په اکثرو اسلامي ټولنوکې د پخوا په پرتله د ډله ایزو رسنیو له پاره د آزادانه کار زمینه برابره ده خو مسلمان ژورنالیستان او خبریالان د اسلامي او ژورنالیستیکي اصولو پر خلاف عمل کوي په داسې حال کې چې د شهرت او نفوذ د زیاتیدو له پاره باید د اولسونو ترمنځ د دوستۍ او اسلامي ورورولۍ له پاره کارکول د هغوی اصلي معیار او اساس وي. ډیرځله لیدل شوي چې د ځینو ورځپاڼو، راډیویي اوتلویزیوني چینلونو مسوولین د دې دندې له پیلولو وړاندې د خپل هیواد، دین، کلتور او دودونو په باب دزړه سوي خبرې کوي خوکله یې چې دغه دنده پیل کړه هغه خپلې ټولې مخکېنۍ خبرې اولید لوري یې له یاده وتلي وي، ته به وایې چې بلکل بل سړی شوی دی.

په خواشینۍ سره باید ووایو چې نن سبا د ژورنالیزم ډګر تر ډیره سیاسي اړخ غوره کړی دی او اکثره رسنۍ د حکومت، سیاسي ګوندونو اوکله هم د زورواکه ډلو د سیاستونو مخ ته وړلو په چوپړ بوختې دي، د هغوی د سیاستونو له پاره کارکوي او د سیاسي جنجالونو او کشمکشونو په باب فعالیت کوي .

که څه هم سیاست تر ډیره په ژورنالیزم کې ونډه لري او ژورنالیستان د ټولنې عامو وګرو ته سیاست او سیاسي لوری ټاکي، خو دا باید د دې ډګر یوه برخه وي نه دا چې له یوې مخې دغه ډګر سیاست ته پریښودل شي .

له بلې خوا په سیاسي ژورنالیزم کې خبریالان تل د سیاستوالو له بیلابیلو نیوکو او فشارونو سره مخامخ وي اوکله هم ځیني نظرونه پرې ټپل کیږي خو باید خبریالان په کلک هوډ سره د تخصصي مالوماتو او شمیرنو پربنسټ عمل وکړي چې دغه کار ټولنه هم له فشارڅخه ژغوري.

له بلې خوا د سیاسي ژورنالیزم دنده ده چې جوته کړي یوه موضوع د کومو عواملو د اغیز له امله په یوې مهمې اوټولنېزې مسلې بدله شوې او د حکومتي او یانورو چارواکو په اجنډا او لومړیتوب کې راغلې ده. په دې اړه غورکول د ژورنالیزم د سیاسي برخې خبریال دنده ده چې دغو اکثرو څیړنوته د خبریا رپوټ په پای کې د مخینې په توګه اشاره وکړئ، په دې توګه که د هرې برخې خبریال په هغه څانګه کې ژور مالومات ولري او هره ورځ د یوې تودې مسلې په اړه چې په ټولنه کې ډیر ارزښت ورکول کیږي نوي اړخونه او ورسره د هغې مخینه لوستونکو او اوریدونکو ته وړاندې کړي دغه کار به ټولنه له عمومي پوهاوي برخمنه کړي .

هغه ډول چې، یوسیاستوال د سیاسي ستونزو د اواري په لټه کې وي، خبریال هم باید د حل لارو په باب فکر وکړي، سیاستوال چې د یوې مسلې له پاره پر لارو چارو غورکوي، خبریال هم باید د ټاکل شویوحل لارو ترڅنګ نورې حل لارې په ګوته کړي چې دا دیوه پوه خبریال وړتیا ښیي .

د حق دلارې د درنو شهیدانو سپڅلي روح ته یې ډالۍ کوم.

عزت الله اکبري.

**د لیکوال وینا**

ژورنالیزم د عامه اطلاعاتو او مالوماتو د پر وخت تامینولو مسلك دی او څرنګه چې، له عامه ژوند سره نږدې اړیکې او د ټولنې د اعصابو حیثیت لري نو خامخا د یو شمیر اصولو، ظوابطو او اخلاقو په چوکاټ کې راګیر چاپیریال لري.

تر ډېره حده ژورنالیستیکی اخلاق د یوشمیر نالیکل شویو قراردادونو مجموعه ده چې په ټوله نړۍ کې نافذ دي او سره ورته ارزښتونه لري.

په ژورنالیزم کې واقعیت، حقیقت او آزادي هغه درې مفاهیم دي چې ژورنالیست یې په کلکه په پام کې نیولو ته اړ دی. ټول اطلاعات باید پر واقعیتونو ولاړ وي، ټول واقعیتونه باید حقیقت ولري او ټول ژورنالیستکي فعالیتونه باید د یوې مسلکي آزادۍ پر بنسټ ترسره شي. په نړۍ کې دولتي او مؤسسه یي ژورنالیزم ځکه ډېر اعتبار نه لري چې د یوې سیاسي کړۍ په چوپړ کې وي، له مؤسسه یي ژورنالیزم څخه هدف د یوه سیاسي ګوند یا تنظیم له پاره د تبلیغاتي دستګاه جوړول دي، البته د دولتي او مؤسسه یي ژورنالیزم فعالیت ممنوع نه دی بلکې معمول هم دی خو د آزادو ژورنالیستیکي مرکزونو په پرتله لږ اعتبار لري. تر ټولو معتبر او اعتمادي خبریال هغه دی چې تر نور ډېره مسلکي آزادي ولري. کله کله یو شمیر خبریالان د مادي او مالي ګټو له پاره ځان پر ځواکمنو کړیو پلوري، زموږ په هیواد کې داسې خبریالان هم لیدل شوي چې یوې راډیو یا آژانس ته کار کوي خو پټ د کوم قوماندان، رسمي چارواکي، یا والي په رکاب او دربار کې هم نامالومې دندې لري، چې د آزادۍ د نه لرلو له امله په ولس کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي. له زورواکو سره نامشروع ملګرتیا او دې ملګرتیا ته وفاداري د اطلاعاتو د بې پرې توب اصل ماتوي.

زموږ ټولنه نوې د اطلاعاتو د جنګ ډګر ته ورننوتلې ده ځکه خو تر هرڅه مخکې د ژورنالیست آزادي، مسلکي سپېڅلتیا او اخلاق په خطر کې دي. ما اوریدلي دي چې پخوا به په یوشمیر ولایتونو کې خبریالانو له زورواکو او چارواکو سره پټ قراردادونه درلودل او اطلاعات یې هغه ډول خپرول چې چارواکو غوښتل، د دې په بدل کې دغو خبریالانو زور و زر ترلاسه کول او آن چې د زورواکو په مرسته یې خپل مخالفین ډبول، کیدای شي داسې څه لا اوس هم وي. له زورواکو سره قراردادونه د ژورنالیزم اخلاقي قراردادونه ماتوي او مسلکي شرم رامنځ ته کوي، البته دا په دې مانا نه ده چې ژورنالیست دې خامخا د دولت یا کوم چا پر ضد وي نه دا کاملاً غلطه خبره ده، ژورنالیست یوازې او یوازې د حقیقتونو عکاس دی او بس. په تیره بیا د آزادو رسنیو له پاره مهمه ده چې خپل خبریالان له نږدې وڅاري چې د واکمنو تر کنټرول لاندې را نه شي. که ژورنالیست غواړي آزاد و پیژندل شي مسلکي تعهد یې حکم ورته کوي چې د واکمنو او زورمندانو له دم او منتر څخه ځان وساتي. د څو ورځو نامشروع ګټه د ټول عمر اعتبار له منځه وړي او آن تر دې چې د ټول مسلك رنګه ور بدوي. په هیواد کې لاتر اوسه د ژورنالیستانو داسې خپلواکه ټولنه، نه ده رامنځته شوې چې د مطبوعاتو د حریم ساتنه وکړی شي، د یوه ژورنالیست مسلکي بداخلاقي د مطبوعاتو پر ټول حریم تیری دی، ټول ژورنالیستان باید د خپلو ملګرو د بنوئېدلو مخه ونیسي.

ددې له پاره چې وګړي څومره چې د قانون، پولیسو او حکومت په وړاندې د مسئولیت احساس کوي د مطبوعاتو پر وړاندې باید هم همدومره احساس ولري. ټولنیزه رسوایي تر ټولو لویه جزا ده، د جنایت په صورت کې ټولنیزه رسوایي مطبوعات رامنځ ته کوي ځکه خو د مطبوعاتو ځواك جدي ګڼل کیږي، حکومتونه سم کار کوي د دې له پاره چې مطبوعات یې رسوا نه کړي، وزیران، والیان او رئېسان د خلکو خدمت کوي د دې له پاره چې له ژورنالیستانو ویریږي، ژورنالیست وسله نه لري خو د عامه رسوایي وسیله ورسره ده، خاین واکمن د خپل خیانت د پټولو له پاره ژورنالیستان په بیه اخلي او له مسلکي پلوه د کمزورو اخلاقو خاوند ژورنالیستان خپل مسلك په بیه پلوري. په دې سره د خیانت یا خدمت په هکله واقعیتونه او حقایق پټ پاتې کیږي چې په پایله کې یې د مسئولیت احساس له منځه ځي او په ټولنه کې فساد عامېږي.

د پوهې تر څنګ آزادي او اخلاق د ژورنالیست ښه صفتونه دي او دغه صفتونه د یوه خبریال په ټولنیز ارزښت، اهمیت او کاري ونډې مخامخ اغیز لري. خبري اعتبار د ژورنالیست په شخصیت، صداقت، آزادۍ او مسلکي اعتبار

پورې تړلی دی. خلك وايې له پيښې څخه خبر شوم، زه يې ځکه رښتيا بولم چې فلان ژورناليست يا آژانس نه مې واوريده، دا د خبري آژانسونو او خبريالانو دنده ده چې د خلكو دغه اعتماد وساتي.

د ژورناليزم اخلاق هغه بحث دی چې، د پرمختللو ټولنو په پوهنځيو کې بحث پرې کيږي او تر ډيره بريده فرهنګي مرکزونه، د ژورناليستانو ټولنې او آژانسونه هڅه کوي د دغو اخلاقو د تأمين له پاره موازين، مقررات او آن قوانين وضع کړي. په ګڼو هيوادونو کې د پټې کمرې، پټ مايك كارول او د پټو خبرو رسوا کول جرم ګڼل کيږي، د ژيړ ژورناليزم اصطلاح هم كله كله هغه مهال كارول كيږي چې كوم ژورناليست متداول اخلاق تر پښو لاندې کړي. ژورناليستيكي اخلاق هيڅكله دوينا آزادۍ او د اطلاعاتو بشپړ خپراوي مخه نه نيسي بلکې د ژورناليزم اخلاق د اطلاعاتي خونديتوب يا مصؤنيت له پاره يو ښه تضمين دی، ټولنپوهان وايې: اخلاق په محکمو کې نه بلکې په وجدانونو کې تلل کيږي له همدې امله تل پر اخلاقو د بحث پر مهال د ضمير يا وجدان نوم هم ډير ياديږي له دې ځايه ده چې د ژورناليست د مسلكي اخلاقو په هکله د بحث پر وخت ښايي د قضاوت د همدې معنوي دستګاه يانې وجدان اهميت هير نه شي، تر ټولو بريالی او مهذب ژورناليست هغه دی چې د خپل کار پر مهال د حقايقو د څرګندولو له پاره بشپړه مسلكي آزادي او وجداني آرامۍ ته پام وساتي. د ژورناليست خپلواکي او استقلاليت د ټولنې د فكري استقلال له پاره لار هواروي او يو ښه وړانديز به دا وي چې په افغانستان کې کومه پياوړې مسلکي ټولنه د ژورناليزم اخلاق تدوين کړي او د هغو د تأمين پروسه وڅاري. ژورناليزم يوازې د تنخوا او مالي ګټې مسلك نه دی بلکې د يو ستر ټولنيز ارزښت پر وړاندې ژمنه او مسئوليت ګڼل کيږي د دې له پاره چې په افغانستان کې د ژورناليزم د اصولو، اخلاقو او خونديتوب له پاره معيارونه رامنځ ته شي، ښايي د دې وړې رسالې په ځينو ليکونو کې يې په زغرده ووينئ او ولولئ، زه عزت الله اکبري په دی وياړم چې د خبريالي د ګلبڼ تر سرليک لاندې مې دغه کتاب وليکه. د دغه کتاب په ليکلوکې مې خورا ډير زيارګاللی، له بيلابيلو سرچينو لکه كتابونو،مجلو، ورځپاڼو او همداشان له مختلفو انترنيتي سرچينو څخه مې هغه اړين مالومات را اخستي چې فكر مې كولو زموږ خبريالان به همدې موضوعاتو ته ډيره اړتيا ولري، خو په کتاب کې مې تر ډيره بريده خپلې عملي او نظري کړنې ليکلي دي، کومې تجربې مې چې په نهوکلونو کې د خبريالي په ډګرکې په خپلو سترګو ليدلي او کړي دي هغه مې ستاسې له پاره په دغه کتاب کې د ليکنې په بڼه راوړي دي . کله چې زه محصل وم نو د خبريالي په يوه دغسې كتاب پسې به مې ډيرې هڅې كولې چې ويې مو مم بيا په تېره په پښتو ژبه کې نو اوس زه پر دې بريالی شوم چې هغه خپل ارمان له نورو درنو خبريالانو ورونو سره د دغه کتاب په چاپولو سره شريک او ترسره کړم.

د کتاب په ليکلو کې زماکورنۍ ډيره مرسته راسره کړې ده چې دغه کتاب زه د خپل ګران نيکه مرحوم فيروزخان او زما د زړه سر او له دنيا څخه د ارمانجن زړه وړونکي پلار مرحوم مدير ميراكبرخان پاک او سپڅلي روح ته ډالۍ کوم او د خپلې ګرانې مورجانې د اوږده عمر غوښتلو او د ايمان په نورانيت منورې خيرې او همداشان هغو په واقعيت مينو او بيوزلو خبريالانو ته چې د حقيقت په بيانولو يې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی ډالۍ کوم او له خپلو درنو خبريالانو ورونو سره ژمنه کوم چې، د خبريالي په نورو برخوکې به هم د دوي له پاره نوي کتابونه ليکم.

دغه کتاب مې په پښتو او دري ژبو ليکلی دی او کوښښ کوم چې نور كتابونه هم په دواړو ژبو په يوه وخت کې ستاسې درانه چوپړ ته وړاندې کړم .

د خپلې کورنۍ پاکې او سپڅلې مينې ته يې ډالۍ کوم.

په ډيره مينه .

**په دې کتاب کې د ټولو مضامینو لړ لیک**


| شمیره | عنوانونه | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | لمړی څپرکی، لمړی بحث خبريالي | |
| ۲ | د خبريالي دندې | |
| ۳ | خبريال څوک دی؟ | |
| ۴ | د خبريالي دندې | |
| ۵ | د یوه خبريال ځانګړتیاوې | |
| ۶ | دوهم بحث رسنۍ | |
| ۷ | د رسنۍ تعریف | |
| ۸ | د رسنۍ ډولونه د محتوا له نظره | |
| ۹ | د رسنۍ ډولونه د ملکیت له نظره | |
| ۱۰ | د عامه اړیکو وسیلې | |
| ۱۱ | د رسنۍ دندې | |
| ۱۲ | اړیکې ( ارتباطات) | |
| ۱۳ | داړیکو د نیولو آلې | |
| ۱۴ | دریم بحث د خبريالي له نظره د حقوقو تعریف | |
| ۱۵ | د حقوقي قاعدو ځانګړتیاوې | |
| ۱۶ | اخلاق څه شی دی ؟ | |
| ۱۷ | د اخلاقو او قانون تر منځ توپیر . | |
| ۱۸ | د خبريالي اخلاق څه دي ؟ | |
| ۱۹ | د خبريالانو اخلاقي ارزښتونه د افرادو په عنوان | |
| ۲۰ | د خبر یالی نړیوال اخلاقي اصول | |
| ۲۱ | دوهم څپرکی، لمړی بحث، خبر څه ته وايي؟ | |
| ۲۲ | د محتوا له نظره د خبر ډولونه | |
| ۲۳ | د خبر شپږګوني عناصر | |
| ۲۴ | د خبر جوړښت | |
| ۲۵ | خبر په ټولیزه توګه له درې برخو جوړشویدی(لید،بدنه او پسمنظر) | |
| ۲۶ | د لید ، بدنی او پسمنظر ځانګړتیاوې | |
| ۲۷ | دوهم بحث د خبريالي  سرچینې | |
| ۲۸ | په خبرکې د سرچینې (منبع) ارزښت او خبري سرچینې | |
| ۲۹ | د سرچینې ډولونه | |
| ۳۰ | نیوزروم | |
| ۳۱ | دنیوزروم د جوړولو موخه | |
| ۳۲ | هغه ټکې چې  د نیوزروم مدیر یې باید په پام کې ونیسي | |
| ۳۳ | د نیور روم جوړښت | |
| ۳۴ | په نیوز روم کې د اړتیا وړ وسائل | |
| ۳۵ | د خبرخونې یا نیوز روم اصطلاحات | |
| ۳۶ | د خبر لیکلو اصول او د خبر ارزښتونه | |
| ۳۷ | د خبریال په کار کې نیمګړتیاوې او څه ډول یو خبر پیدا کړو | |

| شمیره | عنوانونه | گڼه |
|---|---|---|
| ۳۸ | دریم بحث ځرنګه یو خبر وړاندې کړو | |
| ۳۹ | د خبر د لیکلو طریقې او یا سبکونه | |
| ۴۰ | د برقي او چاپي رسنیو د لیکنو ترمنځ توپیر | |
| ۴۱ | دریم ځپرکی لمړی، بحث – د مرکې تعریف او تاریخچه | |
| ۴۲ | د یوې ښې مرکې موخې (هدفونه ) او د یوه مرکه کوونکې ځانګړتیاوې | |
| ۴۳ | لمړی برخه د مرکې په هکله پوره مالومات او تخنیکې مهارتونه | |
| ۴۴ | دوهمه برخه د مرکې د موضوع پیداکولو مهارتونه | |
| ۴۵ | دریمه برخه د مرکې له پاره د یو ښه پلان جوړول | |
| ۴۶ | څلورمه برخه د مرکې پر مهال | |
| ۴۷ | پنځمه برخه له مرکې څخه وروسته | |
| ۴۸ | د مرکې ډولونه د محتوا له اړخه (مونو لوګ او دیالوګ ) | |
| ۴۹ | د مرکې ډولونه د وګړو او شمیر له اړخه ( یو په یو مرکه ، ګردی میز مرکه او د خبري ناستې مرکه) | |
| ۵۰ | د مرکې ډولونه د موضوع له اړخه ( خبری، تحلیلي، تحقیقي، احساساتی، وضاحتی، جدي)او داسی نور. | |
| ۵۱ | دریم بحث – واکس پاپ څه شی دی | |
| ۵۲ | په واکس پاپ کې کلیدي ټکي او د واکس پاپ ځرنګوالی | |
| ۵۳ | سونډ افکت او د هغوی ډولونه ( حقیقي سونډ افکت ، مصنوعي سونډ افکټ او هنري سونډ افکت) | |
| ۵۴ | څلورم ځپرکی –لمړی بحث – رپوټ او د هغه تعریف | |
| ۵۵ | رپوټ څه ډول یوه لیکنه ده | |
| ۵۶ | د یوه ښه رپوټ ځانګړتیا وې | |
| ۵۷ | د رپوټ ارزښت | |
| ۵۸ | د رپوټ خبری ارزښتونه | |
| ۵۹ | دوهم بحث- د رپوټ لیکلو لس نړیوال معیارونه | |
| ۶۰ | د یوه ښه رپوټ ځانګړتیاوې | |
| ۶۱ | د رپوټ له پاره پلان جوړول | |
| ۶۲ | د رپوټ ډولونه د محتواله اړخه ( خبری، تحلیلي او تحقیقي ) | |
| ۶۳ | د خبری ، تحلیلي او تحقیقي رپوټونو د جوړولو پړاوونه | |
| ۶۴ | د رپوټ ډولونه اجرأ له اړخه (دسپچ، روپ، پکېج) | |
| ۶۵ | پنځم بحث – د ویندویې لارښونه | |
| ۶۶ | د ویندویۍ لاری چارې | |
| ۶۷ | د ویندویۍ په هکله څوغوره ټکي | |
| ۶۸ | په ویندویۍ کې اخلاق | |
| ۶۹ | په رادیو او تلویزیون کې د ویندویې ګډ خصوصیات | |
| ۷۰ | رادیو او د رادیو تاریخچې | |
| ۷۱ | په رادیو کې د خپرونو د جوړولو چلونه | |
| ۷۲ | د رادیویې خپرونو ډولونه | |
| ۷۳ | ځرنګه یوه ښه خپرونه جوړوو | |
| ۷۴ | پنځم بحث – د خبریالانو د مصئونیت په هکله څو مهم ټکي | |
| ۷۵ | د خبریال امنیت | |
| ۷۶ | د خبریالی د امنیت په هکله د رویترز څو نصیحتونه | |
| ۷۷ | د خبریالانود امنیت مسوول څوک دی؟ | |
| ۷۸ | د اړیکو ارزښت د خبریالانو د امنیت له پاره | |
| ۷۹ | سرچېنې | |

## لمړی څپرکی

### لمړی بحث خبريالي Journalism :

خبريالي يوه فرانسوي کليمه ده چې، په لغت کې د ورځنيو چارو د يادښت کتابچې ته وايي او دغه راز، د خبريالي تعريف په اړه ويلی شو چې: (خبريالي د منظمو مالوماتو راغونډول، پر هغو تبصره کول او هغه مالومات پر خپل وخت خلکو ته د رسنيو له لارې رسول هم عبارت له خبريالي څخه دي ). [2]

همداشان، دا پوښتنه ټولو ته په ذهن کې ډيره پيداکيږي چې خبريالي څه ته ويل کيږي ؟ په دې هکله د خبريالي ځانګې کارپوهانو ترمنځ بيلا بيل آندونه او تعريفونه شته چې، د ټولو آندونه او تعريفونه پر خپل خپل ځای سم دي او پوره مانا ورکوي که څه هم د خبريالي کليمه اوس په ټولو ژبو کې يوه منل شوې کليمه ده او هم په همدې بڼه کارېږي، خو بيا هم خبريالي په نورو نومونو هم يادېږي.[3]

په عربي ژبه کې خبريالي ته صحافت ويل کيږي . په لومړنيو وختونو کې صحيفې هغو آسماني ټوټو ته ويل کېدې چې پر پيغمبرانو (ع ) به د لوی څښتن تعالی له لوري نازليدلې او دا اصطلاح ګانې د پاکو او سپېڅلو ليکنو له پاره ځانګړې شوې وې چې، ورو ورو دې لړۍ د خبريالي ټول ژانرونه تر پوښښ لاندې را وستل .

### د خبريالي موخې ( هدفونه ):

د خبريالي کارپوهان په دې باور دي چې، په رسنيو کې رسمي خبرتيا يا اطلاع ګاني، لارښووني او د خلکو د تفريح او هوسا ژوند په اړه ژورې او علمي ليکنې وشي او پر ټاکلي وخت خپرې شي.

هره رسنۍ د خپلو ارزښتونو او موخو د سر ته رسولو له پاره خپلې طريقې او لارې چارې لري، يو زيات شمير رسنۍ شته چې، هغه ديني خپروني جوړوي او ځيني نورې بيا ورځنيوچارو، سپورټي او تفريحي خبرونو ته زياته پاملرنه کوي، ډېرې نورې رسنۍ بيا تبصرو، سرمقالو، مقالو، طنزونو، ادبي ليکنو، تخصصي ليکنو، سرليکنو او نورو خبرونو په خپرولوتينګار او ډيره زياته پاملرنه ورته کوي، خو ځيني داسي رسنۍ هم شته چې يوازې او يوازې سندريزه رسنۍ وي يوازې سندرې خپروي.

خو له دې سره سره، د خبريالي سپيڅلې دنده په نړۍ کې د لمر په شان ځلانده ښکاري او خبريال بايد د خپلې مقدسې دندې د تر سره کولو په خاطر لاندې ټکي په پام کې ونيسی، موږ پر دې پوهيږو چې خبريالي ډيرې دندې لري خو له هغو ټولو څخه دلته دا څو ډيرې مهمې دندې را اخلو او بحث پرې کوو:

### ۱- د ټولنې خبرتيا :

د خبريالي لومړنۍ موخه له مهمو مالوماتو او پيښنو د خلکو خبرول دي، ځکه همدا خبر او اطلاع ده چې، د خبريالي د ملا تير جوړوي دا په دې مانا چې د اطلاع ورکول ډير مهم رول لري او د پوښښ او اغيز ساحه يې پراخه وي. که په رسنۍ کې خبرونه خپاره نه شي، نو رسنۍ خپل ارزښت له لاسه ورکوي، خو دا هم ضرور نه ده چې، خلک دې يوازې د خبر له لارې خبر شي، بلکې کېدی شي د مقالو، خبرتياوو، رپوټونو، مرکو او فيچرنو پر بنه خلک له يوې ځانګړې موضوع څخه خبر شي.

---

[2] نوې ورځ پاڼه ليکنه معتمد نژاد صفحه ۱۲-۲۰

[3] لازار ژوديت ، عمومی افکار ، دکتر مرتضی کتبی

خبرتیا ځکه د خبريالي له لمړۍ دندې څخه شمیرل کېږي چې خبرتیا ته د ټولنې ټول غړي که زاړه، ځوانان، واړه، نارینه، ښځینه، باسواده او یاهم بېسواده وي، ډیره اړتیا او لیوالتیا لري چې د یوې پیښې په هکله پوره مالومات ولري او دانسان فطرت دی چې تل غواړي له هرڅه څخه خبرشي، نو همدغه د خبريالي علم دی چې، خلک د هغه پر ژبه له یوې پیښې د خبر، مرکې او رپوټ په قالبونوکې خبرېږي .

**۲- خلکوته ښوونه او تعلیم ورکول:**

ورځپاڼې، راډیوګانې او ټلویزیونونه د خپلو خپرونو له لارې خلکو ته اطلاعات او مالومات وړاندې کوي، هغوي ته د سرګرمی او تفریح له پاره ښکلې خپرونې جوړوي پر همدغه دلیل خلک هم د رسنیو لیدو آوریدو او لوستلو ته لیواله وي چې، په دغه کار سره د لوستونکو او اورېدونکو علمي سویه لوړېږي. د اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، مذهبي او نورو موضوعاتو په اړه خپروني جوړې او خپرېږي چې، موخه یې د لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو د علمي کچې لوړول ده چې، د خبريالي یوه له مهمو دندو هم همدا ده چې د خلکو علمي سویه لوړه شي او هغوی ته د ورځنې ژوندانه لارې چارې وښيي او داسې نور ...همدا خبريالي او رسنۍ دي چې قومونه یو له بل سره یوځای کوي او هم یې بیلولی شي.

د یوه هیواد کلتور او کلچر د بل هیواد وګړوته ښيي، آن تردې چې د همدغه علم پر مټ او د رسنۍ په وسیله یو له بل سره سیاسي او عقیدتي جنګ او جګړې مخته بیايي. همداشان، خبريالي په اقتصادي، ټولنیز او سیاسي ډګرونو کې فعال او رغنده رول لوبوي. د خبريالي له شتون پرته د مدني ټولنې تصور ناشونی دی. په کومه ټولنه کې چې انسانان ژوندکوي هلته دی ته ډیره زیاته اړتیا لیدل کېږي چې له یو بل سره اړیکې ولري یو د بل له حاله خبرشي، یو دبل له دودونو، کلتور او نورو اړونده مسائلو خبر او پرې وپوهیږي، نو ځکه خو هیڅوک د خبريالي له ارزښت څخه سترګې نه شي پټولی، خو پکار داده چې دغه مسلک موږ خبريالان نورهم ښکلی کړو. څرنګه چې، د خبريالي واقعي هدف دی موږ خبريالان هم باید په همغه هدف پسې ولاړ شو نه دا چې رسنۍ د خپلې شخصي ګټې له پاره استعمال کړو او ورڅخه ناوړه ګټه پورته کړو.

کومې ټولنې چې پر مختللي او دغه راز،کومې ټولنې چې غواړي پر مخ ولاړې شي ټول د خبريالي اورسنۍ برکت دی او له دې ښکاره حقیقت څخه موږ باید سترګې پټې نه کړو، انسان چې د پرمختګ کوم پړاوونه وهلي او یا یې وهي، د خبريالي په نشتوالي کې به فکر کېدو چې ګویا انسان اوس هم په تیارو کې پروت دی . رسنۍ د لمر په په څېر خلکو ته دیني، سیاسي، ټولنیز او د راتلونکې نوې ورځې پیغام ورکوي او له نویو پېښو خلک خبروي. دغه راز، نور بحثونه بیله دې چې ور پسې ووزي لکه د پخوا په شان اوس یې په کورونو کې شته چې باید ورڅخه په پوره توګه ګټه واخستل شي او د رسنیو مسوولین هم باید پر دې پوه شي چې خبريالي یو سپڅلی مسلک دی چې په رسنیو کې باید د خبريالي واقعي بڼه خلکو ته ور وښودل شي .

باید کټ مټ خبريالان او رسنۍ د حکومت کړنې خلکو ته او د خلکو ستونزې او مشکلات حکومت ته و رسوي. مطبوعات په دې ډول ټولنو کې د څارونکو رول لري. که حکومت کوم ناسم کار کوي، نو همدغه میډیا یا مطبوعات دي چې د حکومت دا کړنې ولس ته بربنډوي. ولسونه د حکومت د دې کړنو پر بنسټ په راتلونکې کې قضاوت کوي.

[4]همدا رسنۍ دي چې د یوې ټولنې وګړي له دې څخه خبروي چې دولت د خلکو پر وړاندې کومه دنده لري ؟ دولت ولې مسوول دی که چېرته حکومت له ولس سره کړې ژمنې عملي کړي، په راتلونکې کې بیا رایه ورکوي او که د

---

[4] د سولې او جنګ د رپوټ ورکونې انستیتیوت لاسی منولونه I.W.P.R

ژمنو په پوره کولو کې پاتې راشي، نو په راتلونکي کې رایه نه ورکوي. همدارنګه، د خلکو ستونزې، قانوني غوښتنې او احساسات حکومت ته رسوي. حکومت د خلکو پر دې غوښتنو غور کوي او ستونزو ته یې د حل لارې چارې لټوي. په ډموکراټیکو ټولنو کې تر اجرائیه ، قضائیه او مقننه قوې وروسته خبریالي د دولت څلورمه ستنه او قوه ګڼل کېږي او د خلکو، دولت او مدني ټولنو تر مینځ دکړۍ رول لوبوي او که چېرته د خبریالي علم ته ښه ځیر شو، خبریالي د عامه افکارو په پیدا کولو او جوړېدو کې مرسته کوي. همدا خبریالي ده چې، خلکو ته د فکر او خبرو کولو له پاره موضوعات ورکوي او رسنۍ بیا داسی وسیله ده چې علمي موضوعات هم خپروي چې خلک ورنه د خپلې علمي کچې لوړولو له پاره ګټه اخلي. خبریالي یو تاریخي رول هم لوبوي، ځکه دا خبریالي ده چې، د راتلونکي تاریخ له پاره خام مواد برابروي. لکه چې امریکایي لیکوال بردیلي وایي: خبریالي د تاریخ خام مواد جوړوي او دا موږ ته را ښیي چې که خبر زوړ هم شي خو بیا هم خپل ارزښت له لاسه نه ورکوي.

د خبریالي موخه نه یوازې خلکو ته مالومات ورکول دي او خبریالي یوازې دا چې ټولنې او خلکو ته خبر وړاندې کوي بلکې نورې خپرونې چې هغه ښوونیزه او تفریحي بڼه لري هم ټولنې او خلکو ته وړاندې کوي او همداشان، ښایي د سرمقالو او مقالو په قالب کې هم خلکو ته یو څه وړاندې کړي چې د هرې ټولنې د پوهې د کچې په مالومولو سره دهغې پر ژبه یو څه و رسوي او ستونزې یې لرې کوي.

دغه راز، د بیلابیلو موضوع ګانو په اړه خلکو ته لارښوونه کوي چې، د خبریالي د علم او هنر په مرسته رسنۍ خپل نظر او همدارنګه، د مخاطبینو نظر څرګندوي او د مختلفو مسلو په اړه حکومت او د ټولنې ټولو افرادو ته لارښوونه کوي نوځکه خو حکومتونه او دولتونه په ډېرو موضوع ګانو کې د رسنیو سرمقالو، تحلیلي او تحقیقي خپرونو او لیکنو ته هم ارزښت ورکوي. په ځینو نورو ځایونو کې هغه حکومتونه چې اختلاس اواداري فساد ورکې شته له رسنیو څخه سخت ویرېږي او پر همدغه دلیل ځیني وختونه رسنۍ له زیاتو ستونزو سره مخامخېږي .

**۳- په ټولنه کې د خلکو له پاره مشغولتیا او تفریح :**

له خبر، اطلاع، مالوماتو، ښووني اوروزنې پرته په ټولنه کې خلک تفریح ته هم اړتیا لري موسیقي ، طنزي ټوټې، لنډې کیسي واوري ، هنري او مستند فلمونه او داسې نور ژورنالیستیکي ژانرونه واوري ، ووینې او ویې لولي چې د څو شیبو له پاره دوی خوښ وساتي، خو خبریال باید دې ته ځیروي چې له داسې طنزي ټوټو او یا هم ټوکو ټکالو چې په هغو کې دین، د خلکو کلتور او غوره دودونو ته سپکاوی شوی وي په کلکه ډډه وکړي ، آن تر دې چې له هغو ډرامو او ټوکو ټکالو چې هغه هیڅ کوم یو پیغام ونه لري ښه به داوي چې له لیکلو او خپرولو یې ځان وژغوري .

داسې تفریحي خپروني دې جوړې کړي چې هغه د ټولنې او خلکو له پاره یو پیغام ولري. د دې په خواکې چې، خلک وخندوي او یا یې وژړوي خو یو څه ترې زده هم کړي. خبریال اورسنۍ هم باید هڅه وکړي چې څه ډول خپلې ټولنې ته یو سالم پیغام رسولی شي چې هغه هم تفریح ولري او هم یو داسې پیغام پکې پروت وي چې خلک یې په ورځني ژوند کې د خپل ځان له پاره یو سر مشق وګرځوي. کوم خبریالان چې تفریحي خپروني جوړوي اوهغه رسنۍ چې هغه خپروي نو د ټولنې ورځنیو ستونزو په پام کې نیولو سره هغه په ډراماتیک ډول سره بیرته خلکوته په داسې بڼه وړاندې کوي چې مثبت او منفي اړخونه یې جوت کړي او د هغې دواړه اړخونه مثبت او منفي پایلې هم ورته په ګوته کوي او خلکو ته دا ښیي چې په ټولنه کې خپل ورځنی ژوند څه ډول سمبالوي چې برى او کامګاري ور په برخه شي . یو ځل بیاهم پر دې ټکي باید ټینګار وشي چې د یوه خبریال له پاره که په یوه رسنۍ کې خاندي او د خندا هدف یې مالوم نه وي د خلکو او ټولنې له پاره به د خوښۍ وړ نه وي، باید یو خبریال او رسنۍ د ټولنې د ټولو دیني او دنیوي ګټوپه پام کې نیولو سره یوه تفریحي خپرونه جوړه او خپره یې کړي .

## خبریال څوک دی ؟[5]

د افغانستان د رسنیو قانون له مخې خبریال هغه مسلکي شخص ته ویل کیږي چې، د رسنیو له لارې خپرېدونکي مواد په قانوني بڼه او شکل چمتو کوي او بیا یې ټولنې ته د هغوي په ژبه وړاندې کوي.

همداشان ویلی شو چې، خبریال هغه څوک دی چې په خپل استعداد او علاقمندئ سره ښوونیزې دورې له تیریدو وروسته او تخصص ترلاسه کولو او د ټولو ټولنیزو مسوولیتونو د ترسره کولوسره سره د خبریالي سپیڅلي دنده ترسره کړي چې دا ټولو ته ښکاره او روښانه خبره ده چې خبریال د ټولنې په ستر‌ګولیدلی حال د خبر، رپوټ، مرکي او د خبریالي د نورو ژانرونو په قالب کې راوړي او بیا هغه د ( چاپي او برېښنایي ) مطبوعاتو له لارې خلکو ته رسوي. یا هم ویلی شو، خبریال هغه څوک دی چې د یونسکو د نړیوالي اعلامېې مطابق کوښښ کوي چې کره ، سم، پر خلکو پورې تړلي او صحیح مالومات ورکړي. خبریال هغه څوک دی چې هیڅ کله هم له لوستونکي، آوریدونکي او لیدونکي څخه څه نه پټوي هغه څه چې واقعیت ولري خلکو ته یې کټ مټ وړاندې کوي او تر هغوپورې کوښښ کوي ترهغو ټول واقعیتونه خلکو ته ورسي چې ژوندانه ته خطرنه وي متوجه شوی، که چېرې یې ژوندانه ته خطر متوجه شي نو بیا د خبریالي اخلاق خبریال دې ته اړ باسي چې ژوند یې ورته ډېر ارزښت لري ځکه چې قرآن کریم هم په دې هکله داسې پریکړه کوي چې ( تاسې په خپلو لاسونو ځان هلاکت ته مه اچوئ ) ځکه ژوند د هر انسان طبیعي حق دی او خبریال هم د خپلې سپیڅلي دندې تر سره کولو پر وخت د خپل ځان، ټولنې او هیواد په ساتنه کې لکه د ټولنې د نورو وګړو په شان مسوولیت لري.

## خبریال په لاندینیو حالاتو کې رول لري:

د دولت په محکمو او د سترو شرکتونو په کړنو څارنه او د هغوی د بریاوو او ماتو لاملونه بربنډول، چې ولې دوی په دندو کې بریالي اویا ولې د ناکامۍ کندې ته لویدلي دي؟ البته خبریال په دې هکله ډېر په علمي او قانوني بڼه عمل کوي او خلکوته ښه او نیغه لاره ښیي.

په ټو لو برخو کې د فساد د جرړو موندل او خلکوته د هغو ښودل په مستندو دلایلو .

د چارواکو بې غوریو او نیمګړتیاوو ته د خلکو پام ور اړول.

د ټولنې مختلفو پاړکو ته صحیح او کره مالومات ورکول، نه دا چې د ټولنې یوه برخه خلک په پام کې ونیسي چې دا به د خبریال له پاره د خلکو په زړه کې کرکه پیدا کړي .

له هغو خلکوسره د سیاسي سیالانو دکړن لارو په اړه مرسته وکړي چې غواړي رایې ورکړي،اقتصادي حالت شرح کړي.

## د یوه ښه خبریال ځانګړتیاوې:

**کنجکاوي:** که خبریالان کنجکاو شخصیت ولري نو د هغه داکنجکاوي کولی شي خپلې پوښتنې ښې مطرح کړي پرته له دې چې له چا څخه و ویرېږي او خپل ځان په خپله سانسور کړي .

---

[5] معماریان؛ د آی – سی –اف د خبریالی آنلاین ښوونکی نظریات

**خبري حس:** يو تکړه او تجربه لروونکی خبريال پر دې پوهيږي چې وروسته له دې پيښې به کومه پيښه رامينځ ته کيږي او يا هم دا چې پوه شو، کوم شی خبردی؟ عموما په تمرين سره تر لاسه کېدی شي،خو داسې بريښي چې ځينې خلک خبري حالت درک کولی شي او پر دې پوهيږي چې ورسته له دې پيښې به حتماً داسي يو حالت منځ ته راشي چې هغه به بله پيښه وزيږوي .

**استقامت او د کار پرله پسې هڅې :** دا چې د اطلاعاتو د تر لاسه کولو په لټه کې وئ او له داسې اداري سره مخامخ شئ چې تاسې ته خنډونه جوړوي او کارونه مو له يوې ادارې بلی ته سپاري دې چارې ته مه تسليميږئ، کوښښ وکړئ چې د حل لاره ورته ومومئ او د پوره استقامت خاوندان و اوسئ.

**واقيعت موندنه:** يو ښه خبريال خپل نظريات او تعصبات په کور کې پريږدي او د تحريريې ميدان ته ور دانګي. د ټولنې پر وړاندې د خبريال دنده دا ده چې خلک خبر کړي نه دا چې هغوی وهڅوي.اطلاعات ورکړي له ټولو ښکېلو لورو، تر کومه چې ښايي او اجازه ورکړي چې خلک خپل هوډ او يوقاطع تصميم ونيسي.

**شک او ترديد:** خبريالان چې له چارواکو او د شرکتونو له مسوولينو سره ډير کار لري د هغوي د څرګندونو پر وړاندې بايد ډير شک ولري.

د سرچېنو داسی ډيرخوښېږي تاسې ته په خپله ګټه اطلاعات درکړي خو بايد خبريال پر دی پوه شي چې د غه شک او ترديد د خبريال او سرچېنې ترمنځ په بدګماني بدل نه شي ځکه په خبريالي کې يوه مقوله ده چې ( هغه څه چې تاسې پرې شک کوئ، لرې يې وغورځوئ ).

**له خلکو سره راحت واوسئ:** د خبر زيات داستانونه خلک جوړوي له خلکو سره ښه تعامل د يوه خبريال چارې د بري تر پولو رسوي نو ښه خبريال هغه دی چې له خلکو سره ښې اړيکې ولري. دا چاره د دې لامل ګرځي چې خبريال حقايقو ته لاس رسی ومومي او د بري لوړې درجې ته ځان و رسوي. [6]

**دخبريال مسووليتونه :**

خبريالان د يوې ټولنې د نوروغړو په شان د همدې ټولنې په هکله مسووليت لري بلکې مسووليت يې د ټولنې د نورو وګړو په شان څوځله ډير دی، ځکه خبريال نه يوازې دا مسووليت لري چې، خلکو ته په بيلابيلو برخو کې مالومات ورکړي، بلکې دا مسووليت هم لري چې، مالومات يې رښتيا، سم او له حقيقت سره سمون ولري. ژورناليستان يا خبريالان دنده لري چې، د پيښې له ځای څخه مالومات را ټول او په داسې بڼه يې خپاره کړي چې، د خلکو باور ور باندې راشي .

**د خبريال ځينې ځانګړنې او وړتياوې:**

يو پياوړي او تکړه خبريال چې په يوه رسنۍ کې دنده ترسره کوي، بايد لاندې وړتياوې ولري چې خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي او وکولی شي چې د رسنيو د مسوولينو او د خپلو مخاطبينو پام ځانته ور واړوي چې نو ځکه خو يو خبريال ډېر ژر او په چټکۍ سره مشهوربږي.

**۱- د خبر پوهايي (رښت):** دا په دې مانا چې خبريال بايد يوقوي ليد ولري او همداشان د تشخيص او پيژندنې ښه او ځانګړې وړتياخاوند وي چې پيښې په ښه او واضح ډول سره يو له بل څخه بيلې او په هکله يې ټولنې او خلکو ته کره اوپه زړه پورې مالومات ورکړي نو بيابه د ټولنې او خلکو باور ترلاسه هم کړي.

---

[6] جديد نيوز مالوماتي ويب سايتwww.jadid.news.com

**۲- تل له خبرسره :** یو تکړه خبریال تل باید دا وړتیاولري چې د خبر د پیداکولو لارې چارې او د هغه د اخستلو او خپرولو له پاره یو وړ او مناسب وخت و ټاکي. که د خبریالي هر ژانر پر خپل مناسب او وړ وخت وکارول شي نو د لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي له پاره به ډیر په زړه پور ې او جذاب وي .

**۳- تخصص :** که یو خبریال سره له دې چې په خپل مسلک کې علمي او هنري تخصص لري غوره به وي چې په یوه بله ځانګه کې هم د تخصص خاوند وي د بیلګې په توګه یو خبریال هم د خبریالي په مسلک کې تخصص لري او هم په اقتصاد کې نودغه خبریال به دنورو هغو خبریالانو په پرتله اقتصادي رپوټونه ډیر ښه چمتو کړي چې داقتصاد په ځانګه کې ونه پوهیږي او داسې نور...

د یوه خبریال له پاره دا ډیره مهمه ده په هغه ځانګه کې چې کارکوي خپله وړتیا او پوهه لوړه کړي .

**۴- له خلکو سره اړیکي :** خبریال باید تل له خلکو سره ښې اړیکې ولري د خلکو غوښتنې او نظرونه ته په خپلو رپوټونو او خپرونو کې ځای ورکړي په کومه خپرونه کې چې ستاسې مخاطب خپل ځان ګوري نو هغه ته همغه خپرونه ډیره په زړه پورې وي او کېدی شي ستاسې د رسنۍ دایمي اوریدونکي شي .

**۵- د خلکو او ټولنې د ښه والي له پاره ژمنتوب:** یو تکړه او پیاوړی خبریال تر بل هرڅه د خپلې ټولنې او خلکو او همداشان، د ملي ګټو ته ډیر درناوی کوي او د ملي ګټو په ساتلو کې خپلې ټولنې ته ژمن وي آن تر دې چې نور خلک هم نه پرېږدي چې د هیواد ملي ګټې یې په خطر کې واچوي او تل د هغو خلکو مخالفت کوي چې هغوی په ښکاره او یا پټه ټولنه او د هغې وګړي له خطر سره مخامخوي .

**۶- په ټولنه کې د ټولنې مطابق اړیکي :** یو ښه خبریال په ټولنه کې تل دوست، صمیمي، متواضع، د خلکو په منځ کې او تر ټولو غوره دا چې د خلکو باور او د هغوی رازونو د ساتلو باور خپلوي.

که چېرې یو خبریال په رښتیني توګه د پورتنیوځانګړتیاوو خاوند وي نو د ټولنې وګړو په زړونوکې په ځای درلودلو تر څنګ به په خپلو ورځنیو چاروکې هم بریالی وي.

**۷- په کارکې سرعت :** د ټولیزو اړیکو په وسایلو کې وخت لمړۍ درجه ارزښت لري، ټولې خپرونې، لیکنې او خبرونه باید پر خپل وخت ټولنې ته وړاندې کړي او هغه وخت چې په واک کې یې لري خپل ټول کارونه له هغه سره سم عیار او تر سره کړي. خبریال باید پر دې وپوهیږي چې په رسنۍ کې وخت تر هرڅه لومړیتوب لري.

**۸- خلاقیت او وړتیا :** خبریال باید پر دې پوه شي چې خبریالي هغه علم او هنردی چې ډیر سپیڅلی او ژورې ریښې لري. یو خبریال باید دا وړتیا او خلاقیت ولري چې خپلې ټولې خپرونې د ټولنې وګړو د غوښتنو او ذوق(خوښې) مطابق جوړې کړي او همداشان، دا وړتیا هم باید و لري چې د خپلې رسنۍ له پاره د وخت او زمان مطابق ښې او په زړه پورې خپرونې جوړې کړي او هیڅ وخت هم یو بنېزه خپرونه جوړه نه کړي، تل باید پر دې غور وکړي چې خلکو او ټولنې ته نوې خپرونې جوړې او نوي مالومات ورکړي.

همدارنګه، مخکې له دې چې خبریال د خبریالي مسلک غوره کړي نو دا ډیره اړینه اوضروري خبره ده چې د خبریالي مسلک، ځانګړتیا او هغه بنسټیزې موضوع ګانې زده کړي اوله پوره پوهې سره یوځای دغه مسلک ته مخه کړي.

[7]په ۱۹۷۸ زيږديز کال کې د ملګرو ملتو ( يونسکو ) په اعلامېه کې د ټوليزو رسنيو رول د نړيوالي سولې په ټينګښت کې د نړيوال سازمان په خوښه تصويب شوه .

په دې اعلامېه کې د خبريالانو د روزنې او اخلاقي دندې پر اصولوټينګار شوی ؤ چې، ور سره جوخت د رسنيو له پاره اخلاقي معيارونه هم منځ ته راغلل. په دغو اخلاقي معيارونو کې د خبرونو او اطلاعاتو راکړه ورکړه د ټولو خبريالانو حق وګڼل شو او دا د ټولو هغو خبريالانو له پاره وو چې د خبرونو خپرولو او تفسيرولو کې يې ګډون درلود.

په دې اعلامېه کې سره له دې چې [8]د نړيوال منشور چې په کال ۱۹۴۸ کې ملګرو ملتو تصويب کړی، ټينګار شوی چې خبريالان او رسنۍ بايد له دغو قوانينو او اخلاقي اصولو څخه په کلکه ملاتړ وکړي، او خبريالان بايد هڅه اوکوښښ وکړي هغه کوم خبرونه او اطلاع ګانې خلکو ته وړاندې کوي سم ، دقيق او له کره سرچېنو څخه اخستل شوي وي. خبريالان او د رسنيو مسوولين کوم مالومات چې لاس راوړي ته نو بايد دهغو پر سموالي او سرچېنو قوي والي کې له خپلو ټولو امکاناتو څخه کار واخلي، که چېرته کومه سهوه ورڅخه کېږي بايد ډېر ژر يې اصلاح کړي او په دې بايد غور وکړي چې خلکو او ټولنې ته غلط او ناسم مالومات ور نه کړي، موضوع بايد په ښه توګه وڅېړل شي او د موضوع ريښې د ځان له پاره مالومې کړي، چې درسنی مخاطب ته پکې کومه ستونزه پاتې نه شي، يو خبريال هيڅ کله هم بايد کوم حقيقت خلکو او ټولنې ته ګونګ او پيچلی وړاندې نه کړي مالومات بايد ډېر واضح او د خلکو په خوښه اوسويه وي او همداشان، له خلکو څخه بايد هيڅ کوم حقيقت پټ نه کړي، خو که د خبريال ژوند ته ورکې خطر متوجه وي نو بيا د خپلی ساتنې په خاطر له ځينو حقيقتونو خبريال تيرېږي ځکه هيڅ داسې څه په نړۍ کې نه شته او نه د ارزښت وړ دي چې په هغه کې دې يو انسان خپل ځان قرباني کړي بايد کوښښ وکړي چې له يوې لارې نه له يوې لارې هغه ستونزه په غير مستقيم ډول لرې کړي چې ژوند يې له خطره بچ شي.

[9] يو خبريال که په يوه ټولنه کې په هره رتبه چې وي نو بايد د ټولنې په خير او برکت پوره ايمان ولري او د خپلو شخصي موخو دلاسته راوړلو په خاطر بايد هيوادنۍ ګټې له منځه يونه سي، په ټولنه کې خلکو ته له سپکاوي افترا او دروغو څخه په کلکه ځان وساتي او همداشان، له ادبي غلا او د کاپي رايت موضوع ګانو ته دې کلکه پاملرنه وکړي د نورو خبرونه، رپوټونه او نورې ليکنې بايد په خپل نوم ونه ليکي که يې ليکي هم بايد حواله يې د همغه ليکوال پر کتاب ورکړي يانې د سرچېنې په تو ګه ورڅخه استفاده کولی شي. يوه ښه خبريال ته تر هرڅه د ټولنې او خلکو هوساينه او د هغوی دود او کلتور له خپلو شخصي، قومي، مذهبي او ژبني موضوع ګانو څخه د درناوي وړدي او په پام کې يې نيسي.

هره رسنۍ که داسې کوم مضمون خپروي چې په هغه کې غلطي وي ژر تر ژره بايد اصلاح شي، هغه موضوع ګانې چې سرچينې يې شکمني وي او يا يې په خپلواکه توګه پخلی نه وي شوی نه ښايي چې رسنۍ او خبريال هغه خپرې کړي ځکه رسنۍ له نا تايد شوو مالوماتو څخه په کلکه ځان ساتي او نه يې خپروي.

خبريال بايد امين،صادق، رښتينی او د ډېر ښه شخصيت خاوند وي، ټول اسلامي او د يونسکو سازمان له لوري وضع شوي اصول پر ځان مني او لومړۍ هڅه اوکوښښ يې د اسلام سپيڅلي دين ته ګټه رسول وي. يو ښه خبريا ل د ټولنې ټولو وګړو آبرو او عزت د خپل ځان آبرو او عزت بولي او هيڅ داسې څه نه ليکي اونه يې خپروي چې په هغه کې ټولنې ته زيان او ضرر و رسيږي اوله هغو مطالبو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د يو چا او يا هم د ټولنې په زيان

---
7 د يونسکو د نړيوالي اداري د رسنيو اصول
8 د ملګرو ملتونو نړيوال منشور
9 جووت ګرت ،« د سياسی تبليغ جوړښت» ژباړن محبوبه ملک لو

وي. همداشان، خبریال هیڅکله خپلې پټې سرچینې نه ښکاره کوي آن د سختو فشارونو په صورت کې هم نه غواړي چې د پټو سرچینو هویت افشاء اوڅرګندکړي خو د اړتیا پروخت واکمنه محکمې ته په ځینو ځانګړو حالتونو کې کېدی شي سرچنیه وښیي خو په دې صورت چې پر محکمه باوري وي چې، سرچینه یې نه افشاکېږي دغه حالتونه لکه ( ملي ګټوته پکې زیان او ضرر ورسیږي ) او د دولتي پټو اسرارو چې ملي امنیت، ملي ګټو او ځینې نورو داسې مسئلو چې قانون د هغو خپرول منع کړي وي باید خپاره نه کړي . نو اوس موږ کولی شو چې د خبریال له پاره یو ښه تعریف ولټووچې په ښه تو ګه خبریال وپیژنو :

خبریال هغه څوک دی چې د خپل شخصي شوق او استعداد په درلودلو سره، وروسته د یوې ښوونیزې او تخصصي دورې تیریدلو او همداشان، د ټولنیز مسوولیت په پام کې نیولو سره چې دغه مسلک دده پر اوږو اچوي، نود خبرونو جوړول، د خبرونو منظم را ټولول او وروسته د هغوی خپرول د ټولیزو رسنیو له لوري لکه ( چاپي مطبوعات، رادیو، تلویزیون، وېپاڼې ، خبري آژانسونه او داسې نور ... ) خپلو مخاطبینوته پر غاړه لري . مسلکي وړتیا ترڅنګ خبریال هغه څوک دی چې د تجربې په ډګرکې د یوه لوړ مقام خاوند وي .[10]

نو ځکه خو خبریالي ډېره سپیڅلي دنده ده چې په ټولیزو رسنیو کې یې یو خبریال د پورته ځانګړتیا وو په صورت کې په پام کې نیسي .

خبریال ته بویه چې، باید د خپل لوړ استعداد او پوهې پرمټ له دغه مسلک څخه د ټولنې او خلکو په ګټه استفاده وکړي چې یوه سوکاله او پرمختللې ټولنه ولرو .

**دوهم بحث رسنۍ یا((Media)):**

له ټولومخکې غوره داده چې پردې وپوهیږو چې رسنۍ څه شی ده او یا رسنۍ څه ته وایي؟ د رسنۍ ځای په یوه دموکراته ټولنه کې او داچې رسنۍ د دولت، خلکو او مدني ټولنې په اړیکو کې څه رول لوبوي؟ رسنۍ په ټولنه کې څه ډول ځای ځایګی لري؟

رسنۍ په یوه دموکراته ټولنه کې عبارت له هغې کړۍ نه ده چې دولت، مدني ټولنه اوخلک یو له بله سره تړي. یانې داپه دې مانا چې د دغو بنسټونو ترمنځ اړیکې ټینګوي او پر خپل وخت دغه مهم بنسټونه چې یوه ټولنه یې جوړه کړې ده یود بل له حال احوال څخه خبروي او کوښښ کوي چې د دغو بنسټونو ترمنځ په اطلاعاتو کې د خلکو له پاره یوه اساسي سرچینه وګرځي، د ټولنې وګړي ترې په پراخ ډول استفاده وکړي او بلآخره خلک دیته وهڅوي چې له دولت ، مدني ټولنو څخه خپل حقه حقوق تر لاسه کړي .

**درسنۍ دندې:** رسنۍ د یوې وسیلې په ډول ډیرې دندې لري چې له یو څو مهمو دندو څخه یې دلته یادونه کوو:

**ډله ییزه خبرتیا :** رسنۍ هغه وسیله ده چې په ډله ییزه توګه خلکو ته خبرتیا ورکوي.

**ډله ییزه ښوونه:** بیا هم رسنۍ داسې یوه وسیله ده چې په عام ډول خلکو ته ښوونه اوروزنه هم ورکوي، ټول هغه کسان چې د رسنۍ مخاطبین وي له دې زده کړې برخمن کېږي .

---

[10] خبرلیکنه ــ یونس شکرخوا ــپاڼه ــ ۲۲-۶۰

**ډله ییزه سرگرمي یا تفریح:** رسنۍ په یوه ټولنه کې هرکور او هره کورنۍ خندوي خو دیته باید په کلکه پاملرنه وکړي چې دا خندا به یوازې خندا نه وي بلکې خلکوته به یو سالم پیغام هم رسوي یانې رسنۍ باید کمیډي اړخ هم ولري.

**ډله ییزه مشوره یا پوهه ورکول:** ډیرې داسې رسنۍ شته چې خلک د بیلابیلو وسایلو له لارې ورسره اړیکه نیسي او مشورې ورڅخه اخلي پرته له دې چې په دې مشوره پسې له کوره بهر ووزي او یا هم پیسې و لگوي دا د رسنۍ یوه ډیره ښکلې دنده ده.

**ډله ییزه لورۍ ورکول یا هڅول:** همدارسنۍ دي چې د خلکو په ژبه کلتور او فرهنگ کې ډول ډول بدلونونه را ولي خو باید دیته په کلکه پاملرنه وشي چې دا هڅونه به د اسلام مبارک دین او د افغانسان اساسي قانون او د رسنیو له قانون سره ټکر و نه لري .

**دعامه اړیکو وسیلې:** [11]

دعامه اړیکې ډله ییزې رسنۍ په دوو ډولونو وېشل شوي دي، چې عبارت دي له.

١ - چاپي رسنۍ (Print media ).

٢ - بریښنایي رسنۍ ( Electronic Media ).

بیا هم پوښتنه داده چې په یوه ټولنه کې ډله ییزه رسنۍ څومره ارزښت لري نو ښه به داوي چې د ډول ډول رسنیو په هکله خپل ټول مالومات بشپړ کړو اوپه سمه توگه له هغو څخه د استفادې وړتیا ترلاسه کړو.

**چاپي رسنۍ :**عبارت دي له ورځپاڼې، اونیزې، دورځپاڼو اونېزې خپروني، د اونۍ مجلې، دلباس مجلې، خصوصي مجلې چې په مختلفو وختونو کې خپرېږي لکه میاشتنۍ، درې میاشتنۍ، شپږ میاشتنۍ، پوسترونه یا پمفلټونه، دیوالي کاغدونه او مختلفې اقتصادي، سیاسي، توکمیزې، فرهنگي چاپي خپروني، کتابونه، همدارنگه، په ټوکرانو لیکلي اعلانونه او داسې نورې هغه لوحې چې په ښارونو کې د یوه شي په هکله د تبلیغ له پاره استعمالیږي او خلک ورڅخه په ټولیزه توگه استفاده کوي .

**بریښنایي رسنۍ : (Electronic Media ):** لکه : رادیو ، تلویزیون، سینما، انترنېټ او لوډ سپیکر چې له دې څخه هم خلک په آزاده او ټولیزه توگه گټه پورته کولی شي او هر یو یې په خپل وار آوریدونکي او لیدونکي لري چې دا ټول په ټولنه کې یو ځانگړی ارزښت لري او پر ټولنه ډیر ستر او ژور اغیز پرېباسي، آن تر دې چې دومره اغیزمن تمامیږي چې د یوې ټولنې وگړو ته د پرمختگ لارې چارې ښیي

**د رسنۍ ډولونه د محتوا – ملکیت او خپرونوله پلوه:**

د رسنۍ تعریف: رسنۍ عبارت ده د ډله ییزو اړیکو له وسیلې څخه چې د ټولنې د بیلابیلو پاړکو تر مینځ اړیکې ټینگوي، یا رسنۍ عبارت له هغې وسیلې څخه ده چې د عامو وگړو اړیکې د ټولنې له خاصوخلکو سره ټینگوي، یا رسنۍ هغه تفریحي وسیله ده چې د ټولنې ټوارکي او ځپرکي له پر مختگ سره نیږدې کوي.

---

[11] لاسی منول داستاد خان محمد لکچرنوټ د خوست پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د خبریالي د څانگې د استاد

**د رسنیو ډولونه او په هغو کې د خپرونو جوړول** [12]

په عمومي توګه له جغرافیوي پلوه رسنۍ په څلورو ډولونو ویشل کیږي چې په دغه بحث کې به د هغو هر ډول په هکله بشپړ مالومات تر لاسه کړئ.

**۱- نړیوالې رسنۍ**

**۲- ملي رسنۍ**

**۳-ولایتي رسنۍ**

**٤- سیمه ییزې رسنۍ**

چې بیا هم دا ډول رسنۍ کېدی شي په دوو ګروپونو وویشو:

**۱- دولتي رسنۍ**

**۲- شخصي او ازادې رسنۍ**

خو دا ډول رسنۍ بیا هم په څو ډوله ویشل کیږي:

**الف- دیني رسنۍ**

**ب- تفریحي رسنۍ**

**ج- خبري رسنۍ**

**د- سندریزې رسنۍ**

**هـ - مخلوطې رسنۍ**

په ټولیز ډول بیا دا ټولې رسنۍ په دوه ډوله ویشل کېږي .

څرنګه چې، پورته مو هم نغوته یا اشاره ورته وکړه:

**الف - بریښنایي رسنۍ:** لکه رادیو، تلویزیون، انترنیت، سینما او داسی نور ...

**ب – چاپي رسنۍ :** لکه ورځپاڼي، اونیزې، میاشتنۍ، فصل نامي او داسي نور ...

اوس کېدی شي چې د ټولو ډولونو په هکله یو څه و وایو:

**الف: نړیوالي رسنۍ :** هغه رسنۍ دي چې په ټوله نړۍ کې اوریدونکي، لیدونکي او یا هم لوستونکي و لري. دا چې دا ډول رسنۍ ډیرې مهمې دي نو باید د خپرونو او نورو مطالبو په جوړولو کې لاندې ټکي مراعات شي :

---

[12] د پاکستان د اسلامی پوهنتون د خبریالی د پوهنځی د استادانو لکچر نوټ

۱- نړیوالې رسنۍ باید د مختلفو هیوادو نو په ژبه چې د هغه هیواد اکثریت خلک پرې خبرې کوي یاني په رسمي ژبو خپروني وکړي او د هر هیواد ورځني تاوده خبرونه برابر او خپاره کړي چې د همغه هیواد پرخلکو پورې اړه ولري، د هغوی فرهنګ ته کلکه پاملرنه وشي، تر ټولو ډیره مهمه دا چې د هغوي پر ژبه خپرونی وکړي.

۲- ددې ډول رسنۍ کار کوونکي باید کوښښ وکړي چې د هر هیواد معیاري ژبې وپیژني.مثلاً:که چیرې پښتو او دري ژبې په پام کې ونیسو د یوې سیمې پښتو ژبه له بلې سیمي سره یو څه توپیر لري خو هغه معیاري ژبه هم لري چې تر ډېره په لیکلو کې ورڅخه استفاده کېږي نو هماغه په پام کې ونیول شي. تر ډېره معیاري ژبه هغه ده چې په لیکنو او یا هم په ښوونځیو او پوهنتونونوکي ترې کار اخستل کېږي خوپه رسنیزو چارو کې باید په ساده او عام فهمه ژبه خپروني وکړي که هغه هر ډول رسنۍ وي .

۳- څرنګه چې د دا ډول رسنۍ د خپرونو وخت معمولاًکم وي نو زیاتره مهم خبرونه او رپوټونه خپروي باید د خپروني په شروع کې اوریدونکي، لیدونکي او لوستونکي پوه کړی شي چې د خپروني په لړکې موسیقی یا ځیني تفریحي مطلب هم اوریدلی، لیدلی او لوستلی شي.

٤- که چیرې په نړیوالو رسنیو کې تفریحي خپروني خپریږي باید چې د هغه اغیز پر ټولوقومونو او همدارنګه، په ټولو ژبو کې یو شان وي یاني په یوه قوم پورې تړلی نه وي.

**ب: [13]ملي رسنۍ :** هغو رسنیو ته ویل کیږي چې د هیواد په کچه خپروني کوي چې د خپرونو په جوړولو کې یې لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱- داسې خپروني چمتوکړی شي چې په ټولو څپرکو او پاړکو پورې اړه ولري.

۲- په دا ډول رسنیوکې باید پر هغو ژبو خپروني جوړې شي چې اکثریت خلک پرې غږیږي او د هرې خپروني اوریدونکي باید مالوم کړی شي چې کومې خپروني څرنګه اوریدونکي، لیدونکي او لوستونکي لري. خلک څه وخت هغه اوریدلی، لیدلی او لوستلی شي باید خپرونیې بر همداسې یو مهال ویش عیارې شي.

۳- هر ډول چې ځایي خلک د خپروني جوړولوغوښتنه ولري، باید پر همغه ډول خپروني چمتو کړی شي چې ټول خلک له رسنۍ سره مینه پیدا کړي.

**ج : ولایتي رسنۍ :** په هغه ډول رسنیو کې چې د یوه ولایت په کچه خپروني کوي باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي :

۱- باید د ځایي خلکو له رسم او رواج سره سم په رسنۍ خپروني جوړې کړی شي یاني داسې خپروني پکې عیارې شي چې، نه یوازې د همغه ولایت فرهنګ او کلتور بلکې د یو مملکت دی ننه د نورو سیمو فرهنګ او کلتور پکې منعکس کړی شي .

۲- په ولایتي رسنیو کې په سیمه ییزو ژبو باید خپروني چمتو کړی شي، باید په خپرونوکې د همغه ولایت زیاتې ورځنۍ موضوع ګانې وڅیړل شي.

**د : سیمه ییزې رسنۍ :** دا ډول رسنۍ چې د یوې ځانګړې سیمې په کچه خپروني کوي باید لاندې ټکي ورکې په پام کې ونیول شي.

---

13 دنی دفتر د خبریالی لاسی منولونه

دا چې په دا ډول رسنيو کې خپرنيز پوښښ کم وي نو حتماً اوريدونکي يې هم کم وي. نوځکه خو بايد کوښښ وشي چې داسې خپروني چمتو شي  چې د هغه ځای پر ټولو پاړکو پورې اړه ولري. هڅه وشي هغه لړ شمير اوريدونکي هم له لاسه ور نه کړي. دا ډول رسنۍ که په رښتيا سره د خلکو له منځ څخه وي او د خلکو په خوښه خپروني وکړي، نو د هغې سيمې خلکو ته به تر نړيوالو او نورو رسنيو همدا سيمه ييزه رسنۍ د ارزښت وړ وي او په خپله سيمه کې ډير اوريدونکي، ليدونکي او لوستونکي لري.

**۱- دولتي رسنۍ:** له هغو رسنيو څخه عبارت دي چې د دولت تر کنترول لاندې دې.چې په داسې رسنيو کې زيات د دولت د سياست سره سم خپروني کوي، آزادې نه وي، هغه څه خپروي چې دولت يې غواړي.

دولت د دې رسنيو ملاتړی دی خو بيا هم هڅه کوي چې د ټولنې ټولو پاړکو او قومونو استازولي وکړئ،  په دې مانا چې دولتي رسنۍکوښښ کوي چې د ټولنې ټولو وګړو پر ژبه خپروني وکړي او تر ډيره بريده  دولتي خبرونه خپروي .

**۲- شخصي رسنۍ او آزادې رسنۍ:** هغه رسنۍ دي چې آزادې وي او د چا تر اغيز لاندې نه وي چې دا ډول رسنۍ زياتره سوداګريز اعلانونه او موسيقی خپروي .

دا ډول رسنيې بايد د چا په پلوي او ګټه خپروني ونه کړي. تل رښتيا خپاره کړي، بايد عدالت او توله (توازون) ورکې په پام کې ونيول شي.   دا ډول رسنۍ بايد وګړنيزې او د خلکو په غوښتنه وي او بايد په داډول رسنيوکې تل دعاموخلکو ګټې په پام کې ونيول شي .

څرنګه چې و ويل شول د دې رسنيو موخه سوداګري وي نو ترډيره تجارتي اعلانونه خپروي خو دې ته بايد کلکه پاملرنه وکړي چې داسې اعلانونه خپاره نه کړي چې ټولنې ته زيان ورسوي.

**۱- ديني رسنۍ:** دا ډول رسنۍ د مذهبي ګوندونو تراغيز لاندې وي او زياتره خپل دين اوکړن لاره (پاليسي) په پام کې نيسي خو د افغانستان  اساسي قانون پر بنسټ د اسلام له سپيڅلي دين  پرته د بل دين تبليغ په رسنيو کې نه شو کولی.

**۲- تفريحي رسنۍ:** هغو رسنيو ته ويل کيږي چې زيا تره سندرې خپروي او يا هم تفريحي خپروني کوي.

هغه رسنۍ چې نوې په خپرونو پيل کړي، تر ډېره هڅه کوي چې موسيقي او تفريحي خپروني خپرې کړي. دوی د خپل شهرت په خا طردغه کار کوي چې لومړی د خلکو تر منځ دېښې  اېښودو ځای پيدا، اوريدونکي، ليدونکي او يا لوستونکي ځانته جلب کړي.

۳- **خبري رسنۍ** : دا ډول رسنۍ تر ډيره د نويو او تازه پيښو په هکله ټولنې او خلکو ته مالومات ورکوي چې خبرونه، رپوټونه، مرکې او نور مالومات خپروي او موخه يې د خلکو خبرتيا ده.

**۴- سندريزه رسنۍ :** دا ډول رسنۍ تر ډيره سندرې خپروي او که چيرې  خپروني هم و لري نو سندريزې خپروني جوړوي، چه دا هم د ټولنې وګړو  له پاره لويه سرګرمي بلل کيږي.

۵- **مخلوطي رسنۍ:** دا ډول رسنۍ په ټوليز ډول خبري، مالوماتي، تفريحي  ديني، فرهنګي او نورې خپروني لري، ياني دا ډول رسنۍ د راز راز رسنيو  ترکيب دی چې د افغانستان ډيرې دا ډول بڼه لري.

**اړیکې(ارتباطات):** [14]د اړیکې په هکله د اړیکې او خبریالي پوهانو، عالمانو او ماهرانو بیلابیل تعریفونه کړي دي: په پښتوژبه کې ورته اړیکه او په انګلیسي ژبه کې (Communication) ورته ویل کېږي .[15]

دا کلیمه د لاتیني ژبې (Communes) کلیمې بدله شوې بڼه ده چې د (Commonness) (اشتراک) مانا ورکوي خو دانګریزي ژبې د (Communication) کلیمه د لیکلو په وسیله د اطلاعاتو او مالوماتو د رسولومانا ورکوي خو د راډیو او تلیفون په وسیله پیغام رسولو ته هم (Telecommunication) وایي.

څرنګه چې، انسان خدای(ج) یو ټولنیز مخلوق پیداکړی چې انسان د ځمکې پر سر ژوند کوي او دا عملیه به همدارنګه جاري وي، یوله بل سره به اړیکې نیسي، راکړه ورکړه به کوي او د یوبل له حال احوال څخه به ځان خبروي چې دا ټول د اړیکو په وسیله شوني دي چې را منځ ته او ترې ګټه پورته کړي.

دایو څرګند حقیقت دی، په کلام الله مجید کې یوه ثابته خبره ده او د پوهې خاوندان ټول پر دې بڼه پوهیږي کله چې انساني ژوند له یوازیتوب څخه ټولنیز او ډله ییز ژوند ته ګام پورته کړ نو لاره یې وموندده او دا ښکاره خبره ده چې د دوی اړتیاوې او غوښتنې هم زیاتې شوې او د خپلو غوښتنو او اړتیاوو د پوره کولو له پاره یې هرې خوا ته مخه کړه، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې ژوندانه ته دوام ورکړ چې د خپل ژوند اړتیاوې په ښه او سمه توګه پوره کړي .

انسانانو د خپلو ستونزو لرې کولو په موخه له نورو انسانانو سره دګډ ژوند اړتیا درک کړه چې د دې اړتیاوو د پوره کولو، دمالوماتو او اطلاعاتو د لاس ته راوړلو له پاره د اړیکې ماهرینو هم اړیکې(ارتباطات) او یا هم (Communication) دمعرفي کولو له پاره بیلا بیل تعریفونه کړي دي چې دلته یې یا دونه اړینه ده.

ایرانی تکړه خبریال او د خبریالي څانګې وتلی ښوونکی ډاکتر مهدي حسن وایي (هر هغه عمل چې د هغه پر مټ احساسات او خیالات له یو وګړي څخه بل ته ولیږدیږي اړیکې (ابلاغ)بلل کیږي).

د یوه وګړي جذبات، احساسات، اطلاعات، مالومات او نظریات، د لفظ، علامو او اشارو په وسیله اړیکې یا ابلاغ بلل کیږي.[16]

پوهاند شفیق جالندهري وایي: (زموږ د خیالونو، سوچونو، احساساتو او تصوراتو لیږد بل وګړي یا ډلې ته چې د هغه علم او مالومات اضافه کړي اړیکې بلل کیږي).

جارلس کولي وایي: (هر هغه طریقه چې د هغې په وسیله اړیکې ټینګیږي او دوام پیدا کوي اړیکې(ابلاع)بلل کیږي).

داکسفورډ په ډکشنري کې د اړیکې یا اړیکو په هکله راغلي: (هغه عمل یا کار چې د هغه په وسیله زموږ خیالونه، احساسات او نظریات څرګندیږي او نورو خلکو ته رسیږي (اړیکې)بلل کیږي.

جارج اي مولر پخپل اثر (Mass communication) کې د اړیکو په اړه وایي، اطلاعات، مالومات یا پیغام له یوځای څخه بل ځای لیږدولو ته اړیکې، یا(ابلاغ)وایي.

د لاهور پوهنتون پروفیسور اقبال نجم د اړیکو په هکله وایي هر هغه څه چې د اطلاعاتو، جذباتو او احساساتو له مخې منځ ته راشي اړیکې بلل کیږي .

---

14 بینګر اتولر، اقناعی اړیکی ، ژباړن علي رستمی
15 داستاد خان محمد لکچرنوټ د خوست پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د خبریالي د څانګې استاد
16 داستاد خان محمد لکچرنوټ د خوست پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د خبریالي د څانګې استاد

د اړیکو پوهان د اړیکو په هکله وایي هر هغه پیغام، اشاره یا مالومات د خبرو، قلم، یاکنایو له لارې چې مقابل لوری پرې پوه شي او په خپل منځ کې یې سره تبادله کړي، له اړیکو(ارتباط) څخه عبارت دی.

له پورتنیو تعریفونو څخه په ډاګه ښکاري، هر هغه څه چې دژبې، علامو، اشارو او یا لیکنې په مرسته له یوې سر چینې څخه بلې سرچینې ته رسول کیږي اړیکې بلل کیږي.

ټول خبریالان پر دې هم باید پوه شي چې د اړیکو ټینګول د غږ، اشارو، علامو(نښو ) او لیکنې په وسیله شوني دي. د خبریالي ماهرینو د اړیکې (ارتباط) نیولوله پاره مختلفې وسیلې یا لارې چارې په ګوته کړي چې د هغو په هکله باید مالومات ولرو.

**د اړیکو(ارتباطاتو) نیولو وسیلې :**

دا یوه ښکاره خبره ده چې اړیکې د آندونو، احساساتو، جذباتو، ګروهو، مالوماتو او اطلاعاتو له راکړې ورکړې او اظهارولو څخه عبارت دي نو په دې صورت کې څلورو مهمو وسیلو ته اړتیا ده اود دې وسیلو پرمټ کولی شو چې یادې شوې موخې لاس ته راوړو.

داړیکې نیولو له پاره څلور مهمې وسیلې دي(ژبه، اشاره، علامه، څېره یا شکل).

د دې له پاره چې د خبریالي مینه وال ښه پرې وپوهیږي دلته به دا وسیلې په تفصیل سره تر بحث لاندې ونیسو.

**عامه اړیکې هم پر دوو برخو وېشل شوي دي:**

**وړې ډله ییزې اړیکې.**

**ډیرې ډله ییزې اړیکې.**

**۱: وړې ډله ییزې اړیکې:** دا ډول اړیکې هغو وړو ډله ییزو اړیکو ته ویل کیږي چې د مخاطبینو شمېره یې کم وي او شمېر یې په اسانۍ سره مالومېدی شي. سرچېنه او یا هم هغه څوک چې وینا کوي نیغ په نیغه یې پیغام رسیږي. د دې ډول اړیکو یو ښه صفت دادی چې پیغام اورېدونکی د پیغام په اورېدو سره سمدستي د منلو او یا نه منلو لامل ښودلی شي، لکه په ټولګي کې ښونکی، ښوونه او یا هم په بیلا بیلو غونډو کې د ویناوالو اورېدونکي چې مخامخ خپل سوچ او آند، مالومات، اطلاعات او عقاید یو بل ته رسوي.

**۲: ډیرې ډله ییزې اړیکې ، کثیر الګروهي ( ارتباطات ):** دا هغه ډول اړیکې دي چې د پیغام اخېستونکو شمېره په ښکاره ډول لوړه وي، په بشپړه توګه د پیغام اخستونکو شمیرې مالومول ستونزمن کار وي.

د پیغام دغبرګون مالومول هم ډیر سخت کار دی او د پیغام خپرولو له پاره یوې ډله ییزې رسنۍ ته اړتیا وي ( راډیو، چاپي خپروني، تلویزون، انټرنېټ، فلم، سینما) او داسې نورو... وسیلو څخه استفاده کیږي، د دغه ډول پیغام خپرول له ډله ایزې رسنۍ پرته ناشوني وي، په دې ډول اړیکو کې ډېرې خلک او سیمه تر خپل تاثیر لاندې نیول کیږي، خو دپیغام په مقابل کې د پیغام د اخېستونکو غبرګون ژر نه مالومیږي.

مخکې تردې چې د خبریالي پر مالوماتي ژانرونو لکه خبر، مرکه، رپوټ او همداشان، نورو ځینې مهمو مسئلو بحث وکړو، ښه به وي چې د خبریالي په اصولو هم څه ناڅه ځان و پوهوو.

ښه به دا وي چې د خبر يالي له اخلاقوڅخه مخکې څه ناڅه د خبريالي په قانوني مسئلو خبرې وکړو چې د اخلاقو او قانون تر منځ چې کوم توپيرونه شته په سمه توګه وپيژنو او د اخلاقو او قانون تر منځ په ګډو مسئلو هم څه ناڅه فکر وکړو او په خپلو ورځنيو ژورناليستيکي چارو کې يې عملي او په پام کې يې ونيسو، نو راځئ چې لومړی يې د حقوقو پر تعريف يا پيژندګلوئ پيل کړو :[17]

**دريم بحث د حقوقو تعريف:**[18]

پر غالب ګمان  د يوې ځانګړې ټولنېزې موضوع له پاره يوه جامع، مانا لرونکي او منطقي  تعريف وړاندې کول څه آسانه کار نه دی، خو د حقوقو له پاره زياتو حقوق پوهانو دغه تعريف کارولی دی:

حقوق عبارت د هغو عامو قواعدو له ټولګې څخه دي، چې لازمي او کلي وي چې د يوه نسبي نظم اوا منيت د راوستلو په خاطر په يوه ټولنه کې د دولت لخوا حاکم او تطبيقېږي.

د خلکو د اړيکو د تنظيم په خاطر همدغه حقوق دي چې په ټولنه کې د يو بل پر وړاندې د هر يوه حقونه ور پيژني او حق ته ښه توان او طاقت ورکوي.

دې توانايي او طاقت ته قانون وايي چې ټولګه(مجموعه) يې حقوق دي او همدغه ته د فرد حقوق هم وايي لکه د ژوند حق، د ملکيت حق، د شغل د آزادئ حق او داسې نور ... .

**د حقوقي قواعدو ځانګړتياوې :**

**۱ - عام او کلي والی:**

د حقوقي قواعدو ليد لوری يوازې ځانګړو خلکو ته نه دی متوجه، بلکې په عمومي ډول د ټولنې ټولو افرادو ته وضع کيږي  .

**۲ - لازم والی :**

د حقوقو بنسټيزې موخې لاس ته راوړلو يانې د نسبي عدالت را منځ ته کول او د ټولنې نظم ساتل او په زور او جبر د دغو قواعدو تطبيق، داسې يو واقعيت دی چې څوک ترې سر غړونه نه شي کولی، چې د لازم والي درجې يې يو له بل سره توپير لري چې پر همدغه دليل حقوقي قواعد پر امري، تکميلي او يا هم تفسيري قواعدو ويشل کيږي .

**۳ - ټولنېز والی :**

د حقوقي قواعدو يوازينۍ موخه په ټولنه کې نظم دی، چې دغه قوانين ټولنېز نظم ته پاملرنه کوي، لکه د انسان د روح پاکي او سلامتي د همدغو قواعدو د پاملرنې وړ ګرځي. په حقيقت کې د حق ډير ساده مفهومونه يوازې په ټولنه کې ښه بريښي.

---

17 پوهيالی محمدخان نيازی لکچر نوټ

18 د حقوقو،ترمينولوژی درسنيو جرامونه

**4 ـ د اجرا او تطبيق ضمانت:**

د قانون تطبيق د هغه د لازم والي يو خاصيت او ځانګړتيا ده او د لزوم په ترڅ کې د قانون تطبيق نور هم پياوړی کيږي . که چېرې قانون تطبيق نه شي نو د قانون لازم والى بيا تر پوښتني لاندې راځي او د لازم والي ځانګړتيا به يې بې ګټې او په عين حال کې بې مفهومه اوبې مانا وي .

د حقوقي قواعدو تطبيق او د هغولازم والى بيلابيلې درجې لري، کېدی شي د قانون تطبيق د ټولنيزو کشمکشونو د سختې اوبدې جزا لامل وګرځي، او له قانون څخه سر غړونکي ته د سرغړوني او جرم په اندازه سزا ورکول کيږي .[19]

**اخلاق څه شي دي ؟**

اصلي موضوع ته تر داخليدو چې د ( خبريالي اخلاق ) دي اړينه ده چې په عمومي ډول د اخلاقو تعريف وکړو ، چې د همدغه تعريف تر سيوري لاندې په سمه توګه وکولی شو د خبريالي اخلاقو ته چې زموږ موخه دي موضوع ته دوام ورکړو .

د اخلاقوپه اړه د هرې موضوع په پرتله ډيرې بيځايه خبرې ليکل شوي او ويل شوي دي . دغه بحث خاص د هغو کسانو په اړه دی چې کارنه کوي او مسووليت هم نه لري ځکه چې ډېر امکان لري دا موضوع پر هغو کسانو بريد وي چې په رسنيو کې کار کوي. د اخلاقو د ملاتړو په منځ کې هغه موسسي هم شته چې حکم کوي په هغو دولتونو کې چې مخ پر ودې يا په بل عبارت هغه هيوادونه چې واک يې د خلکو وي يانې هلته ولسواکي وي.

داچې د اخلاقو تړون څه شی دی او څه بايد وي دوه بيل شيان يا څيزونه دي. خبريالان د نورو ټولو کارونو يا شغلونو د څښتنانو څخه ډير د اخلاقي بحثونو يا موضوع ګانو په درشل کې دي او د يوه ټوليز بحث له مخې کارکوي . اخلاق د فلسفي يوه برخه يا څانګه ده چې کوښښ کوي ښه ارزښتونه او ښه نيت تاييد او وهڅوي چې، دا ټول د نامطلوبو رفتارونو، روحيو او خبيثه کړنو يا خباثت سره د مخالفت مانا دي او يا په بل عبارت د اخلاقو علم د خير، شر، نيکی او بدی په اړه بحث کوي او ښيي چې انسانان بايد له يو بل سره څنګه چال چلند وکړي او هم دهغو ګټه، موخه او چلند ښيي چې له کومې لارې سعادت او نيکمرغی ته رسيږي، په دې کې شک نشته چې د هر ملت او ټولنې اخلاق د هستی لومړنی پايه ده.

د پوهانو او فيلسوفانو په آند اخلاق د ټولنې له وګړو ياغړوڅخه هر وګړي ته واجب او اړين دي چې وکولی شي ځانته او خپلې ټولنې ته ګټور تمام شي، ځکه هغه ډول چې، دروغ، حسد او ريا د يو چا شخصيت ته زيان رسوي او هغه فاسدوي او له منځه يې وړي همدارنګه، په هغه ټولنه کې چې د وګړو ترمينځ يې دغه ډول نامطلوب صفتونه موجود وي فاسده او ناتوانه بلل کيږي . نو ځکه خو لومړنی شي يا څيز چې د فيلسوفانو، قانون جوړونکو او ټولو هغو کسانو پام يې ځانته اړولی چې غواړي بشري ټولنه د سعادت او نيکمرغي لورته پر حرکت راولي. اخلاقي فضايلو ته د خلکو بلنه او پرهيز له نامطلوبه اخلاقو څخه ده . دا ځکه چې فاضله او منل شوي اخلاق د هرې سالمې ټولنې بنسټ ګڼل کيږي ، نو له همدې امله ده چې د خدای ټولو پيغمبرانو رسالت ډير زيات اخلاقو ته پر ترغيب او هڅونه تينګارکوي، داځکه چې حسنه اخلاق باعث کيږي چې د دنيا او آخرت ټول نعمتونه را په برخه شي.

د پورتنيو مطالبونو په پام کې نيولو سره کولی شو اخلاق په لاندې ډول تعريف کړو .

---

[19] د رسنيو په هکله قانوني مالومات - استاد مژګان مصطفوي - پانه ۱۴-۸۱-۲۰

اخلاق یو له هغو انساني علومو څخه پیژندل کېږي چې انساني اراده، کړه وړه یا عمل تر څېړنې لاندې نیسي چې دغه عمل کول یا کړه وړه د مالومو اصولو د په پام کې نیولو سره وکولی شي صحیح یا غلط ثابت شي .

**اخلاقي اصول څېرته موندلی شو ؟**

څه شی اخلاقي اصول ګڼل کېږي او هغه څه شی اخلاقي اصول نه ګڼل کېږي ، مالومه نه ده؟ همدا دخلکو او کار پوهانو اصلي ستونزه ده.

پوښتنه داده چې هغه ارزښتمند نورمونه چې د اصولو پربنسټ ولاړ وي او د زماني له ازمایښتونو څخه سلامت تیر شوي وي، چېرې پیدا کولی شو؟

په حقیقت کې نورمونه یوازې د انسان د ینته او ځیني بهر دي، چې دلته موږ د خبریالي له پلوه کېدی شي څو ډوله اخلاقو ته اشاره وکړو، په ټولیزه توګه موږ کولی شو اخلاقي اصول په ټولنه کې پر څلورو برخو وویشو:

۱ **. ځېلواک اخلاقي اصول:** یانې هغه اصول چې له یوه شخص یا منبع نه بل ته سرایت نه کوي، یانې هغه اصول چې ځیني وګړي یې د ځان له پاره وضع کوي او د اخلاقي پرنسیپونو په توګه یې پرځان تطبیقوي، پرته له هغه چې د کوم چا تقلید یې کړی وي او یا د بل چا له لوري ورباندې تپل شوي وي.

۲ **. پر چا پورې تړلي اخلاقي اصول :** یانې هغه اصول چې شخص یې له ځان پرته له بلې مرجع اخلي او پر ځان یې تطبیقوي لکه:( ټولنه، اداره، سازمان، ګوند ... ).

۳ **. الهي اخلاقي اصول:** یانې دا چې ومنو الهي اخلاقي قانون ټل د انسان د حال شامل دی.

نو ځکه خو پوښتنه طرح کېږي چې د لوي خدای(ج)غوښتنه څه ده؟

اخلاقي فضایل چې قرآن کریم یې امر کړی وي هماغه منل شوي اخلاق دي چې، فیلسوفان او پوهان د هغو پر حقانیت اتفاقي نظر لري چې که خلک هغه رعایت او عملي کړي، نړۍ به له سترو لانجو خلاصه او دا به لوی خیر او برکت وي.

اخلاقي رذایل او نامطلوبه اخلاق چې قرآن کریم خلک له هغو څخه منع کړي دي، هماغه صفتونه دي چې د خلکو تر منځ د دښمنۍ، عداوت ، بغض، کینې او فساد باعث ګرځي، او هیڅ مخلص او خیرغوښتونکی انسان ټولنې او دهغې وګړو ته د هغو په زیان کې شک نه لري.

**۴. نړیوال اخلاقي اصول:** نړیوال اخلاقي اصول هغو اخلاقي اصولو ته ویل کېږي چې، په ټولو ملتونو او هیوادونو کې یو شان وي او د نړۍ ټول خبریالان د هغو درناوی کوي او ټول یې په یوه کچه د مراعاتولو هڅې کوي، دا ډول اخلاق په نړۍ کې د خبریالي بیلا بیلو ټولنو له خوا جوړیږي او پرې پوهېدل د نړۍ ټولو خبریالانو له پاره اړین دي.

**د اخلاقو او قانون تر منځ توپیر:** [20]

ځیني خلک تعجب کوي چې ولې له اخلاقي مسایلو څخه سرغړونه کېږي او عاملین یې څوک سرغړونکي نه ګڼي، نو ځکه خو له پلټنې، نیوکې، جریمې او بند سزا نه ورکول کېږي .

[20] نصر الله ستانکزی،دافغانستان د ټولیزو رسنیو حقوق

**ځواب .**

ډېر عملونه د ځېړنې، بیا کتنې، مالومونې، درغلي، ناروا او غیرقانوني هم نه دي. خو د لیدنې له اړخه تعریف شوي کارونه خلاف بلل کېږي او هم د قانون له اړخه تعریف شوي وي او د جنایي جرمونو تر سرلیک لاندې لکه: وژنه، غلا، جیب وهنه او نور په روښانه ډول یادېږي . ځینې نور خلاف کارونه چې ټولنې ته زیان لري او نور غیر یوزې کارونه هم شته چې د قانون په واسطه ټاکل شوي دي، اوقانون پوهانود لایحو په تصویب سره ټول روښانه کړي دي او محکمې هم چې مرکب له منصفه هیئت او قاضیانو څخه دي، په هغه برخه کې قطعي پریکړه کوي چې اشخاص ور کې ښکېل وي او له مجرمینو څخه زیانمنو ته غرامات اخلي.

داخلاقو خلاف یوه مسله د ټولنېزو خاصیتونو له اړخه تعریفیږي ، خو دا مانا نه لري چې قانوني نورمونه یې تر پښو لاندې کړي دي په داسې حال کې چې کولی شو په څرګنده توګه شخص مجازات کړو. د بیلګې په توګه که ګاونډی مو له تاسې څخه مخ اړوي او په بې ادبۍ او بې لحاظۍ در سره چلندکوي او ښایي ستاسې احساساتو ته صدمه ورسوي خوکېدی شي دا ستاسې خپله مسله وي او تاسې به هیڅکله د دعوې اقامې حق ونه لرئ، او که له بله اړخه ګاونډی مو د یوه لیک په واسطه ستاسې چلند وغندي او د داسې خلاف کار تور دربانديږ ولګوي، چې هغه مو هیڅ کله نه وي ترسره کړی تاسې کولی شئ له هغه ګاونډي څخه شکایت وکړئ. که له حقوقي پلوه مو دعوه وګټله کولی شئ د زیان د جبران دعوه هم وکړئ.

داسې مشحص کارونه شته چې د ټولیزو اړیکو وسایلو ته غیر قانوني ګڼل کیږي، لکه د سند موندلو په موخه په جعلي نوم قانوني ادارو ته ننوتل او یا هم د خلکو په خپل منځي موضوعاتوکې داخلیدل او داسې نور ...

خوځینې نور شیان شته چې له قانوني پلوه ستونزې نه لري خو له اخلاقي اړخه ستونزې جوړوي لکه یوې سرچینې ته د مرکې له پاره پر ټاکلي وخت نه رسیدنه یاني ناوخته ورتګ، له مرکه کېدونکي سره ناوړه چلند او د پرله پسې پوښتنو طرح کول او ځوابونو ته نه پاملرنه او هم شخصي مخالفتونو ته لمن وهل چې له هغه سره یې لري او داسې نور او یا په بل عبارت که اړونده اخلاق د تکلیف له پاره وي چې یوکس یې په ځان تحمیلوي په قانون کې د مقرراتو او قاعدو خاص لازم ټکي شته چې باید رعایت شي ډیرې د ا قاعدې د اخلاقي معیارونو پر بنسټ جوړې شوې دي .

داسې هم احساسیږي چې اخلاقي موضوع د ټولیزو اړیکو په وسایلو کې ډیره پراخه ده او داسې نه ښکاري چې وکولی شو هغه په خاصو بابونو کې طبقه بندي یا چوکاټ کړو . د بیلګې په توګه هیڅ داسې جامع او ستندرد مقررات، قانونونه او اخلاقي ترتیبات نه شته چې د ټولیزو اړیکو ټولو وساېلوته د عملي کولو وړ وي او یو خبریال ترې منع وي چې باید د هغه په اړه خبرې ونه کړي .

یو چا ته چې د خبرتیاوو او اطلاعاتو د جلبولو ورځپاڼې ته کار کوي یوه مکمله شخصي موضوع ده. دغه ټکی په حقیقت کې اخلاقي موضوع ده چې د ټولیزه اړیکو وسایلو، د سازمانونو اړونده اړیکتیایي وسایلو او معیارونو څخه یا شخص ته لکه د صداقت، ربښتینولي، امانت داري او کړنو سره پیوند ورکوي. یو شمېر نور عقیده لري چې د اخلاقو موضوع په حقیقت کې یوه مجموعه او د ویش وړ نه ده چې هغه باید ټول، راډیوتلویزیوني سازمانونه، شبکې، ځنځیره یې خپرونې، ورځپاڼې په پام کې و نیسي او باید په دقت سره یې پیروي وکړي.

## د خبريالي اخلاق څه دي ؟[21]

ځيني خبريالان وايي، اخلاق د قانوني مادوله رويته نا ليکلي دي چې بايد د رسنيو ټول کارکوونکي يې رعايت کړي او يا يې که لږ تر لږه نه رعايتوي له ځانه سره د شرم احساس وکړي، د هغو نورو په پرتله چې په خپله دنده کې يې ډير زيار ګاللی او اخلاق يې رعايت کړي دي.

د خبريالي اخلاق پردې پورې اړه لري چې خبريال په کومه ورځ پاڼه او راډيو تلويزيون کې کارکوي، لوستونکي او اوريدونکي يې څوک دي؟ فرق کوي.

دا په ټوله مانا پر رسنۍ او د حقوقو او مزد واکمن فرهنګ پورې تړاو لري چې خبريال يې اخلاق رعايت کړي .

کله چې خبريال کم حقوق ترلاسه کړي کېدی شي ټولې مرستې او انعامونه ومني يا د آزاد کار په لټه کې شي، چې همدا مسله ځيني وخت خبريال د خبريالي له اصولي لارې بيلارې کوي.

**بيلګه :**

کېدی شي دغه خبريال د فلمونو له پاره تبليغاتي متنونه وليکي چې ډېره ګټه وکړي. اوس که د ده حقوق کافي وي ډيرې سختې موضوګاني نيسي او تقريبا هرکارته چمتووالی لري . خوداسې ځانګړي حالتونه هم شته دبيلګې په توګه، خبريال ډير حقوق اخلي خو ويريږي چې خپل کاري موقعيت له لاسه ورنه کړي پر همدې دليل د خپل کاري موقف د ساتنې له پاره له هيڅ کار څخه مخ نه اړوي، خو د يوې قاعدې په توګه که د خبريال ټولې اړتياوې پوره وي تر ډيره به د اخلاقي اصولو د ساتنې له پاره چمتووالی ولري. همدارنګه، د سيالي(رقابت) عامل هم يو له مهمو عواملو څخه دی، د سيالي فشار هم د رسنيو په منځ کې د اوريدونکو د پيدا کولو له پاره مسوول مديران دې ته اړباسي چې پرخبريالانو فشار راوړي چې، همدا موضوع د هغوي اخلاقي اړخونه کمزوري کوي. همدارنګه، په کاري ساحه کې سيالي خبريالان هغو کارو ته هڅوي چې غيررقابتي موضوع ته لاس نه ور وړي.

که اخلاق رواني او روحي امر وبولو د خبريال روح په هغه اندازه اخلاقي دی چې هماغه اخلاق د کار په ساحه کې دود دي او عمومي فرهنګ اجازه ورکوي. د خبريالي د همدې اخلاقي معيارونو پر بنسټ هم قانوني کول قالبول دي او هم يو بې ربطه پند د سټنډردو کړو وړو په اړه نه دی تامين شوي. په هرحال د دواړو مواردو انتخابول کوم ارزښت نه لري .[22]

په ورځپاڼه ليکنه کې بايد هېر شي چې څوک باتقوا دی بلکې بايد په دې اړه فکر وشي چې اخلاق څنګه تعريف کړو.

نه ښايي چې يوازې پراصولو فکر وشي بلکې هغه څه چې په عمل کې د ساتلو وړ وي پر هغو بايد فکر وشي . بايد دکارونو په لټه کې و اوسو چې زموږ دنده يا حرفه دومره کلکه او مستحکمه شي چې څوک ګوته ور ته ونه شي نيولی. غواړو هغه لاره وټاکو چې په هوښياري د خبريالي مسلک له ټولو ځانګړتياوو سره غوره کړو. په عين حال کې خپل شهرت وساتو . ځکه هغه څه چې يوه خبريال ته اعتبار وربښي د خبريال شهرت دی، خبريال هيڅ وخت نه شي کولی له خپل نوم نه سترګې پټې کړي يايې له پامه وغورځوي. په هر حال خبري اخلاق د خبريال د اعتبار ځای نه شي نيولی او نه ور سره برابرېږي. اخلاق ورځپاڼه ليکونکي ته د ښودلو وړ ټکي دي.

---

21 منيژه ، باختری. په خبريالی کی اخلاق ا وحقوق

22 منيژه ، باختری. په خبريالی کی اخلاق ا وحقوق

رښتینولي، ناپیيلتوب او پرهیز بیا هغه کشمکشونه دي چې له ټولنېزو ګټو سره په ټکرکې دي. دغه ټکي په رسنیوکې ډیر ښه او محفوظ دي چې که رعایت شي پرته له دې چې خبریال څه روحیه ولري او کومې ورځپاڼې ته کار وکړي او مخاطب پیدا کړي کامیابي به يې په برخه وي .

په یوه آزاده ټولنه کې خبري اخلاق د رعایتولو وړ یو نالیکلی قرارداد دی چې د ورځپاڼه لیکونکي او مخاطب ترمنځ موجود وي.

په هره آزاده ټولنه کې هر خبر او رپوټ چې په ورځپاڼه کې خپرېږي د آزادانه موافقې نتیجه ده، پرته له سیاسي، سوداګري یا غیرسودګري کتنو (ملاحظاتو).

خبریال د خبر په جوړولو کې له مخاطبانو څخه پیسې نه اخلي او د هغو لیکنه او ډیزاین د دوي د خوښې په چاپیریال کې او د مخاطبینو له غوښتنې سره سم صورت نیسي. یا په بل عبارت: عدالت د دغو هلو ځلو پر بنسټ تامینیږي. په ټولیزو اړیکتیایي وسایلو کې له ډیر پخوا څخه خاصو افکارو ته عامه کتنه شوې او په اړه به يې بحث کېده، ځینې کره کتونکي اصلاً دا پوښتنه طرح کوي چې ټولیز اړیکتیایي وسایل د سیالي په دغه تاوده ډګر دبري پر لور څه ډول خپله لار پرانیزي؟

کولی شي په عین حال کې اخلاقي مسایل هم رعایت کړي خو ډیر له دې خبرې سره موافق نه دي خو اخلاقي مسایل يې د ټولیزو اړیکتیایي وسایلو له اړخه ناشوني نه دي بللي . په هر حال د ټولیزو اړیکتیایي وسایلو هیڅ وسیله نه شي کولی له عمومي اعتماد پرته ډیر وخت دوام وکړي.

لازم اعتماد، صداقت او امانت داري د یوې اړیکتیایي وسیلې جوړول د عمومي اعتبار وړ ده که هر څومره ملیونونه خلک په مختلفو شیوو د اړیکو په برخه کې کارکوي خو د خبریالانو کاري ماهیت افکارو او عقایدو ته د شکل ورکولو له اړخه پیاوړی اوځانګړی دریځ لري . د ډیرو خلکو له نظره خبریالي یوازې مسلک یا حرفه نه ده بلکې یو رسالت او مسوولیت دی .

خبریالان له هر راز، خنډ پرته د اطلاعاتو چټک خپرولو حق غوښتونکي دي. مدیران او مبصرین د وینا آزادۍ غواړي. په حقیقت کې د خبریالانو عمل پورې تړاو لري . دا سمه خبره ده چې ټول باید د اطلاعاتو، عقایدو او د وینا له آزادۍ څخه برخه من وي. خبریالان دي چې په هغوتنګسیاوو کې چې د چارواکو له خوا ټاکل کېږي نیوکې مني، غالبا که وغواړي او یا ونه غواړي خپل ځان د وینا آزادۍ په لومړۍ کرښه کې مومي.

د عمومي مسَلو او اړونده حقیقتونو څار یو له هغو معیارونو څخه دی چې له مخې يې د خبریال مسلکي استعداد سنجول کېږي . د یوه خبریال رول په پلټلو، اقداماتوته په رسیدنه، د ترسره شوو کارونو ښوونه او له واک نه ناوړه استفادې څخه دي . د ناسم مدیریت او اداري فساد په اړه تحقیق د ده حق دی چې دا په خپله ځانګړی ارزښت لري . ځکه چې یو خو دتامین له لارې څخه دا امر مهم دی چې بې کفایتي او بدوالی ټول سیسټم ککړ نه کړي، په همدې دلیل هغه څوک چې د چارو واګې يې قبضه کړي هغه خبریالان دي چې د رسمي خبرونو د خپرولو او هم د اطلاعاتو او کارونو په برخه کې مسوولیت نه لري . په ځینو هیوادونو کې خبریالان دومره خطرناک شوي دي چې نږدې ده دغه مسلک له کړکیچ یا اړو دوړ سره مخامخ شي. رښتیني خبریالان په کرار کرار له دغه مسلک یا حرفې څخه لاس مینځي او استعداد لرونکي ځوانان دغه مسلک ته د راتګ اراده نه کوي . خبریالان په هغو ملکونو کې چې هلته ولسواکي نه وي او همدارنګه، د دغو رژیمونو چارواکی که په یوه نه یوه اړخ خفه کړي د هغو اقداماتو خطر احساسیږي چې باید تلافي يې کړي. له دې نه ها خوا ښايي دا ستونزه هم وي چې ډیرمسوول مدیران، د رسنیو

ريسان او يا هغه بنسټونه چې خبريالان کار ورته کوي همدا چې ځان په تنګسه کې ويني له د دې ډلې خبريالانو ملاتړ نه کوي ، د ځانګړو ضمانتونو مسلې يا له خبريالانو څخه ملاتړ وروسته له هغه اجرايي ضمانت پيدا کړ .

**دخبريالانو اخلاقي ارزښتونه د ټولنې د وګړو په توګه:**

دا چې مخکې مو وويل خبريالان د خلکويو جز يا برخه ده او خبري رسنۍ هم له خلکوڅخه جوړه شوې ده. هغوی د انسان په توګه د نړۍ په واټن او شکېدنه کې له مور سره سهيم دي.

د خبريالان شمېرکموالی سبب د هغوی له واقعي ځيرې څخه سرچينه اخلي، آن تر دې چې د خپروني پر چمتو او وړاندې کولو کې هم تر ډيره حده اغيز لري او يو خبريال بايد ورته په کلکه پاملرنه وکړي چې له خپلو معيارونو څخه بهر ونه وزي .

له دې ټولو سره سره لازمه ده چې اړيکه لږ تر لږه يوځای له ځارنې سره خبريالانو ته متوجه شي، پرته له دې چې د هغوی واک کم شوی وي ،همدغه دليل دی چې هرخبريال په داسې ډول عمل وکړي چې له اخلاقي پلوه ښه وي يانې اخلاقاً ښه وي . داپه دې مانا ده چې يو خبريال(نارينه يا ښځينه) بايد د کرامت څښتن وي يانې په طبيعت او خپلو عملونو کې ځلاند ه، پاک نفسه او صادق شخص وي. يانې يو شخص بايد د همدې ځانګړتياوو له مخې وسنجوي. ډېر خلک باور لري چې خبريالان په حقيقتونو مين دي او داسې ګڼي چې هغوی کولی شي ځانونه حقيقت ته رسوي او د خپلو لوستونکو، اوريدونکو او ليدونکو ته يې وړاندې کړي. د خبريال له خولې تل رښتيا راووزي، طبيعي ده چې خبريال بايد ژمن او غيرتي وي ځکه چې خبريالان پوهيږي چې اطلاعات د دې له پاره خلکو ته وړاندې کوي چې خلک وکولی شي د خبرتيا له مخې پريکړه وکړي. د دې له پاره چې خبريالان بايد همدا ډول وي او هغه کار چې کوي يې د حتمي کولو له لارې يې وکړي، ډېر زيات جرات او شهامت ته اړتيا لري. که خبريالان وغواړي هغه څه چې په دې نړۍ کې سم دي ويې کړي بايد زړور وي، هوسا ژوند دميراني او زړه ورتيا ښودلو په پرتله ډېر ساده او آسانه ده. خبريالان بايد د بشر ټولنې وګړوته ځان مسوول ځواب ويوونکي ګڼي او دا نړۍ خپل کور و بولي او خدمت يې وکړي. خبريال؛ هغه څوک چې له وړ دريځ څخه برخه من دي، هغه څوک دي چې موجودو واقعاتو په اړه پراخ ليد لري.

دغه راز، د خبريال د مالوماتو په مرسته د ټولنې وګړي کولی شي د پېښو په اړه سمه پريکړه وکړي. که د خبريال اطلاعات ناسم وي داخطر شته چې مخاطب هغه کارته يې وهڅوي چې خپلو يا د نورو ګټوته زيان ورسوي.

**د اخلاقو ډېر مهم تعريفونه کېدی شي چې پر دوو برخو وويشو:**[23]

**١ - توصيفي ياستاينيز تعريفونه.**

**٢- هنجاري تعريفونه.**

**د اخلاقو توصيفي تعريف:** هغو کړو وړو ته متوجه کېږي چې يو شخص يا يوه ډله هغه تر سره کوي يا يو چا په خپله خوښه هغه کړه وړه ځان ته ټاکلي وي .

**د اخلاقو هنجاري تعريف:** هغو کړنو ته متوجه کېږي چې په ټاکلو شرايطو کې د عقل خاوندانو هغه ترسره کړي وي .

[23] درسنيو حقوقی موضوعات محمد آفتاب عالم درسنيو حقوقی مشاور

اخلاق په ټولنه کې د قانون له سرچینو څخه شمیرل کیږي ، له یو بل سره د خلکو اړیکو او کړنو ته یو ځانګړی رنګ ورکوي. اخلاق په ټولو علومو او مسلکونو کې یو له ډیرو مهمو او بنسټیزو بحثونو څخه شمیرل کیږي . په خبریالي کې هم اخلاق د خبریال د مسلک سپڅلتیا ساتي او د هر کار پوه او پر خپل مسلک د ټینګ ولاړ خبریال شوق او علاقه ښیي. خبریالان د خلکو او مخاطبینو زړه ترهغو په لاس نه شي راوړلی ترڅو چې د خبریالي اخلاق و نه لري او له اخلاقو پرته د خپلې رسنۍ اعتبار په ټولنه کې نه شي لوړولی.[24]

**د حقوقي قواعدو توپیر له اخلاقي قواعدوسره:** [25]

د ځینو حقوق پوهانو په آند: قانون او اخلاقو له یوبل نه دي په ځانګړي توګه په هغو قوانینو کې چې هغه د مذهب پر بنسټ ولاړ وي لکه زموږ حقوقي نظام چې د اخلاقو او قانون ترمنځ ورکې هیڅ جدایي نه شته چې په حقیقت کې هر یو قانوني عمل یو اخلاقي عمل ګڼل کیږي .

په عین حال کې داسې ښکاري چې د اخلاقو او حقوقو ترمنځ به بیخي نږدې اړیکه وي، خو که د ماهیت له پلوه اخلاق او حقوق و ارزوو نو متوجه کیږو چې دا دواړه مقولې له ډیرو لورو له یو بل سره توپیر لري. چې په لاندې ډول سره به یې و ارزوو:

**۱ـ د دې دواړو مقولو په موخو کې توپیر:**

د اخلاقي قاعدو څخه موخه د نفس پاکي، د زړه پاکي او د یوې ښې ټولنې منځ ته راوړل، چې په حقیقت کې اخلاقي قواعد له ډیرو لویو موخو څخه تیریږي، په داسې حال کې چې د حقوقو د تعریف له مخې د حقوقو تطبیق یو نسبي عدالت، نظم او امنیت او په ټولنه کې د ثبات له پاره هڅې دي.

**۲ ـ د عمل د ډګر توپیر:**

اخلاقي قواعد د حقوقي قواعدو په پرتله ځو برابره پراخوالی لري، په داسې حال کې چې حقوقي قواعد د یوې ټولنې په کړنو او اړیکو کې رالنډ شوي دي، خو اخلاقي قواعد پر ټولنیز ژوند سربیره پر وګړي او د هغه پر باطن او وجدان پورې تړلي دي.

**۳ - په تطبیق او اجرا کې توپیر:**

هم اخلاقي قواعد الزامي دي او هم حقوقي قواعد، خو د تطبیق په ترڅ کې بیا یو له بل سره توپیر لري، ځکه که له حقوقي قواعدو څخه ځوک سر غړونه وکړي نو سزاورکول کیږي او حکومت به نافذه قوانین پرې تطبیقوي، ځکه همدا حکومت دی چې د قانون په تطبیق کې هر راز هڅې کوي چې په ټولنه کې نظم او امنیت راولي، خو د اخلاقو لازم والی د انسان په پاک او سپیڅلي وجدان پورې تړلی دی چې انسان ته د هغه ویښ او پاک وجدان حق نه ورکوي چې فاسد او بد کارونه تر سره کړي.

همداشان ویلی شو چې، قانون د ټولنې د ثباط او امنیت په خاطر اجرایي اړخ لري چې په زور او فشار سره پر خلکو تطبیقیږي او قانون جوړونکي خلک دې ته اړباسي چې له قانون څخه سر غړونه ونه کړي او د قانون اطاعت ته یې مجبوروي چې ناقانونه کارونه و نه کړي . د قانون خلاف عمل تر سره کول د سزا سبب ګرځي خو که چیرې ځوک یو غیر اخلاقي کار وکړي نو په ټولنه کې د هغه کس د بې باورۍ سبب ګرځي او خلک ور نه کرکه کوي،کومه سزا

24 وکیپدیا ګوګل مقاله یونس شکر خوا
25 درسنیو حقوقي موضوعات – محمد آفتاب عالم درسنیو حقوقي مشاور

نه ورکول کېږي  خو په ځینو وختونو کې بیا کېدی شي چې که یو غیراخلاقي کار تکرار شي نو بیا قاضي تأدیبي(ادبي) سزا ګاڼې ورکوي .

**د اخلاقو او حقوقو تر منځ اړیکې :**

د اخلاقواو حقوقو تر منځ اړیکې د ډیرو پخوانیو موضوعاتو او بحثونو له ډلې څخه شمیرل کېږي  چې د خلکو ذهنونه یې پوښلي دي، د اخلاقو او حقوقو ترمنځ په اړیکو کې حقوق پوهان هم یوه خوله نه دي .

که څه هم تر اوسه په افغانستان کې ټاکلي اصول او خلاق چې ټولې رسنۍ پرې عمل وکړي نه شته خو دخبریالانو بیلابیلو ټولنو خپل خپل اخلاقي اصول جوړکړي دي چې یو بل ته ډیر نږدې او ورته والی لري، چې زه هم دلته د هغوی یو څو اخلاقي اصولو یادونه کوم.

[26]خبریال په خپلو مسلکي دندو او چارو کې له توکمیز، مذهبي ، جنسي، قبیلوي  یا قومي، ژبني او کلتوري تبعیض څخه په کلکه ډډه وکړي اوځان ترې وساتي .

خبریال په خپلو مسلکي دندو او د حقیقتونو په ښکاره کولو کې له پوره دقت څخه کار اخلي له تحریف، بد نامولو، بیځایه تورونو، ګواښونو، افترأ، د آوازو خپرولو او په قصدي توګه د واقعیتونو او حقیقتونو له پټولو څخه په کلکه ځان ساتي .

خبریال د خلکو له پاره  مالوماتو او اطلاعاتو ته د لاس رسي یوه وسیله او باید هغوی ته بشپړ انځور وړاندې کړي. د ټولنې عیني واقعیتونو ته درناوی ولري او دا د خپلو ټولنېزو مسوولیتونو له ډلې څخه و بولي.

خبریال، د انسان عزت ساتل، په کلتور او عنعناتوکي تغییر را وستل او د نړۍ ټول منل شوي ارزښتونه د انساني کلتور د پیاوړتیا په خاطر د خپل مسلک یوه اخلاقي ځانګه بولي او ټولو ته ښه نیت لري .

خبریال، د جنګ له منځه وړل، د نفرت ورکول، د تاوتریخوالي له منځه وړل، د بې باورۍ او بې باورئ له منځه وړل، د فقر لهمنځه وړل او د ناپوهۍ او ټولو ټولنېزو ناروغیو په لهمنځه وړلوکې مسوولیت لري او په خپل مسلکي کارکې ورته پاملرنه کوي.

خبریال، ملي ګټې د رسنیو د نافذه قانون او د جزا قانون سم په پام کې نیسي .

خبریال، په خپله دنده او کارونو کې د تولې (توازن)، ناپېيلتوب او انصاف څخه کار اخلي او هغه مراعاتوي.

خبریال، د هر ډول زور زیاتي او فشار پر وړاندې د دولتي چارواکو له لوري سانسور نه مني او له ځان سانسوري څخه ډډه کوي.

خبریال، د هغو سرچېنو نومونه، نه افشاء کوي چې نه غواړي نوم یې افشاءشي او له ځان سره یې ساتي او له هغو مطالبو څخه چې موثق اسناد او سرچېنې نه لري ځان ساتي او همداشان، خبریال هغه څه چې ده ته امانت ورکړل شوي وي چې خپاره نه شي د دې له پاره نه خپروي چې   خپرول یې ملي ګټوته زیان رسوي .

خبریال، د خپرولو او یا نه خپرولو په خاطر له بډو اخستلو او تحفې اخستلو څخه په کلکه ډه ډه کوي .

---

26 د نی په افغانستان کې د خپلواکورسنیو د ملاتړ اداری – سفما –
د ژورنالیزم نړیوال مرکز او د پوهنتون د استادانو لخوا تصویب شوی د اخلاقو مادی

خبريال، د مرکې پر مهال له مرکه کوونکي سره ډېر په ادب چلندکوي او هيڅکله په پوزخند او مسخرو له چاسره چلند نه کوي.

له خبريال، څخه چې کله يوه تيروتنه کېږي  په ډېره بيړه يې د شته لارو چارو په وسيله بېرته اصلاح کوي.

خبريال، د وينا آزادئ څخه په استفادې سره نوروته سپکاوي، ښکنځل نه کوي اونه هم له دې لارې پرچا تور او تمت او افترأ نه پورې کوي .

خبريال، د نورو معنوي حقونو ته درناوی کوي او په ځانګړې توګه له ادبي غلا څخه ځان ساتي .

خبريال، د خلکو د خصوصي حريم درناوی کوي او د هغوي خصوصي اسرار نه افشاء کوي.

د رسنۍ پيژندګلوي بايد مالومداره وي او د رسنۍ له نوم او ارزښت څخه بده استفاده ونه شي.

رسنۍ د خپل ټولنېز مسووليت پر بنسټ په روزنيزو او ښوونيزو خپرونو لاس پورې کوي .

اعلانونه او پيغامونه بايد داسې خپاره شي چې په حقيقي طبيعت کې يې هيڅ شک او شبهه نه وي.

د هغو اخلاقي مسووليتونو په پام کې نيول چې د خبريالي په چارو کې مطرح وي هغه په خپله خبريال ته متوجه کېږي دغه اصول بايد دولت ته د مداخلې هيڅ لاره مساعده او برابره نه کړي.

**د خبر يالي نړيوال اخلاقي اصلونه :**[27]

**دغه اخلاقي اصلونه د لاندې سازمانونو لخوا تاکل شوي دي:**

د خبرياالانو نړيوال سازمان .

د خبرياالانو نړيوال فدراسيون .

د کاتوليکانو نړيواله اتحاديه .

د لاتينې امريکا خبرياالانو فدراسيون .

د لاتيني امريکا د مطبوعاتي کارکونکو فدراسيون .

د افريقا خبرياالانو فدراسيون .

د عربو خبرياالانو فدراسيون .

د آسيا خبرياالانو فدراسيون .

**لمړۍ ماده**

خلک حق لري چې هغوی ته کره او ريښتيني مالومات ورکړل شي .

---

27 د يونسکو د نړيوالي اداري د رسنيو اصول
د ملګرو ملتونو نړيوال منشور

**دوهمه ماده**

خبر يال بايد خپل ځان حقيقت ته وقف کړي .

**دريمه ماده**

خبريال بايد خپل ټولنيز مسووليت ته پاملرنه وکړي.

**څلورمه ماده**

خبريال بايد د دندې شرافت ته کلکه پاملرنه وکړي.

**پنځمه ماده**

خلکوته ونده ورکول او د هغوی ګډون .

**شپږمه ماده**

د شخصي حريم درناوی د پټو مالوماتو ساتل او د انسان په خصوصي حريم نه تېری.

**اوومه ماده**

د ټوليزو ګټو درناوی.

**آتمه ماده**

عامه او ټوليزو ارزښتونو او همداشان، فرهنګي ارزښتونو ته درناوی.

**نهمه ماده**

د جنګ له منځه وړل او هغه ټول زيانونه چې د انسان ژوند له خطر سره مخ کوي.

**لسمه ماده**

د نويو نړيوالو معيارونو له مخې د اطلاعاتو تنظيم.

**دوهم څپرکی**

**لمړی بحث خبر څه ته وايي؟**

کله داسي پوښتني پيداکېږي چې د هغو له پاره بشپړ او هر اړخيز ځوابونه پيدا کول ناشوني وي خو په مناسبو ټکو کې د هغې د يوه اړخ د ځواب له پاره ښايي يو څه ومونډل شي؛ خو نور اړخونه به يې بې ځوابه پاتې شي.

له هغو واقعيتونوڅخه خبر او رپوټ ورکول چې څو خبري ارزښتونه ولري او په اداره کې د يننه ( پر خبريال، مدير، اديتر او د خپروني پر سياست ) د اغيز لامل وګرځي او همداشان، په باندنيو هڅو کې يې(خلکو او اوريدونکو، روڼ آندو، د زورورو ډلو او مطبوعاتو په قوانينو او مقرراتو کې يې) ځای نيولی وي .

**خو ځیني نور بیا خبر داسې هم تعریفوي:**

هره هغه واقعه یا حادثه چې پېښه شوي ده، پېښه به شي او یا پېښېږي، یا نه ده پښه شوې، نه پېښږي او یا به پېښه نه شي.[28]

خو شرط به يې داوي چې:

**د خلکو پر ژوند پورې تړلې وي.**

**د خلکو پر ژوند باندې اغېز ولري.**

**او خلک د هغه محتوا یا منځپانګې ته په ارزښت قایل وي.**

**مثلاً:** د دولت مامورینو له پاره د کوپون ویش په درې جملو کې تکرار وو:

۱- د عامه اړتیاوو د پوره کولو له پاره به مامورینو ته کوپون وویشل شي.

۲- د عامه اړتیاوو د پوره کولو له پاره مامورینو ته کوپون ویشل کیږي.

۳- د عامه اړتیاوو د پوره کولو له پاره مامورینو ته دکوپون ویشل کېدل.

خبر هغې واقعې یا پېښې ځخه عبارت دی چې نوې، تازه او اکثرو خلکو ته په زړه پورې، نږدې او مهم وي. همداشان، حضرت علي کرم الله وجهُ وایي بهترین کلام هغه دی چې لنډ وي، د موضوع روښانتیا ښه دلیل وکړي او خلک خسته نه کړي.

**د محتوا له نظره د خبر ډولونه:**

په ټوله کې خبر دوه ډوله دی.

**الف- سخت خبر( ګرم خبر ):** هغه خبر ته ویل کېږي چې اغیز يې پر خلکو ډېر وي او د پوښش ساحه يې پراخه وي.

**ب- نرم خبر(خبرمعمولی) :** هغه خبر ته وایي چې د هغه اغیز پر خلکو لږ وي او د پوښښ ساحه يې هم کمه وي .

**دخبر شپږګوني عناصر:** څوک؟ څه وخت؟ څه؟ چېرته؟ ولې؟ څه ډول؟
یوښه خبر باید پورتني شپږ عناصر ولري یا له دغو شپږو عناصرو څخه د ډېرو ځواب ویونکې وي او باید دغو عناصرو ته داسې ځواب ورکړل شي چې مخاطب ټول ځوابونه په ډېره آسانه توګه پیداکړي.
**څوک؟:** د انسانانو، ځناورانو، سازمانونو او یا د هغه څه ښودونکی دی چې په پېښه کې شته یا ګډون لري او یا هم پېښه په یوه نه، یوه بڼه پر هغو پورې تړلې وي.

**څه وخت؟:** د پېښې د پېښېدو وخت ښيي.
**چېرته؟:** د پېښې د پېښېدو د ځای او همداشان د شاوخوا ځایونو واټنونه هم باید وښیي.

---

[28] بنسټیز او پر مختللی خبریالی
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنیو د ملاتړادارۍ درسي جزوه

**څه ؟:**چي پېښه جوړوي هغه و ښيي.
**ولې؟:** هغه څه و ښيي چي د پېښي د پېښېدو لامل شوی وي .
**څه ډول؟:** د يوې پېښي د پېښېدو د لاملونو او کېفيت ټاکونکی دی، با يد و وايو چي دغو ټولو عناصرو ته په ښه او روښانه ډول ځواب ورکول د خبر د وضاحت او ټول پوهې لامل ګرځي .

**د خبر جوړښت:**[29]

يو د پام وړ خبر د خپل اهميت په چوکات کې له دوو نه تر پنځو جملې لري.

په خبر کې لومړۍ جمله د خبرو د پيل (افتتاح) په نوم يادېږي.

په خبر کې هره جمله په يوې مسلې پورې تړلې وي.

د خبر جملې بايد لنډې او عام فهمه وي.

په خبرونو کې لوړ ارقام بايد په تقريبي ډول وويل شي. د حجم او مساحتونو ابعاد بايد عام فهمه او د اورېدونکو له پوهې سره برابر وويل شي. په خبرونوکې هيڅکله بايد د نقل وړلو ځيني استفاده ونه شي او که چيرې د يوې مهمي موضوع د اثبات له پاره نقل قول مهم و ټاکل شي بايد د همغه شخص نوم چي دا وينا يې کړې ده ياد کړی شي.

دا به پرېږدو چې خبر ته ولې خبر وايي، په پښتو او نورو ژبو کې له کومو وييونو ته ورته دی، نو يو څه به د ښه خبرليکنې په هکله وګړېږو.

پر دې خو پوهېږو چې، خبر هغه جمله ده چې ولې؟ څنګه؟ چېرته؟ او کله؟ ته له ځانه سره ځوابونه ولري. د بيلګې په توګه: نن سهار په وردګو ولايت کې د يوه پوهنتون د بنسټ ډبره کېښودل شوه، د وردګو ولايت د والي وياند جمشيد پر وينا دغه پوهنتون چې د ژورناليزم، حقوقو او انجنيري پوهنځي لري په درې جريبه ځمکه کې د لوړو زدکړو وزارت په مالي مرسته د يوې جاپاني کمپنۍ په واسطه په درې پوړيزه توګه په پاخه او اساسي ډول سره جوړېږي، د جمشيد پر وينا په دغه ولايت کې د يوه پوهنتون جوړېدو ته ډېره اړتيا وه، ځکه چې دلته تر اوسه کوم پوهنتون نه وو. دا يوه خبري جمله ده، ځکه:

- څه؟ د پوهنتون جوړونه.
- څنګه؟ په پاخه او اساسی ډول سره
- چېرته؟ په وردګو ولايت کې
- چا؟ د وردګو د والي وياند جمشيد
- ولې؟ ځکه چې پوهنتون نه وو
- کله؟ نن سهار

دغه خبر د خبريالي شپږو عناصرو ته چې د خبريالي په ټولو ژانرونو کې د ارزښت وړ دي، ځواب لري اوکه د خبر تعريف وګورو نو د خبريالي په اړينو عناصرو پوښلی دی او د لوستلو وړ خبر هم دی، ځکه چې د انسانانو له ژوندانه

29 پوهاند محمد کاظم آهنګ د خبر ليکلو بنستيز ليکدود

سره تړاو لري، بیا جوړونه پکې شته، تازه والی لري او هم دغه د پوهنتون جوړونه یو نیک کار دی د خلکو پر ژوند پورې تړاو لري. خو کله چې داسې خبر وي چې په هغه کې د خبر ښېړ توکي (ولې، چا، څنګه، چېرته، څه او کله) ځواب شوي وي، ولې ښه او د لوستو وړ خبر ورته نه شو ویلی. نو راځئ چې وګورو د ښه خبر د لوستلو او چاپ وړ خبر له پاره کوم توکي اړین دي؟

**په زړه پورې والی:** دا په دې مانا چې خلکو ته په زړه پورې وي او خلک ارزښت ورکړي .

**د خلکو پر ژوند پورې تړاو ولري:** دا په دې مانا چې د خلکو په ورځني ژوند کې د ارزښت وړ وي او د دوی ژوند ورځخه متأثره کېږي .

**نوی والی یا تازه والی:** خبر باید تل تازه وي هر نوی شی به مخاطبینو ته د ارزښت وړ وي.

**له جغرافیوي او معنوي لحاظه خلکو ته نږدېوالی:** هرخبر چې له جغرافیوي او معنويٍ پلوه ستاسې مخاطب ته نږدې والی ولري نو هغه د ارزښت وړ خبر وي، خبر له جغرافیوي پلوه په دې مانا چې واټن او فاصله یې هر څومره چې ستاسې مخاطبینو ته نږدې وي په همغه اندازه به د ډېر ارزښت وړ وي، د خبر معنوي اړخ بیا دا دی چې په هغه کې خلکو ته په ورځني ژوند کې د ارزښت وړ وي.

**ناعادیوالی:** خبر یو عادي څیز نه دی چې هر وخت موږ و غواړو پر همغه وخت باید واقع شي بلکې کېدی شي هره شیبه یوه پېښه را منځ ته شي او یا هم ښایي کلونه کلونه یوه پېښه را منځ ته نه شي.

**شهرت:** کله کله ښایي خبر د هغو کسانو په هکله ولیکل شي چې له هغو څخه یو عادي کار پیښ شوی وي که هغه له یوه داسې کس څخه چې مشهور نه وي را منځ ته شي شاید خبري ارزښت ونه لري، لکه د یوعادي کس که چېرته خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نو دا به یو رسنیز خبر نه وي او که چېرته د سینما یو ستوری خپلې ښځې ته طلاق ورکړی نو دا به بیا خبر وي .

**احساس:** ځیني وخت داسې پیښې چې په هغه کې انساني احساس پروت وي، ډېر د ارزښت وړ وي.

**شخړه:** په خبر کې چې هر څومره شخړې وي په همغه کچه د ارزښت وړ وي.

**اغیزمنتوب:** هر څومره چې یوه پیښه پر خلکو اغیزه ولري هغومره په ټولنه کې د اهیمت وړ ګرځي .

**تلوسه:** د یوې پیښې د خبریدو په هکله چې خلک هرڅومره تلوسه ولري په هماغه کچه د ارزښت وړ ګرځي ، د بیلګه په توګه د جمهوري ریاست د ټولټاکنو د پایلو اعلانول .

**بیساریتوب :** که یوه پیښه په یوه ټولنه کې د لومړي ځل له پاره پیښیږي نو د هغه ارزښت به د خلکو له پاره ډېر زیات وي .

**اهمیت:** هر هغه څه چې د خلکو په ژوند کې اهیمت و نه لري هغه ته موږ خبرنه شو ویلی .

[30]دا ټول هغه عناصر دي چې په موجودیت کې یې خبر د لوستلو او چاپولو وړ ګرځي چې په ټولو کې په زړه پورې والی، د خلکو له ژوند سره تړاو او تازه والی ډېر اړین او مهم دی. د بیلګې په توګه که ولیکو چې: تیره یکشنبې د

[30] پوهاند محمد کاظم آهنګ د خبر لیکلو بنستیز لیکدود

بیت المقدس د خوني د نیول کېدو تیاری د بیت المقدس د یوه ګاونډي هېواد له خوا د یوې میاشتې را په دې خوا نیول کېږي چې لا تراوسه دغه هیواد نه د ی په ګوته شوی.

په دې جمله کې هم د خبر له اړینو توکو څخه ډېرو ته ځواب شته، لکه: څه؟ د واتیکان (۵۰۰) عسکر، ولې؟ د یوې نښتې په ترڅ کې، څنګه؟ ژوندي د بیت المقدس نیول، کله؟ تېره یکشنبه، چا؟ د خپل یو ګاونډي هېواد له خوا.

خو دا چې دا خبر د هغه چا له پاره څه د اهمیت وړ دی او یا هم د هغه چا له پاره چې د بیت المقدس په هکله مالومات نه لري، خو دا چې پېښه تېره یکشنبه رامنځ ته شوې بیا هم خبر یې د وخت په لحاظ بې اهمیته دی، څرګنده شوه چې په دغه خبر کې د خبر توکي (ولې؟ چا؟ څنګه؟ چېرته؟ څه؟ او کله؟) شته، خو د ښه خبر توکي چې مهم یې تازه والی او دلچسپي ده، نشته نو ځکه خبر خپل اهمیت له لاسه ورکړی او د لوستوونکي او یا هم اورېدونکي پام ځانته نه شي اړولی او که ولیکو چې: نن سهار پر کرزي د نامعلومو کسانو له خوا برید وشو او ... یوازې د همدې سرلیك په لیدو هم ټول خلك دغه خبر لولي، ځکه د دغه خبر سرلیك پر داسې یوه موضوع کښل شوی چې خلك یې په اړه څه اورېدو سره دلچسپي لري، له دې ځایه راته جوته شوه چې د ښه خبر له پاره رښتیا هم د هغه توکي اړین دي. بله مهمه خبره دا ده چې، موږ چې کله خبر لیکو باید د خبر لیکلو پرمهال د خپلې رسنۍ ښه په پام کې ونیسو چې، نړیواله ده که سیمه ایزه؟ بیا په هماغه ډول خبرونه پکې ځای پر ځای شي چې خلك یې د لوستو تلوسه ولري، ځکه خبر د خوړو مثال لري او خواړه سړی هغه وخت په ښه شوق خوري، کله چې ورته وړ‌ی وي. اوس یوه بله خبره هم شته چې د خبر له پاره مهمه ده، هغه د خبر لیکلو طرز دی چې یو خبر باید په څه ډول ولیکل شي، تر څو لوستونکي هغه را واخلي او سر تر پایه یې ولولي، نو د دې له پاره چې زموږ اورېدونکي تر پایه غوږ ورته کېږدي، نو باید د خبر په لیکلو کې هم ځیني قاعدې مراعات شي چې هغه په دې ډول

**خبر په ټولیزه توګه له درې برخوڅخه جوړشوی دی** [31]:

**لید**

**بدنه یا بشپړونکي جملې**

**شالید یا پس منظر**

خو سره له پورتینو درې برخو څخه په خبر کې د خبرسر ټکي هم د ارزښت وړ دي.

**سرټکي:** سرټکي یا سرخط مکمله جمله نه وي یو عبارت وي چې په لنډو خبرونوکې ور څخه ګټه نه اخستل کېږي خو په متوسطو او اوږدو خبري ساعتونو کې چې له پنځو نه بیا تر اوو خبرونو ډېر وي، سرخط ور کې کارول کېږي . د خبرونو د ډېروالي په اندازه کېدی شي په خبري ساعتونو کې له درې سرټکو تر پنځو سرټکو پورې وي .

**د لید پېژند(تعریف) :** لید یوه انګریزي کلیمه ده چې له لیډر څخه اخستل شوې ده چې لیډر د رهبر (لارښود) مانا ورکوي او په خبریالي کې لید د لارښود په مانا پیژندل کېږي ، چې د خبر لمړۍ جملې ته لید ویل کېږي .

**دلید ځانګړتیاوې:**

لید باید یوه ساده جمله وې، دا په دې مانا چې یوه مبتدا او یو خبر ولري تر کېږي جمله نه وي.

---

31 بنستیزه او پر مختللي خبریالي
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنیو د ملاتړ اداري درسي جزوه

لکه دا یوه ساده جمله ده چې، په وردګو کې یو ښوونځی پرانستل شو.

او دا یوه ترکیبي جمله ده لکه : په وردګو کې یو ښوونځی په داسې حال کې پرانستل شو چې د پوهنې وزیر هم په دې پرانیسته کې ګډون در لود ، په دې جمله کې یو پیل او دوه خبره شته لکه د ښوونځي پرانستل او د پوهنې وزیر ګډون لید باید په فعل پای ته ورسیږي او پوره مفهوم و لري.

لید باید جذاب، لړزونکی، لنډ، روښانه او ساده وي.

لید په بریښنایي رسنیو کې که له پنځو تر ۱۸ کلیمو پورې دوام وکړئ، ښه به وي.

په چاپي رسنوکې کېدی شي تر ۲۵ کلیمو پورې هم دوام وکړئ. دا په دې مانا نه ده چې لید له دغو ټاکلو معیارونو اوږد نه شي ښایي له دې څخه هم اوږد وي خو هر څومره چې لنډ وي ښه به وي ، آوریدونکي، لیدونکي او یا هم لوستونکي ته به آسانه شي.

په لید کې د نوم له راوړلو ډډه وکړئ، خو که چېرته خپله نوم خبر جوړوي نو بیا اړتیا ورته شته چې نوم هم پکې راولو لکه : د صدام حسین وژونه چې، دلته مهمه خبره د صدام حسین وژنه ده نو موږ باید په لید کې د هغه نوم ولیکو .

په لید کې  د وخت له راوړلو څخه ډډه وکړئ . کېدی شي وروسته له لید څخه د بدنې په لمړی یا دوهمه جمله  کې وخت راوړل شي .

ستاسې لید د خبریالي له شپږو یا اوو پوښتنو څخه (څه ؟) ته حتما ځواب ورکوي  او تر څنګ یې لید باید یوې یا دوو نورو پوښتنو ته ځواب ورکړي، په دې مانا چې په لید کې ټولو پوښتنو ته ځواب نه ورکول کېږي .

کوښښ وکړئ چې په خبر کې مو لید پوښتنیز نه وي. لکه ( احمد چا وژلی دی ؟ ) . خو په تحلیلي او تحقیقي رپوټونو کې کېدی شي لید د پوښتني په بڼه هم راوړل شي لکه په پورتني بیلګه کې.

لید باید داسې جمله وي چې د مخاطب په ذهن کې ډېرې پوښتنې پیداکړي، چې خبر یا رپوټ سر تر پایه واوري.

د ګونګ مخاطب له نوم راوړلو څخه باید په لید کې ډډه وشي .
د شخص نوم او کورنی نوم یا تخلص په هغه صورت کې په لید کې راوړو چې مخاطب وکولی شي د هغه شخص مسوولیت اورول په خپل ذهن کې مجسم کړي،خو بیا هم تر وروستي بریده باید کوښښ وشي چې نوم رانه وړل شي. باید کوښښ وشي چې، په لید کې د خبر له شپږو عناصرو څخه یوازې دوو یا دریو ته ځواب ورکړو.

په لید کې باید مجهولې او ګونګې جملې را نه وړل شي.

د خبر مهمه جمله باید په لید کې راوړل شي.

**بدنه:** بدنه د خبر هغه برخه ده چې هغو پوښتنو ته ورکې ځواب ویل کېږي  چې په لید کې رامنځ ته شوې وې.

**د بدنې ځینې ځانګړتیاوې :**

بدنه با ید ټولو هغو پوښتنوته چې په لید کې ورته اشاره شوې وه  په ډېره روښانه او ښکاره بڼه ځواب و وایي.

په بدنه کې کولی شو چې له مرکبو جملو څخه هم ګټه واخلو، خو  په دغه شرط چې جملې ټولو ته د پوهې وړ او واضح وي چې مخاطب په پوره توګه ترې ګټه واخلي.

په بدنه او دغه راز، ټول خبر کې د دا ډول کلیمو لکه ( ویل کېږي ، هغه وایي او داسې نورو ... څخه په کلکه ډډه وشي.

په بدنه کې یو څه چې د خبر ارزښت زیاتوي هغه سرچېنه ده، اړینه ده چې د سر چېنې په هکله یو څه وواېو .[32]

**دوهم بحث د خبریالي  سرچېنې :**

د سرچېنې تعریف: سرچېنه عبارت له هغه حقوقي او حکمي شخص او یا هم له هغه ځای څخه ده چې خبریال ور څخه مالومات لاسته راوړي. که چېرته مو سرچېنه حقوقي یا حکمي شخص ؤ نو با ید لاندې دوه ځانګیرنې ولري:




پورتنی شکل په ښکاره ډول سره ښیي چې سرچېنه باید هم صلاحیت او هم مسوولیت ولري، خو ځینې سرچېنې بیا یوازې علمي صلاحیت لري لکه کار پوهان چې په ځینې علمي او تخصصي موضوع ګانو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي  او ژورنالیست ته په کار ده چې، د دا ډول سرچېنو په ټاکلو کې د زړه له کومې کوښښ وکړئ.

د خبریال له پاره دا ډیره ضروري خبره ده چې، خپلې سرچېنې په دقت سره وټاکئ اوس دلته مخکې له دې چې په شالید یانې د خبر پر وروستۍ برخه خبرې وکړئ، د بیلګې په توګه موږ د څو سرچېنو نومونه اخلو او دغه راز، د سرچېنې پر ارزښت به هم  په همدې جزوه کې بحث وکړو.

**په خبرکې د سرچېنې (منبع) ارزښت:**[33]

 په خبرلیکلوکې د سرچېنې یادول د خبر او ترلاسه شویو مالوماتو له ارزښت سره مرسته کوي او دکره او معتبرې سرچېنې یادول دخبریال ښه وړتیاښیي. تکړه خبریال ښې اړیکې لري او تل دکره او معتبرو سرچینو په لټه کې وي، ترڅنګ یې د کره والي لارې زده کوي اوپه عین حال کې منصف اوعادل وي. ښه خبریال هڅه کوي چې د خبر زاویه وټاکي لنډې، ساده اوروښانه جملې ولیکي، تل هڅه وکړي چې د اوریدونکي په څیر د خبر بیلابیل اړخونه سره وپیي، د خبر بشپړ جزیات ترلاسه کړي او تل د خلاقیت په لټه کې وي.

---

32 دویچیوله (آلمان) خبري سایت................... www.dwworld.de/dw/0,2142,641,00.html
33 رادیو ژورنالیزم لیزا آپتن آسترلیایی

د بیلګې په توګه کله چې د یوه ښوونځي په اړه خبر لیکي له مدیر او سرښوونکي سربیره ښوونکو، زده کوونکو او آن ملازمینوڅخه هم پوښتنې کوي ځکه ډیر ځله له داسي کسانو څخه مهم مالومات ترلاسه کېدی شي چې د عادي خلکو پام نه ورته کېږي چې همدغه کره مالومات د هر یوه له قوله په خبرکي یادولی شو.

ورځپاڼي، خبري آژانسونه، راډیوګانې او ټلویزیوني چېنلونه، د خبري سرچېنو په موندلوکي له خبریالانو سره مرسته کوي، دغه راز نن سبا وبپاڼي او نورې په زرګونو انترنیتي ځانګي د کره سرچېنو په موندلوکي مرسته کوي.

له بلې خوا خبریال باید د دایمي سرچېنو موندلو له پاره د خپل کار په ساحه کې د بیلابیلوحکومتي او غیرحکومتي دفترونو له مسوولینو اوکارکونکو سره وخت پر وخت اړیکي ولري او په یو ډول د هغوي د حال احوال پوښتنه کول د دې سبب ګرځي چې د اړتیا پر وخت بشپړ مالومات درکړي. هڅه وکړئ هره پیښه له دقیقې سرچېنې سره ذکر کړئ. سرچېنې باید مهمې وي یانې له لوړ پوړوچاروآکوڅخه یوه مسله تاییدکړئ ځکه په هغه صورت کې مو د خبر اعتبار زیاتیږي،که څه هم د ټیټې کچې له کارکوونکو سره اړیکه او له هغوی پوښتنه کول هم تاسي ته د هغې مسلې نوي اړخونه در په ګوته کوي .

کله چې د یوې سرچېنې (منبع) نوم په خپل خبر کې راولئ باید ډیر مو پام وي چې د هغه نوم او دنده د هغه په مشورې ذکرکړئ ځکه چې په دې کار سره به سرچېنه تل له تاسي سره مرسته وکړي نو اړینه ده چې، د راتلونکې په فکر کې هم وي، ځینې کسان نه غواړي چې په خبرکې یې نوم ذکر شي نو تاسي هم د هغه د نوم له اخیستلوډډه وکړئ، خودا هم په یاد و لرئ چې په خبرکې دا جمله لیکل(یوکس چې نه یې غوښتل نوم یې افشاء شي) د خبر ارزښت کموي، همدارنګه ډیرکسان یوه خبریال ته مالومات ورکوي خو نه غواړي چې یوه کلیمه یې هم خپره شي چې دغه ډول مالوماتو ته په انګیسي ژبه off the record خبرې وایي.

په خبرونوکې(رپوټونه وایي) (نه تایېدشوي رپوټونه ښیي )(ویل کېږي ) په شان جملو له لیکلو تر ډیره بریده ډډه وکړئ په دغه راز، حالاتوکې یوه کره سرچېنه پیداکړئ که هغه دغه مالومات تایید هم نه کړي د خبر ارزښت زیاتوي.

د یوې مسلې په اړه مالوماتو په ترلاسه کولوکې هڅه وکړئ چې لږ تر لږه دوه سرچېنې ورکې ذکرکړئ او مالومات چې ترلاسه کوئ هغه ولیکئ او یا یې د سرچینې په اجازه ثبت کړئ.

کله خو د یو چا غږ ثبتول هغه تر اغیزلاندې راولي او هغه څه چې تاسي یې غواړئ هسې خبرې نه شي کولی د دې کار له پاره تر هرڅه مخکې مقابل لوری دې ته وهڅوئ چې په ډاډه زړه مالومات درکړي او دا هم ورته ووایئ که یې کوم څه بیا نه غوښتل چې خپاره شي وروسته له خبرو یې هم ترې وباسئ.

کله چې د یو چا خبرې ثبتوئ له هغه سره پر یو وخت د هغه مهم ټکي و هم لیکئ ځکه په تخنیکي شیانو ډیر باور نه دی په کار که موټیپ کومه ستونزه پیدا کړي ټول مالومات به موله لاسه ورکړي وي .

یو خبریال باید هیڅکله ځان رخصت و نه بولي یانې که له رسمي وخت وروسته له کومې پیښې سره مخامخ کېږي سمدستي باید د هغه په اړه د مالوماتو راغونډولو په لټه کې شي، له سرچېنې سره د خبریال اړیکي باید د دواړو لورو د ګټوپربنسټ وي او هغه اوږد مهاله اړیکه وي .

په خبرکې باید هر څه په ډاګه کړئ او سپینه خبره وکړئ یانې که مالومات کره او دقیق نه وي په خبرکې مو هرومرو د هغې یادونه وکړئ ځکه په دې کار سره که خبر سم نه ؤ تاسي خو به خپله غاړه خلاصه کړې وي.

دغه راز، که د يوې پيښې په اړه دوه لوري بيلابيل مالومات درکړي تاسې دواړه په خبرکې راولئ او قضاوت خلکو ته پريږدئ او هيڅکله په خپله قضاوت مه کوئ، تل په سرچينې ليکلوسره لوستونکو او اوريدونکو ته دا پيغام ورسوئ چې ستاسې مالومات د باور وړ دي .

ډيرځله داسې هم وي چې د يوې پيښې په اړه له ډيرو هڅو وروسته هم ښه باوري مالومات نه شئ ترلاسه کولی په دغه صورت کې هرومرو جوته کړئ چې پر مالوماتو مو ډاډه نه ياست.

په خبر ليکلوکې دګونګو او عمومي سرچينو له يادولو ډډه وکړئ د بيلګې په توګه(حکومتي سرچينې وايي) د دې پرځاې و وايي (يوه حکومتي مقام وويل)، ياني تر ممکنه حده هڅه وکړئ داسې سرچينه ذکرکړئ چې واقعيت ته نږدې وي .

لنډه دا چې يو خبر هغه وخت ښه او د خلکو د منلو وړ وي چې معتبرې او کره سرچينې او يا په خپله د خبريال د سترګو ليدلی حال ورکې ذکرشوی وي.

**پسمنظر( شاليد ):**[34] د خبر درېيمه برخه جوړوي او د خبر هغې برخې ته ويل کيږي چې نوي خبر ته ورته يوه موضوع چې مخکې رامنځ ته شوې وي يا رامنځ ته به شي او يا هيڅ نه وي را منځ ته شوې.

**په خبر کې د پسمنظر ارزښت:** د پسمنظر ليکل په خبر کې سل په سلو کې ضروري نه دی خو که چېر ته د لاندې موخو په خاطر وليکل شي نو بيا ګټور دی.

**د شپږو موخو په خاطر:**

د خبر تسلسل له منځه ولاړ نه شي.

د خبر اړونده سرچينې مثبت او يا منفي لورو ته متوجه کوي.

خبر يا رپوټ ته نوره هم ښکلا ورکو او په زړه پورې کوي يې.

ټولنه د پېښو جريان ته متوجه کوي.

رسنۍ دېته اړ باسي چې خپل خبرونه آرشيف او د ضرورت پر وخت ګټه ترې واخستل شي.

پيښه د مالوماتو د ورکولو له اړخه نوره هم پياوړې کوي.

د خبر او رپوټ جوړولو له پاره يوې خبرخونې ته هم ډيره اړتيا ليدل کيږي چې خبريال وکولی شي په ښه توګه د خبر موضوع ګاني، سرچينې او په ښه توګه يو ښه خبر وليکي نو يوې داسې خونې ته چې په هغه کې د خبريالي ټول وسايل وي، اړتيا ليدل کيږي چې، دې خونې ته (نيوز روم) خبرخونه ويل کيږي نو ښه دا ده چې د خبر نور اړ خونه تر څيړنې لاندې ونيسو: لومړی به راشو او د نيوزروم په هکله به يوڅه مالومات تاسې ته وړاندې کړو.

34 بنسټيز او پر مختللي خبريالي
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنيو د ملاتړ اداري درسي جزوه

**د خبر لیکلو اصول[35] :**

د خبر بنسټیز مفهومونه عبارت دي له: رښتینوالی، روڼښت   او د خبر ټولیزتوب.

خبر باید رښتونی، بشپړ، ساده او د عامو خلکو پر ژبه او په لنډو جملو کې ولیکل شي.

خبر باید له ډېرو سختو او ذهن نه لرې عبارتونو خالي وي ځکه ژورنالیست د خلکو د پوهولو په خاطر خبر لیکي نو باید ډیر ساده او عام فهم وي.

خبر باید زیات اطلاعات په ډیر لنډ متن کې وړاندې کړي، چې هغه خلک چې له خبر سره ډیره علاقه لري په لږ وخت کې له هغه څخه ډیر څه واخلي.

خبر باید په داسې ډول سره ولیکل شي چې د هغه ټولې مهې برخې لکه (لید، بدنه او پسمنظر) یوله بل سره همغږې او تسلسل ولري.

خبر باید د مخاطب له هیلې سره برابر اطلاعات ولري.

نه ښایي چې په خبرونو کې جملې تکراري راوړل شي.

په خبر کې چې کله د اشخاصو نومونه راوړو نو مخاطب ته ډیره مهمه ده چې هغه ښه وپیژني، نو د مخاطب د ښې پیژند ګلوی په خاطر په ترتیب سره باید د هغه علمي رتبه، نوم او تخلص راوړل شي، د یادوني ده، چې که په راډیو او تلویزیون کې دا ټولې ځانګړتیاوې راوړل د خبر په سر او آخیر کې راوړل شي ښه به وي خو په چاپي رسنیو کې یوځل کفایت کوي .

په خبر کې د تعظمي صفتونو لکه (محترم ، آغا، جناب، جلالتمآب، درونډ، ګران، عالي قدر، د قدروړ، صاحب او داسي نورو...) څخه ډډه و شي.

د یوه ښه خبر لیکلو له پاره یوازې په خپله حافظه بسنه مه کوئ، ښه داده چې خبر له اوله بیا تر پایه له ځان سره ولیکئ البته هغه ډیرې مهمې برخې یې ولیکئ لکه (عددونه، نومونه، سلنه، اندازې او داسې نور ... ). له دې سره د صوت له پاره مني ډیسک، د لیکلو له پاره قلم کتابچې او همداشان د عکاسي کمره د خبر جوړولو مهم وسائل دي.

د یوه پوره او ښه خبر لیکلو له پاره باید موضوع ټولیزه، نوې او له خلکوسره هم اړیکه ولرو چې د خلکو غوښتنې په ښه توګه ومومو .

تل باید خبر وروسته له جوړیدو یوځل بیا ولوستل شي چې هر ډول شک او شبهه لرې شي او د خبر ټولیزتوب، بشپړتوب او سموالي په اړه پوره ډاډ حاصل شي.

خبر لیکونکی باید د پوره پوهې څښتن وي املا او انشأ ته کلکه پاملرنه وکړئ، پر هره ژبه چې خبر لیکي پوره تسلط ولري او په کومه ټولنه کې چې ژوند کوي د هغې له دودونو او رواجونو سره پوره بلد وي .

که چېرته څوک غواړي چې ښه خبر لیکونکی شي نو اړینه ده چې پر اسلامي، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او په ټولیزو پوهو ځان سمبال کړي او باید د ژورې مطالعې څښتن و اوسي.

---

[35] راډیو ژورنالیزم لیزا آپټن آسترلیایي

په خبر کې نوي والی او سرعت ته پاملرنه د خبريالي د اصولو له جملې څخه شميرل کېږي ، خو بايد ځير و اوسي چې دقت د سرعت قرباني نه شي.

املايي او انشايي تيروتنه په خبر کې هيڅ د منلو وړ نده.

بهرني نومونه، خاص نومونه، علمي عبارتونه او نقل قولونه بايد د خبر په متن کې په گيومه«» کې وليکل شي.

د خبر په ليکلو کې بايد متري اندازې، نرخونه، درجې، سلنې، عددونه، رتبې، وخت او نيټه، ورځې او د کتاب صفحې او دې ته ورته نور بايد په عدد وليکل شي .

د يو شميره بايد په حروفو وليکل شي او دغه راز، له يوه څخه کم هم پر حرف ليکل کېږي خو له ۲ څخه تر ۱۰ شميرې کېدی شي هم پر حروفو او هم پر عدد وليکل شي.

د علامو مراعاتول په خبر کې ډيره ضروري خبره ده .

**د خبر ارزښتونه [36]:**

خبريال بايد په پوره دقت قضاوت وکړي، هغه څه چې اوري يا ويني خبر دی اوکنه، په دغه دقت او قضاوت سره به خبريال پر دې وتوانيږي چې:

- مهمه موضوع به له بې ارزښته موضوع څخه بيله کړي.

- د يوې موضوع هغه مهم مطلب به ډير په آسانۍ سره ومومي .

- د يوه خبري ساعت موضوع گانې به د خبر د ارزښت پر بنسټ تنظيم او ترتيب کړي.

هره رسنۍ خپل ځانگړي لوستونکي، اوريدونکي او يا هم ليدونکي لري.

د افغانستان په هکله يو خبر د هغه چا له پاره چې په افغانستان کې ژوند کوي ډير مهم وي، په داسې حال کې چې همدغه خبر به د کانادا يوه اوسيدونکي ته دومره مهم او د ارزښت وړ نه وي، هغه څه چې د يوه سوداگر له پاره په کابل يا غزني کې د اهميت وړ دی هغه ښايي د يوه بزگر له پاره په هرات او فراه يا وردگو کې د اهميت وړ نه وي، نو ځکه خو مختلفې رسنۍ لکه ورځپاڼې، راديوگانې او مختلف تلويزيونونه بيلابيلې موضوع گانې تر پوښښ لاندې راولي.

خو خبرونه که په هر ځای کې وي تل بايد لاندېني ارزښتونه ولري :

**الف ـ اغيز(تاثير):** ياني چې څومره خلک او څنگه يې تر اغيز لاندې دي، خو دا به بيا هم پر مالوماتو پورې اړه لري.

**ب- د واټن يا ځای نږدېوالی:** تل د پيښې ځای ډير د اغيز ځای د محل يا ځای له نظره د خبر له پاره دی.

---

36 بنسټيز او پر مختللي خبريالي
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنيو د ملاتړ اداري درسي جزوه

**ج- سرعت یا بیړه:** د یوه خبر د وړاندې کولو له پاره ډیر ژر وخت دی  په دې مانا چې هر څومره ژر خپور شي همدومره به ښه وي.

**ه- برجسته ګي:** که څه هم اشخاص خبر نه دي خو ډیر مهم اشخاص او اداري د یوه خبر په اغیز کې ډیر مهم رول لري.

**هـ - تازه والی:** یا نوي منځ ته راتلل، تل هغه څه چې معمول یا رواج نه وي او نویمنځ ته را شي لکه په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره ځان مرګی برید.

**و- ټکر یا تصادم** [37]**:** تل ټکرونه که په سیاست کې وي او که په پوزي یا ورزشي څانګه کې وي یو اغیز لرونکی خبر دی.

باید په یاد ولرو چې د ټکرونو تشریح یو ستونزمن کار دی چې کله کله د خبر ارزښت تر اغیز لاندې راولي.

اوس کولی شوچې د خبر د ارزښت ټولې څانګې جلا جلا بیان کړو:

**الف – اغیز(تاثیر):** د خبر یو له ډیرو مهمو ارزښتونو څخه دی، چې دا پوښتنې ځوابوي چې د ټولنې څومره خلک تراغیز لاندې راولي او د یوې موضوع د ټاکنې پیل له همدغه ارزښت څخه کیږي  چې، د نویو پوښتنو مطرح کول د پیښې تل ته تلل او که چېرته په ښه توګه د خبر اغیز ته ځیر شو د خبر اغیز باید دری لاندې پوښتنې را منځ ته کړي.

**الف- پرڅومره خلکو به اغیز ولري؟**

**ب -  دغه اغیز څومره پر خلکو باندې مستقیم دی؟**

**ج -  څومره دغه اغیز آني یا بالفعل دی؟**

**ب: د ځای نږدیوالی:** د یوه خبر ارزښت د همغه خبر د موضوع په پرتله پر خلکو او یا د نږدیوالي په خاطر په خبر کې نغښتی دی. خبریال کوښښ کوي چې د ځای له پلوه پر خلکو د خبر دغه ارزښت بیان کړي.

نږدیوالی د مؤثریت په پرتله لږ ارزښت لري، خو بیاهم کېدی شي داسې یوه پایله ترې واخستل شي.

الف ـ د څو یو شانته موضوع ګانو شتون په ترڅ کې هغه موضوع ډیره مهمه ده چې مخاطب ته ډیره نږدې وي.

ب ـ ځینې داسې موضوع ګانې شته چې خبري ارزښت یې یوازې پر هغه خلکو پورې تړاو لري چې په همغه ځای کې اوسیږي او ژوند کوي.

ج -  یو خبر چې په یوه بله سیمه کې پیښ شوی وي خو د اړیکو له پلوه کېدی شي لرې ځای هم ورته په پام کې ونیول شي.

**ج: سرعت یا پر وخت والی:** ښه خبر نوی خبر دی. په خبر کې سرعت د رسنیو تر منځ ډیر وخت د رقابت سبب ګرځي. باید په یاد ولرو چې دقت د سرعت قرباني نه کړو، سرعت باید په دقت کې ولټوو نه دا چې دقت په سرعت کې ولټووچې، د خبر درستوالی د تیز والی قرباني نه شي.

---

37 بنسټیز او پر مختللي خبریالي
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنیو د ملاتړ اداري درسي جزوه

هغه رسنۍ چې دقت ته ډېره پاملرنه، نه کوي خپل ارزښت په ټولنه کې ورو ورو له لاسه ورکوي، ډېرې رسنۍ د څه پوښتني ته پام نه کوي، خو ولې ته بیا ډېره پاملرنه کوي، په ټولیزه توګه کېدی شي چې سرعت یا تیزي داسې په پام کې ونیول شي:

الف ـ ستاسې مخاطبین غواړي چې ډېر ژر له یوې پېښې خبر شي.

ب - که څه هم سرعت ډېر مهم دی خو باید دقت د سرعت قرباني نه شي.

ج - ډېر ښه وخت د خبر له پاره ډېر ژر او لنډ وخت دی، کېدی شي دغه لنډ مهال یا وخت ۵ دقیقې وي او یا هم ۵ پېړۍ وي( د ډایناسور اسکلیټ).

**د: غوره والی یا برجستګي:** خلک خبر جوړونکي نه دي خو ځیني وخت مهم خلک او د هغوی نوم خبر جوړوي.

لکه د فلمونو مشهور ستوري، ولسمشران، لوی دیني او مذهبي عالمان، مشهور لیکوالان او داسې نور ... هغه خلک دي چې د دوی نوم خلکو ته ډېر ارزښت لري او مخاطب ځان ته را کاږي لکه د یوه فلم ستوری که خپلې ښځې ته طلاق ورکوي او یا د ولسمشر د زوی یا لور پیداکېدل او یا هم د ولسمشر یا د یوه ولایت د والي څوهم ځل واده کول، دا ټولې هغه مهمې پېښې دي چې خلک غواړي پرې وپوهېږي. نو ویلی شو چې خلک غواړي د مهمو خلکو له ژوند څخه خبر شي، د بیلګې په توګه که چېرته د یوه ولایت والي همجنس بازي کوي نو خبریال باید د ده د ژوند شخصي او کاري ساحه و پېژني ځکه خبریال د چا پر شخصي حریم تېری نه کوي خو که ددغه والي همجنس بازي دده پر کاري ساحه بد اغیز اچوي او یا له خپل موقف څخه ناوړه استفاده کوي، باید خبر یې خپور شي او دا یوه ډېره مهمه خبري پېښه ده نو په لنډه توګه داسې ویلی شوچې غوره والی یا برجستګي یو خبري ارزښت دی چې، په لاندې ډول ورته اشاره کوو :

الف ـ ډېری خلک د مشهورو خلکو له ژوندانه څخه خبرېدل غواړي او ډېر ورته مهم وي چې د هغه پر شخصي مسائلو و پوهیږي .

ب ـ ډېر ځله پېښ شوي چې د مشهورو خلکو شخصي کارونه د هغوی پر رسمي کارونو اغیزه وکړي.

**هـ: نوی والی:** په افغانستان کې لومړی ځان مرګی برید ډېر مهم وو یا د لومړي ځل له پاره سپوږمۍ ته سفر کول ډېر مهم وو ځکه دا پېښه په افغانستان کې ډېره مهمه ده چې مخکې داسې پېښه نه وه شوې او دابله د نړۍ په کچه ډېره مهمه خبره وه . یا د یوه ولسمشر وروستۍ وینا چې تاریخي بڼه ولري، په ټولیزه توګه ویلی شو چې نوی والی د یوه خبر له پاره د لاندېنیو لاملونو له مخې د ارزښت وړ دی:

الف – یوه داسې پېښه چې پیښېدل یې لږشوني وي، د خلکو له ذهن څخه لري وي او د ټولو خلکو پام ځانته را و ګرځوي.

ب ـ هغه پېښې چې منظمې نه وي خو د خلکو پر ژوند ډېرې ژورې اغیزې ولري نو دا هم د ارزښت وړ خبر کېدی شي .

**و:- تکر:** په انګلیز ډول سره ویلی شو چې د یوې رسنۍ ډېر مهم خبرونه ټکرونه دي.

ډېر مهم خبرونه یې د سیاست والو د منفي او مثبتو نظرونو د تضاد یا ټکر په خاطر دي.

همداشان ژبنی تاوتریخوالی کله کله په فزیکي تاوتریخوالي هم بدلیږي، څکه هر ټکر ګټونکی او بایلونکی لري نو ویلی شو چي ټکر د خبر ډیر مهم ارزښت دی او په ډیر احتیاط سره باید هغه په پام کي ونیول شي څکه چي :

الف ـ د ټکر شتون په خبرونو کي ډیر ماهرانه وي .

ب ـ دا یو حقیقت دی چي د ټکر علتونه ډیرو خلکوته نا څرګند وي یاني معلوم نه وي ورته او که چېرته د دغوټکرونو اصلي عاملین خبر شي غواړي دا موضوع د تل له پاره همداسي ګونګه پاتي شي.

ج – کله یو لوری په حقه وي او کله بل او کله دواړه لوري ناحقه وي.

د ـ که چیرته ټکر فزیکي یاني جنګ او جګړې وي، نو وروسته له جنګ څخه موږ نشو کولی وواېو چي ګټونکی او بایلونکی څوک دی؟ ځیني جنګونه ګټونکي او بایلونکي نه لري. [38]

**همدارنګه په خبر کي باید لاندېني ارزښتونه هم په پام کي ونیول شي:**

**۱- د واقیعت د صحت پر بنسټ**

**۲- له خپلو نظریاتو آزاد خبر**

**۳- پر توله برابر او متوازن**

**٤- عیني او له ذهن نه بهر**

**۵- انساني علایق**

**د خبریال په کار کي نیمګړتیاوې[39]**

په پوره پوهې سره کیدلی شي دا نیمګړتیاوې لرې کړو:

- له موضوع، چاپیریال او دخلکو له انګیرنو نه بي اطلاعي یا ناخبري.

- د خبرونو پر ارزښتونو نه پوهېدل.

- دشخصي ګټي ساتني یوې وسیلي په توګه ځان سانسوري او د سانسور داسي نورې بیلګې...

د ځینو حقایقو او خبرونو خپرولو ا خبرونو غلا کولو په اړوند بیره.[40]

**څنګه یو خبر پیداکړو؟**

ورځني ډیر داسي خبرونه شته چي موږ له مخکي پرې پوهیږو چي ښایي را منځ ته راشي، لکه د دولت په چوکات کي ځیني خبري ناستي، د بهرنیو جګپوړو چارواکو لیده کاته، د ځینو شرکتونو کلنۍ خبرتیاوي چي پر خلکو پورې تړلي وي او یا د محکمې له لوري ځینو کسانو اعدامول. کېدی شي چي دغه ټول د یا دښت په ورځنۍ کتابچه کي ولیکل شي او د خبرونو په هر سرویس کي له همدغو خبرونو یو یو ولولو.

---

38 نوې ورځپاڼه لیکل(حسین قندي، نعیم بدیعي)ایران ،تهران، د علامه طباطبایي پوهنتون، کال۱۳۸۷ دوژې یا سنبلې د میاشتي ۳۰ صفحي ـ ۹۸-۱۳۳-۲۳۴-۱۲۳-۹۰

39 د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځی لکچر نوټ

40 استاد عزیز احمد فانوس لکچر نوټ د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی استاد

تیرو پېښوته یوه کتنه وکړي، او په دې لټه کې و اوسي چې له هغه مهاله بیا تر دې مهاله څه ډول بدلون ورکې راغلی دی. کومې ژمنې پوره شوي دي او کومې لاتر اوسه پر خپل ځای پاتې دي او په کومو کې یو څه کار شوی دی.

له دې سره سره داسې خبرونه هم شته چې یو په یو منځ ته راځي ـ لکه ترافیکي پېښې، د الوتکې غورځېدل او داسې نور ... او نور خبرونه کېدی شي له پولیسو سره په اړیکو نیولو سره لاس ته راوړو ځکه پولیس هره ورځ زیاتې جنايي پیښې لري او کېدی شي ځینې یې خبري ارزښت ولري . له مرستندویه بنسټونو او اشخاصوسره هم باید اړیکې ولرو شایي ځینې داسې پیښې وي چې خبري ارزښت ولري او داسې نور ... دا ټول په هغه صورت کې شوني دي چې که چېرته تاسې په دقیق ډول د هرې پیښې زاویې ته هر اړخیزه کتنه وکړئ.

**نور هغه ځایونه چې کېدی شي هلته د خبر په لټه کې و اوسئ :**

**مدني ټولنې:** په هر هیواد کې یو شمیر داسې ټولنیز بنسټونه شته چې د خیر ښېګڼې کارونه کوي، خلک را غونډوي چې په ټولنه کې د شته ستونزو په هکله لکه چاپیر یال ته زیان رسول او د هغه تخریب، د ژویو له منځه وړل، بشري حقونه تر پښو لاندې کول او داسې نور ... کېدی شي اړیکي ور سره ونیول شي او د اړونده موضوع ګانو په هکله ترې پوښتنې او ګرویږنې وشي او یا داسې خپرونې ولري چې خبري ارزښتونه ولري او له هغو څخه رپوټونه او خبرونه جوړ شي او یا کېدی شي دغه بنسټونه لاریونونه وکړي او داسې نور ... .

**تخصصي ژورنالونه:** تخصصي ژورنالونه هغه کسان لیکي چې د روغتیا اوسلامتي، علمي، چاپیر یال او یا هم تیل تر خپل پوښښ لاندې راولي او ځینې ژورنالونه لیکي چې تاسې کولی شئ له همدغو تخصصي ژورنالونو څخه استفاده وکړئ. پام مو وي چې دغه ژورنالونه د کار پوهانو له پاره جوړ او لیکل کېږي نو ځکه خو تر ډېره تخصصي ژبه لري چې، په همدغو ژورنالونوکي شایي ځینې یې خبري ارزښتونه هم ولري او یا هم خلکو ته په زړه پورې وي (خو پام مو وي: چې د دغو ژورنالونو ژبه، به داسې جوړوئ چې عام وګړي پرې وپوهیږي یانې په ساده او روانه ژبه یې را واړوئ چې ټول پرې وپوهیږي .)

**څیړنیزې موسسې:** یا د فکر خونې ـ ځینې نور داسې بنسټونه شته چې د ټولنې او اقتصاد په هکله فکرکوي، ځینې یې داسې هڅې کوي چې راتلونکې غوښتنې وټاکي، ځینې نور بیا د مختلفو هیوادو سیاستونه یو له بل سره پرتله کوي چې، له دغو ټولو بنسټونو له ډلې هر یو یې کولی شي ښې په زړه پورې او د خبري ارزښت لرونکې پیښې ستاسې په واک کې در کړي.

**کلنۍ لمانځنې:** په تیرو پیښو یو ځغلنده نظر واچوئ او په هکله یې فکر او هڅه وکړئ چې تر اوسه یې څه ډول بدلون موندلی دی.

**د مخکینیو پیښو تعقیبول:** په هغوخبرونو[41] چې یوه اونۍ ، یوه یا څومیاشتې مخکې او یا هم څوکاله مخکې پیښ شوي دي نظر واچوئ او هغه خلک چې په هغه پیښه کې ښکېل وو څه ورته پیښ شویدي؟ او له کوم ځایه سرچینه اخلي.

دغه راز، خبریالان خبرونه له بیلابیلو ځایونو څخه ترلاسه کوي او جوړوي یې، خو ډیر خبرونه له دغو درې لارو چارو څخه په لاس راوړل کیږي :

41 د څیرنیز خبریالي د سرچینو لارښود – د مایکل انګلستاني لیکنه

طبعي پېښي لکه زلزله، سيلاو او يا هم ځيني آنی پېښې؛ او يا هغه فعاليتونه چې مخکې له مخکې په پام کې نيول شوي وي لکه ځيني ليدني او خبري غونډې.

هغه ښاريان چې د بدو پېښو شاهدان وي ډيريې له خبري رسنيو سره اړيکه نيسي، خبريالان هم د داسې پېښو له پاره لومړی هغه کسان ټاکي چې هغه د پېښې عيني شاهدان وي او پوښتنو ته ښه ځوابونه ورکوي، ډير خبريالان کوښښ کوي چې په هره سيمه کې يو شمير داسې کسان ولري چې د پېښې له پيښېدو سره سم رسنۍ ته خبر ورکړي لکه ځيني هټيوال، ډرېوران او داسې نور... خو په ياد ولرئ چې دا به تاسې ته يوازې خبر درکوي نور به د پېښې په هکله په خپله خبريال هڅه کوي چې کره مالومات لاس ته راوړي. ځکه دا ډول سرچينې مسووليت نه لري يوازې د پيښې کېسه کوي هغوی خبريالان نه دي او نه هم د خبريالي په اصولو پوهيږي دا د خبريال دنده ده چې، پېښه وڅيړي.[42]

په ډېرو خبرخونوکې د خبر لومړنی موضوع ګاني ښاري او ټولنېزې پېښې دي، او بل هغه څه چې په ځينو مدني ټولنو کې پيښيږي د خبر يال له پاره ډيرې ښې موضوع ګانې بلل کيږي ځکه مدني ټولنې ډيرې ټولنېزې دندې تر سره کوي چې، تر ډيره پر ټولنه او خلکو پورې تړلې وي او هغه څه چې پر خلکو پورې تړلي وي هغه حتما خبري ارزښت لري چې خبر يال کولی شي له هغو څخه خبر او يا هم رپوټ جوړ کړي. دغه راز، کېدی شي د مدني ټولنو ځيني هغه کارونه چې ټولنېزه وړتيا ولري نيغ په نيغه تر خبري پوښښ لاندې راولي .

خبري اطلاعاتي اعلاميې هم د خبر له پاره مهمې سرچينې بلل کيږي کېدی شي چې له دغو اعلامېو څخه په خبرونو کې په زړه پورې استفاده و شي، خو ځيني مطبوعاتي اعلاميې يوازې د خبري ناستو په اړه خبرتيا وي چې، خبريال بايد هغه تعقيب کړي او همغې خبري ناستې ته ورشي، دا ډول ډيرې خبري اطلاعيې، خبري ويډيويي او غيرويډيويي تصويرونه کېدی شي د انترنيت په مرسته تر لاسه کړو.

هغه پېښې چې مخکې ټاکل شوې وې لکه لاريونونه، ځيني خبري ناستې، پر مسوولينو د ځينو مشهورو کسانو نيوکې او داسې نور... خو بايد ووايو چې يوشمېر سياستوال بيا ځيني پېښې په خپله ګټه غتوي چې په دغه ډول حالاتو کې خبريال بايد پوره دقت وکړي چې خپل ځان او خبر د کوم چا دسياست قرباني نه کړي ځکه ځيني سياستوال داسې موضوع ګانو ته لمن وهي چې هغه اصلا خبري ارزښت نه لري خو دوی د خپلې ګټې له پاره هغه ډيره غتوي چې رسنۍ هغه خپره کړي .

ډير خبريالان داسې دعوې کوي چې ډير فعاليتونه يې د حرفوي تجربو پر بنسټ ولاړې دي، خوځيني وختونه داسې هم پيښيږي چې ځيني خبرونه له داسې کسانو څخه واخستل شي چې هغه د ټولنې عادي وګړي وي، کېدی شي هغوی داسې ولري چې د ټولنې پر ټولو غړو پورې تړلې وي او د خبريال پام ور واوړي، ډير داسې پيښ شوي دي چې يو خبريال د عامو خلکو نظرونه را ټولوي يا د تليفون له لارې او ياهم د ايمل له لارې او کله کله بيا ژورناليست د خلکو غږونه اخلي او له هغوی څخه هغه موضوع ګانې چې په ټولنه کې پر خلکو تړلې وي او يايې تر تاثير لاندې راځي چې خبريال هغه اخلي او د هغې د حل لارې چارې په خبر ، رپوټ ، مرکه او ياهم د خبريالي په کوم بل ژانرکې ټولنې او خلکو ته وړاندې کوي .

---

42 راديو ژورناليزم ليزا آپتن آسترلیایي

يو ښه او تکړه خبریال ډیری موضوعګانې له خپل شاوخوا چاپیریال او خلکو څخه لاس ته راوړي ځکه یو ښه خبریال باید له خلکو سره ښې اړیکې ولري خبرې یې واوري ، کېدی شي خبریال له خلکو وپوښتي چې څه ستونزې لري؟ د دوی په چاپیریال کې څه تیریږي چې کېدی شي یو ښه او لایق خبریال د خلکو له خبرو ځینې داسې موضوع ګانې لاس ته ور وړي چې تر اوسه هیچا ور څخه خبر نه وي جوړ کړی، چې داهم د خبریال په وړتیا او پوهې پورې اړه لري چې څرنګه له خلکو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي او په څه ډول سره د دوی له عادي خبرو څخه ښه او په زړه پورې خبرونه جوړ کړي چې دا د یوه خبریال خبري حس ښیي.

د ځینو مهمو سندونو لاس ته ور وړل او یا هم د ځینو بنسټونو کلنې رپوټونه، د ځینو بنسټونو وبپاڼې او داسې نورو... څخه هم خبریال کولی شي خبر جوړ کړي او هر اړخیزه ګټه ترې واخلي چې له دې سرچېنو څخه استفاده ډیره سخته وي ځکه کېدی شي دغو بنسټونو هر څه په خپله ګټه لیکلي وي نو ځکه خو ژورنالیست چې په خپلو رپوټونو کې کوم څه پیداکوي او ګوري یې نو باید هغه تحلیل کړي او په هکله یې څیړنه وکړئ چې تر کومه بریده دا سرچېنه چې مالومات یې ورکړي رښتوني ده البته کېدی شي چې ژورنالیست له خپل مسلک څخه بهر ګام پورته نه کړي یانې د رسنیو قانون مطابق عمل وکړي د هغه بنسټ په محرمو کارونوکې چې خپله بنسټ پورې تړلي وي او ټولنې ته کوم زیان ونه رسوي خبر جوړ نه کړي .

**دریم بحث څنګه یو خبر وړاندې کړو؟**[43]

دې ته په کتو چې خبر باید پر خلکو پورې تړلی وي، اغیز ولري او یا هم په زړه پورې وي، خبریالان باید پر دې فکر وکړي چې څنګه کولی شي داسې خبر جوړ کړي چې عام خلک ښه او په بشپړه توګه پرې و پوهیږي، ساده او روان وي.

له دې سره سره چې، دې ته ځیر شو خبر تر کومه بریده ډیر جالب او ښه دی، خبریالان باید پر دې هم فکر وکړي کومې داسې لارې چارې شته چې خبر داسې جوړ کړي چې لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي دې ته و هڅوي چې خبر ولولي، وایې وري او و یې ویني او ګټه ترې واخلي.

اوس مهال په افغانستان کې د بریښنایي او چاپي رسنیو شمیره دومره ډیره شوې ده چې عامو وګړوته د خپلې خوښې د رسنۍ ټاکل ډیر ستونزمن شوي دي، نو که چېرته غواړئ چې ستاسې رسنۍ په صدر کې ځای پیدا کړي او ډیر مخاطبین ولري نو ښه دا ده چې خپل خبرونه او رپوټونه ډیر ساده، روښانه، ژوندی، په زړه پورې، ګټه ور او لنډ ولیکئ او وروسته یې پر خپل وخت او زمان خپاره کړي.

**په خبرکې ډیری مهم او کلیدي ټکي:**

**دقت:** که چېرته لمړني مالومات خپلو مخاطبینو ته غلط ورسوئ او له دقت څخه کار وانخلئ نو ستاسې په نورو تفصیلي مالوماتو به خلک هیڅ باور ونه کړي او نه به هیڅکله هم ورته د منلو وړ وي.

خبریال باید هیڅکله له دې څخه ونه ویریږي چې د یوې پیښې خبر خلکو ته رسیدلی دی، دا د خبریال مهارت او وړتیا ده چې په هغه کې داسې څیړنه او توضیحات ورکړي چې خلکو ته په زړه پورې وي او یو تکړه خبریال همغه پیښه له بیلا بیلو اړخونو څخه څیړي او په داسې یوه بڼه یې خلکو ته وړاندې کوي چې ډیر ورته په زړه پورې وي.
خپل ذهن مو په پوره ډول سره خلاص وساتئ، هیڅکله داسې فکر مه کوئ چې هغه رښتیا او دغه دروغ وایي.

[43] د بي بي سي د ښونیزې څانګې د ویندویې رهنما

**شفافیت :** په یوه خبر او رپوټ کې به هیڅکله هم له شمیرو او عددونو سره ځان مه ټینګوئ، کوښښ وکړئ چې له یوې ساده او آسانه لارې څخه خپل مخاطب ته د هغوی له پوهې سره سم مالومات ورسوئ، تل په دې عقیده واوسئ چې خبریال ربښتني او شفاف مالومات خلکو ته وړاندې کوي او هغه خبریال چې په خپلو رپوټونو کې له صداقت او شفافیت څخه کار اخلي تل سر لوړی او بریالی وي .

**خپل خبر مو سنګار کړئ:** داپه دې مانا چې کله مو خبر یا رپوټ ولیکه نو هغه څوځله ولولئ، کوښښ وکړئ چې یو ځل یې په لوړ آواز ولولئ چې د جملو ترکیب، املا او انشأ له پلوه هیڅ ډول غلطي پکې پاتې نه شي، ډیره پام مو شمیرو، عددو، د ځای او اشخاصو نومونو، ځینې نورو بهرنیو نومونو او علمي اصطلاح ګانو ته وي چې ډیره وړه سهوه یو وخت د نه جبرانیدونکي زیان سبب ګرځي، ښه دا ده چې، یو بل کس چې عمومي ادیتر دی هغه هم ستاسې رپوټ او خبر وګوري.

**نقل قولونه:** تل د ښو او طلایي نقل قولونو په پیدا کولو کې حریص و اوسئ ځکه طلایي نقل قولونه ستاسې خبر او رپوټ ته ډیر زړه راښکون او ارزښت ورکوي، ځینې ډیر مهم نقل قولونه په ګیومه قوس کې راولئ چې د مخاطب د پام وړ وګرځي. دې ته مو پام وي چې دوه ډوله نقل قولونه شته یو یې مستقیم چې ډیر همدغه نقل قولونه په ګیومه قوس کې راځي او خبریال د هغو د ادیت حق نه لري او بل غیر مستقیم نقل قولونه دي چې په ګیومه قوس کې نه راځي، خبریال په هغو کې د ادیت حق لري.

دې ته مو ډیر پام وي چې د خبر او رپوټ ټولې برخې مو یو له بل سره منطقي اړیکه او تړون ولري ځکه دا به ستاسې د مخاطبینو له پاره ډیره آسانتیا را ولي چې په څه ډول سره یې ولولي او یا یې واوري چې له یوه ټکي څخه بل ته په ډیرې آسانۍ سره ورسیږي، کوښښ وکړئ چې خبر یا رپوټ داسې ولیکئ چې ستاسې مخاطب داسې احساس ونه کړي چې نور رپوټ او خبر ختم شو.

**تعادل:** خبریال باید خپل ځان پردې ډاډه کړي چې په خپله لیکنه کې له ځانه هیڅ ډول لاس وهنه نه کوي، خپل نظریات په خبر کې نه ځایوي، ناپییلتوب او توازن ته کلکه پاملرنه کوي او پر هغه چا چې تور لګیدلی دی ډیر وخت ورکړي چې د ځان صفایي ورکړي او له هغو عبارتونو څخه چې شک او تردید ورکې وي کلکه ډډه وکړي، په خبر او رپوټ کې د داسې لفظونو څخه چې هغه تمه لري، هغه غواړي او داسې نور... چې له هغو څخه ستاسې مخاطب داسې احساس وکړي چې تاسې د چا پلوي کوئ.

ځکه داسې لفظونه لکه «هغه ومنله» داسې ښیي چې هغه کومه ګناه کړې وه او اوس یې ومنله او یا«هغه پر دې ټینګار وکړ»داسې مانا ورکوي چې تاسې هم له هغوی سره په یوه عقیده یاست د دې ټولو پر ځای ښه دا ده چې ولیکئ «هغه وایي» او یاهم «هغه وویل».

**شالید :** ستاسې په خبر او رپوټ کې د شالید یا پس منظر را وړل ستاسې خبر ته روح او قوت وربښي کوښښ وکړئ چې هغه له خبر سره داسې پیوند کړئ چې مخاطب ته مو هغه ډیر په زړه پورې شي او که چیرته تاسې په دقیق ډول سره د هغې پیښې په هکله چې مخکې رامنځ ته شوې خپل مخاطب ته مالومات ورکړئ نو دابه د هغه له پاره نوره هم په زړه پورې وي.

**د خبر لیکلو طریقې یا سبکونه :**[44]

د خبر لیکوله پاره ډېرې طریقې او لارې شته، چې له دې ډلې څخه د خبر لیکلو څو هغه سبکونه او طریقې چې په رسنیو کې ډېر دود دي تر بحث لاندې نیسو.

**۱- سرچپه هرم :** [45]د خبر او ریوټ لیکلو هغې طریقې یا سبک ته ویل کېږي چې، په خبر او ریوټ کې جملې د ارزښت له پلوه ځای پرځای کېږي . یانې لید چې د خبر او ریوټ لمړۍ جمله ده د محتوا له لوري تر ټولو مهمه جمله باید وي. دغه راز، د بدنې جملې د ارزښت له پلوه په ترتیب سره راځي لکه په لاندې شکل کې یې په واضح ډول سره لیدلی شو .




**۲- د خبر او ریوټ لیکل په تاریخوار ډول:** [46]په دې طریقه کې پیښې د وخت پر بنسټ لیکل کېږي (له کوم ځای څخه چې پیښه شروع شوې وي او په کوم ځای کې ختمیږي). په دغه ډول سبک یا طریقه کې دا نه وي مالومه چې د خبر او ریوټ مهمه برخه چېرته خیره شي، کېدی شي په لومړنیو جملو کې د خبر او ریوټ مهمه جمله راشي او یا په منځ او یا هم په پای کې . ( لکه په لاندې شکل کې)




---

44 د خبرلیکلو اصول – اکبر نصراللهی
45 بنسټیز او پر مختللی خبریالی
د نی په افغانستان کې د خپلواکو رسنیو د ملاتړ اداری درسي جزوه
46 جدید نیوز مالوماتی ویب پاڼه www.jadidnews.com

**۳ ــ ترکیبي سبک یا طریقه:** په دغه سبک یا طریقه کې لمړی د خبر او ریوټ په سر کې مهمه جمله را وړل کېږي او بیا وروسته خبر او ریوټ په تاریخوار ډول سره لیکل کېږي  یانې دلته د جملو ارزښت په تاریخي ډول سره په پام کې نیول کېږي .

( لکه په لاندې شکل کې )




**۴ــ د حیرانوونکي پایلي طریقه:**[47] په دغه سبک یا طریقه کې یو ه په زړه پورې پوښتنه را منځ ته کېږي  او بیا هغې ته په خبر او ریوټ کې ځواب ورکول کېږي .

( لکه په لاندې شکل کې )




**د بریښنایي او چاپي رسنیو د لیکنو تر منځ توپیر ( په رادیو کې د غږونو له پاره لیکنه کوي او په چاپي رسنیو کې د لیدو له پاره ):**

د دې دواړو رسنیو ( بریښنایي او چاپي ) له پاره په لیکنه کې له ټولو څخه ډېر لوی توپیر دادی چې د چاپي رسنیو خبر او لیکنې  د باسواده کسانو له پاره دي خو د بریښنایي رسنیو خبر او لیکنې د نالوستو خلکو له پاره دي نو له دې څخه دا مالومیږي چې که د چاپي رسنی پر لیکنه او خبر  مخاطب پوه نه شي نو بیا بیا یې لوستلی شي او آن تر دې چې له بل چاځخه   هم پر هغه څه چې نه پوهیږي پوښتنه کولی شي، خو په بریښنایي رسنیو کې بیا ستاسي مخاطب

47 د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځی لکچر نوټ

دا توان نه لري چې هغه بیا بیا واوري نو ځکه خو باید هغه بیخي لنډ، عام فهمه او واضیح لیکئ چې د هرې سویې خلک پرې په دقیقه توګه و پوهیږي.

بله دا چې کله څوک چاپي رسنۍ لولي ټول پام یې د هغې لیکني لور ته وي چې په بر یښنایي رسنیو کې بیا خبره عکس ده یانې کله چې کومه موضوع د بریښنایي رسنیو د مخاطب له پاره په زړه پورې نه وي د هغه ذهن ګډوډوي.

په دې مانا چې د بریښنایي رسنیو له پاره باید داسې ساده لیکنه وشي چې د ټولو له پاره د پوهې وړ وي.

هیر مو نه شي :

**لیکل شوې جملې باید بیخي لنډې وي:** (اوریدونکي یوازې یو ځل ستاسې لیکنه آوري او بس).

ستاسې هره جمله که د بریښنایي رسنۍ له پاره وي نو یوازې یو مفهوم به ولري.

په بریښنایي رسنیو کې له ترکیبي، ستونزمنو او نا مناسبو کلیمو څخه په کلکه ډډه وکړئ.

**ساده او په غیررسمي ژبه یې ولیکئ:** د بریښنایي رسنیو له پاره یې په عامه ژبه ولیکئ خو عام توب باید د کوڅې او بازار په ژبه نه وي د خبریالي روان شناسان عقیده لري چې د ادبیاتو پوهنځي لومړي او دوهم ټولګي په ژبه دې ولیکل شي ځکه پر دې باندې ټول ښه پوهیږي.

**له ترکیبي جملو چې بې ګټې مالومات ولري ځان وژغورئ:** دا ځکه چې په ډیرو ترکیبي جملوکې هغه کسان چې بې نالوستي وي او یا یې د سواد کچه بیخي ټیټه وي پر ډیرو اوږدو جملو نه پوهیږي، څومره چې جملې لنډې وي هغومره د رسنۍ مخاطب له هغو څخه ښه استفاده کولی شي.

ټول حقیقتونه په ساده او روانه ژبه ولیکئ او عددونه تقریبي ولیکئ: د ۲۴۷۳۲۶ شمیرې په ځای که چیرته تاسې شاوخوا ۲۴۸ زره ولیکئ ښه به وي. خو دا هم مه هیروئ چې ځیني وخت بیا شمیرې دومره مهمې وي چې باید کټ مټ ولیکل شي لکه ځیني سپورټي خبرونه او داسې نور ...

د خبر او ریپوټ لومړۍ جمله چې لیډ نومیږي د ریپوټ او خبر یو له مهمو ځانګو څخه شمیرل کیږي : [48]چې دا جمله خبریال د خبر له ډیرې مهمې برخې څخه ټاکي، د ډیرو مالوماتو له پاره د لیډ ځانګړتیاوو ته مراجعه وکړئ.

**له اختصاري لیکنې څخه ډډه وکړئ:** په ځینو وختونوکې که یو څه په اختصار سره لیکئ نو بیا هغه شرح کړئ د بیلګې په ډول د دې پر ځای چې (ر ت ا ) ولیکي نو ښه به داوي چې ولیکئ د افغانستان ملي راډیو تلویزیویون .

هغه څه چې لیکئ ځان ډاډه کړئ چې د خبریالي شپږو پوښتنو ته ځواب ورکې ورکړئ: لکه (څوک؟ چیرته؟ چا؟ ولې؟ څرنګه؟) خو په ځینې خبرونو کې که چیرته د کومې پوښتنې ځواب نه وي مالوم خبریال هم له خپل ځان څخه هغې ته ځواب نه شي ورکولی .

**کله مو چې یو متن لیکه نو په لوړ آواز یې ولولئ:** هغه متن چې تاسې لیکلی دی یو ځل یې په لوړ آواز ولولئ او ځان ښه ډاډه کړئ چې کومه غلطي و نه لري او داسې کلیمې چې په هغوکې د ژبې لکنت پیدا کیږي لرې او پر ځای یې هغې ته ورته کلیمه چې ستاسې ژبه یې روانه ویلی شي، ولیکئ.

---

[48] دآزادۍ راډیو د خبرلیکلو رهنما

**د يوه اوريدونكي له پاره يې وليکئ:** متن مو چې ليکلی بيا يې داسي ولولئ لکه چې له يوه کس سره مخامخ خبرې کوئ چې، ستاسي او ستاسي مخاطب ترمنځ ټول وا ټنونه له منځه ولاړ شي.

**هغه څه چې ليکئ دځان له پاره يې هم آسانه کړئ:** هغه مواد چې تاسي يې چمتوکوئ بايد ډير عام فهم او ساده وي چې د غوږونو، سترګو، ژبې او مغزو تر منځ اړيکه په ډيره آسانه توګه ټينګه کړي. د بيلګې په توګه:

تر کومه چې شوني وي د حال ساده زماني څخه کار واخلئ

هغه کليمې چې تلفظ يې سخت وي ښه دا ده چې په زور او زير يې وليکئ په دې توګه به آسانه شي.

نومونه او عددونه په ډبل خط وليکئ.

د خپل متن اندازه غټه او لوستونکي وټاکئ.

په متن کې د نکتو اچول ستاسي سليقې پورې اړه لري او همدا شان نورې علامې ،خو دا علامې بايد تاسي ته د لوستلو پر وخت آسانتيا رامنځ ته کړي نه دا چې له ستونزو سره مو مخ کړي.

**دريم څپرکی**

## لمړی بحث

**مرکه ( Interview):**

**دمرکې تاريخچه:**

کله چې مطبوعاتو په نړۍ کې سر راپورته کړ ورسره يو ځای مر که په ۱۸۳ لسيزه کې؟؟؟ جوخته منځ ته راغله چې، لمړی خبري مرکه دکال ۱۸۳۶ زيږديز د اپريل پر ۱۶ نيټه د نيويورک هرالد په ورځپاڼه کې چاپ شوه .

**د مرکې تعريف:**

د خبرو اترو حاصل د يوه خبريال او يوه مرکه کېدونکي تر منځ، د يوه خبريال او څو مرکه کېدونکو تر منځ او يا هم د ډيرو ژورناليستانو او ډيرو مرکه کېدونکو تر منځ چې په يوه وخت کې تر سره شي عبارت له مرکې څخه دی .

**د يوې ښې مرکې موخه (هدف):**[49]

د يوې ښې مرکې موخه دا وي چې وپوهيږو چې د څه شي له پاره پلټنه کوو او څنګه يې لاس ته راوړلی شو چې په دې کې د قيق انتخاب د مرکه کوونکي – څيړنه - د مالوماتو راټولول او دقيقې پوښتنې مخکې له د ې چې مرکه و شي اړين دي.

کېدی شي مرکه د مالوماتو ترلاسه کولو، ښوني، توضيح او يا د ځينو موضوع ګانو د تشريح له پاره وي او مقابل لوري سره چې مخاطب دی د موضوع په روښانولو کې مرسته وشي او يا هم کېدی شي د مرکې عمومي موخه په درې ټکو کې را ونغاړو لکه مالومات ورکول، ښوونه او د يوې موضوع څيړل چې، مرکه په عمومي ډول د مالوماتو کڅوړه هم بلل کېږي چې په خبريالي کې ډير ارزښت لري .

---

49 سوزاندان – علي ايثاري کسمايي- يونس شکرخواه – د مرکي طريقي په مطبوعاتو کي

**د یوه مرکه کونکي ځانګړتیاوې:**

کنجکاوي، تیزبیني، د یوه ټکي سنجول، د اړیکو توانایي، د ټولني د نورو خلکو په پرتله ښه حافظه درلودل، په کلیمو او جملو کي د ستونزو نه درلودل، ډیره حوصله اود صبر درلودل، قوي فکر درلودل، د خبریالي پر اخلاقي اصولو عقیده در لودل، غرور نه درلودل، آزاد خیالي په ځانګړې توګه له قومي تعصب او کسات اخیستې څخه، له بیځایه بحث ځان ساتنه او داسي نورې ښې ځانګړتیاوې.

یوه مرکه باید ښکاره موخه ولري. یو لړ مرکې تفریحي اوځیني نورې خبري وي، نو دا مرکه کېدونکي پورې اړه لري چې، مناسب ځواب ورته ووایي - یو ښه اوریدونکی واوسي - ژر ځواب ورکړي یا غلی پاتې شي.

**د مرکې په اړه مالومات او تخنیکونه ( چلونه ):**

**لومړی برخه:** خپله سرچینه (منبع) وګورئ

کیسې ( مسالې) له کوم ځای څخه سرچېنه اخستې؟ سرچینه مو څوک **دی؟ د حقایقو په باره کي څرګند واوسئ:** تاسې کولی شئ چي انتر نیت یا وروستی تازه موضوع ګاني مخکي له دې چي مرکې ته و لاړ شئ وګورئ.

**دوهمه برخه:** زه د خپلي مرکې په باره کي څنګه پلټنه کوم؟

**1: تاسې د موضوع په باره کي ښه مالومات لرئ؟**

تاسې چې څومره کولی شئ نو مخکني ( سابقه ) مالومات پیدا کړئ نودا به مرکه ورکونکي ته ستونزمنه وي چې تاسې بې لارې (ګمراه) کړي.

**2: تاسې مخکې له مرکې د مرکه ورکونکي په اړه څه مالومات لرئ؟**

تاسې د مرکې له پاره تر ټولو غوره کس پیدا کړئ.

تاسې د یو کس یا یوې موضوع په باره کي مخکني او بنسټیز مالومات راغونډ کړئ پر کوم چې تاسې تمرکز کوئ. که چېرې تاسې له چا سره د اقتصادي – ملي امنیت یا کمپیوټر تکنالوژي په اړه مرکه کوئ نو په کار نه ده چې تاسې دې په ذکر شویو برخو کي متخصص و اوسئ خو اړینه ده چې د مضمون په باره کي له اړینو کلیمو سره بلدتیا او یا عمومي پوهه ولرئ دا به تاسې ته موقع در کړي چې ښې پوښتنې وکړئ.

پلټنه به تاسې سره مرسته وکړي چې د موضوع نوي اړخونه او نقطې پیدا کړئ. پلټنه کولی شي تاسې ته داسې نقطې وښیي چې نورو ته ښکاره نه وي.

تاسې مالومات- نوم- لقبونه- تلفظونه او څېړنیز عنوان کتلی شئ. خلک اکثراً غوره ګڼي چې په خپل لقب اشاره ورته وشي – دبیلګې په ډول ډاکټر، انجینر او داسې نور.

**دریمه برخه:** پلانول

مرکه د څه شي له پاره ده؟

مهمه موضوع څه ده؟ تاسې باید د يوې موضوع ټول اړخونه تر پوښنې لاندې ونيسئ. تاسې پر درې یا څلورو ځایونو باندې فکر وکړئ چې وکولی شئ يو بې پرې او درست رپوټ وليکئ.

**خپله سرچينه په دقيقه توګه وټاکئ:**[50]

د مرکې له پيل مخکې تاسې بايد پر دې پوه شئ چې تاسې له دغه کس سره ولې مرکه کوئ. دده دريځ څه ډول دی؟ تاسې هلته څه لټوئ؟ د هغوی مهارت تر کومه حده پورې دی؟ تاسې باید له دواړو لورو سره مرکه وکړئ په تېره پر مهمو مسئلو باندې. په ياد ولرئ چې ستاسې ټول رپوټونه بايد سم - بې پرې او ځواب ويونکې وي.

**خپل کتونکی وپيژنئ:** ستاسې د مرکې کېدونکی څوک دی؟ دوی ته به مرکه ولې مهمه وي؟ او دا مرکه به پرده څه ډول اغيز ولري؟ څرنګه پوښتنې ته به دوی ځواب غواړي؟ په ياد ولرئ چې تاسې د خلکو له خو پوښتنه کوئ.

تل د پوښتنو يو لست جوړ کړئ.

۵ دبليو او ايچ.څه؟ ولې؟ څوک؟ کله؟ چېرته؟ څنګه؟

تاسې خپلې پوښتنې په بې پرې توګه پيل کړئ: پوښتنه مو په څه پيل او ولې پيل کړئ: دا پوښتنې د سرچېنې په اړه وي او هغوی څخه غواړي چې اسباب- بهير

( څنګه واقع شوي دي) او مرکه د ې ( ولې وکړه ) پوښتنه کوي.

تاسې د پوښتنو ترتيب په ستراتيژيک ډول منظم کړئ. که اړتيا مو وليده نو لومړی يو ګرمونکې پوښتنه وکړئ چې مرکه ورکونکی ارام شي.

تاسې ازاده پوښتنه وکړئ. تاسې له داسې پوښتنو څخه ډډه وکړئ چې په هغو کې مرکه ورکوونکی د هو او نه ځواب درکړي. که چېرې تاسې د کرزي له يوه ملاتړي سره مرکه کوئ نو تاسې له هغه څخه داسې پوښتنه مه کوئ چې ايا تاسې غواړئ چې کرزی بيا وټاکل شي؟

تاسې د مرکې په وخت کې د پوښتنې پر ځای له بيانيه جملې څخه ډډه وکړئ. کله چې تاسې يوه کډوال سره چې له پاکستان څخه راغلی وي وپوښتئ " دا به ډېره سخته وي چې يو شخص په پاکستان کې ژوند وکړي" پر ځای تاسې پوښتنه وکړئ " د يو کډوال په صفت په پاکستان کې ژوند کول څنګه وو؟"

**له چوپتيا څخه مه ويرېږئ!**

کله کله مرکه ورکوونکی د خپل فکر جمع کولو له پاره وخت نيسي او يا کېدی شي د جملو تر منځ ځنډ وکړي. تاسې بايد د سترګو اړيکه وساتئ او د ځواب له پاره خپله علاقه و ساتئ او مرکه ورکوونکي ته وخت ورکړئ چې خپل فکر جمع کړي. په چوپتيا کې مه وارخطا کېږئ.

---

50 جن پريستر آسترليايي د انترنيوز د ترينری لاسي منول

**په یاد ولرئ چې، لږ ډیر وي!**

څومره چې، مرکه اخستونکي ډیرمالومات د پوښتنو په څیر وځیري همغومره د معالوماتو زیاتې سرچینې پاتې( نظرانداز) کیږي . له لنډو پوښتنو څخه متمرکز ځوابونه لاس ته راځي. اوږدې بې ربطه پوښتنې د اوږدو بې ربطو ځوابونو باعث ګرځي.

د وضاحت له پاره وپوښتئ: ټول تخنیکي اصطلاحات باید واضح شي دا به هغه وخت شوني وي چې مرکه اخستونکی د وضاحت له پاره وپوښتئ. یو طلایي قانون دی چې که چېرې تاسې پوه نه شئ چې مرکه ورکوونکی څه وایي نو شوني ده چې اوریدونکي هم پوه نه شي چې مرکه ورکوونکی ښه وایي. د بیلګې په ډول که چېرې یوه عالم سره خبرې کوئ او هغه عالم علمي اصطلاحات کاروي نو تاسې دهغو اصطلاحاتو د مانا پوښتنې په اړه هیڅکله زړه نا زړه نه شئ. تاسې له هغه څخه وپوښتئ چې اصطلاحات واضح کړ.

**دوه اړخیزې او یا په یوه وخت کې دوه پوښتنې مه کوئ.**

دا به دی دې ته لیواله کړي هغه پوښتنه چې ښه ورته ښکاري ځواب ورکړي او هغه پوښتنه چې ورته ستونزمنه ښکاري ډډه ترې وکړي.

**د ثبوت بار په سرچېنه ( منبع) باندې واچوئ**[51]

که چېرې سرچینه پر دې فشار راوړي چې " هلته جرم نه وو." وپوښتئ " ولې نه شئ کولی په یاد راوړئ"

**خپله بې پرې توب وساتئ**: که چېرې تاسې په امتحاني ډول له مرکه اخستونکي څخه بیلا بیل نظریات مطرح کوئ- نو له خپله اړخه یې مه مطرح کوئ. تاسې کولی شئ چې ووایئ " خو مخالفه سیاسي ډله وایي........." یا " ځینې خلک وایي" ..... او آن ښه به دا وي چې تاسې خپله پوښتنه شخص یا ارګان ته نسبت ورکړئ.

**په کنټرول کې اوسئ.**

که چېرې مرکه ورکوونکي د یو بل شي په باره کې خبرې شروع کړي او یا ستاسې پوښتنې ته ځواب نه وایي ( سیاستوال په دې کې ښه وي ) تاسې په مؤدبانه خو په کلکه توګه مداخله وکړئ. تاسې بیا- بیا او بیا....... پوښتنه وکړئ.

مرکه ورکونکي ته د وروستیو خبرو موقع ورکړئ چې ایا د موضوع په اړه څه ویل غواړي؟

کله چې تاسې خپلې ټولې پوښتنې و کړې، له د مرکه ورکونکي څخه وپوښتئ چې د موضوع په باره کې خو نور څه نه غواړي چې ویې وایي؟

مخکې تر دې چې مرکې ته ځئ نو خپل ځان ډاډه کړئ چې ایا ستاسې د ثبت الات ( وسایل) سم کارکوي؟ له ځان سره اضافي قلم او پنسل واخلئ.

**څلورمه برخه:** د مرکې پر مهال په ادب کې و اوسئ.

ځان ور وپیژنئ ( معرفي کړئ ). مرکه اخستونکی د هغې موضوع په باره کې چې مرکه ورسره کوئ خبر کړئ.

---

51 دویچیوله (آلمان) خبري سایت

**خپل تجهیزات وګورئ:** که چیرې تاسې له مني دسک او یا کوم بل صوتي نمره لرونکي ثبت آلې ( وسیلې ) څخه استفاده کوئ په کوم کې چې تاسې په هيډ فون ( غوږکې ) څارنه کوئ نو په دغه حالت کې تل خپل هيډ فون د مرکې په اولو دوو دقیقو کې بل ( چلان )و ساتئ چې وپوهیږئ آله په منظمه توګه کار کوي. خپل ځان ډاډه کړئ چې داسې نور آوازونه، نه شته چې ستاسې د آواز دبند ښت سبب وګرځي.

**یو مناسب ځای د مرکې له پاره انتخاب کړئ:** د مرکه ورکونکي پریکړه مهمه ده چې کوم ځای کې ورسره مرکه وشي- رستورانت چې موزیک ولري او یا عامه ځایونو کې له مرکې څخه ډډه وکړئ. له ایر کندیشن او پکو څخه با خبره اوسئ. له مرکه اخستونکي څخه په دې کې چې مرکه په یو ارام ځای کې ترسره شي مه شرمیږئ خو تشریح کړئ چې په ارام ځای کې د مرکې د ثبت کېفیت لوړ وي.

**یو ښه اوریدونکی ( مخاطب) واوسئ :** د مرکه ورکونکي وینا ته پاملرنه وکړئ او ورپسې پوښتنو ته ځان چمتو کړئ. په یاد ولرئ چې مرکه په بیلګه د خبرو اترو وي.

د چاپیریال د آواز ارزښت په یاد ولري.

که چیرې تاسې اعتراض ( نیوکې ) تر پوښښ لاندې نیسي نو ډاډه واوسئ چې تاسې د معترضینو آواز راغونډ کړی. تاسې کولی شئ چې د پردې تر شا آوازونو ( پس منظر) څخه د خپل متن ( سکرپټ ) له پاره ګټه واخلي چې وکولی شي مرکه ورکونکي ته ډا ګه شي چې څه روان لري.

**یاد داښت ( نوټ) واخلئ که څه هم ثبت روان وي.**

که چیرې تاسې د کنفرانس په خط ( مسیر ) کې یاست نو تاسې ټول اړین نظریات په نښه او له ځان سره یې نوټ کړئ. دغه کار به ستاسې د کلپ په انتخاب او تدوین کې زیاته مرسته وکړي کله چې تاسې بیرته خپل ځای ته ستون شئ.

**له ټولو مهم .......... علاقه مند اوسئ:**

که چیرې تاسې علاقه مند نه وئ نو ښایي چې شخص بیخي لږ وغواړي چې ځواب درکړي. رښتني انرژي حتمي ده. کله چې مرکه ورکونکی خبرې کوي تاسې کوښښ وکړئ د سترګو تماس وساتئ او سر وخوځوئ. ستاسې دغه کار شخص ته جرات ورکوي چې کافي مالومات درکړي.

**پنځمه برخه:** له مرکې څخه وروسته: [52]

مخکې له دې چې لاړشئ او هغه ځای( ترک) کړئ:

۱: خپل ماشین وګورئ: ایا تاسې مرکه ثبت کړې ده؟

۲: فکر وکړئ چې آیا تاسې کوم بل شی هم ثبتول غواړئ! د بیلګې په توګه د پردې تر شا آواز ( موزیک )

۳: له مرکه اخستونکي په مننې وپوښتئ چې آیا هغه به بیاهم د نورو پوښتنو له پاره راشي؟

[52] رادیو ژورنالیزم لیزا آپتن آسترلیایي

۴: کله چې تاسې د خبرونو کوټې پر لور ځئ نو ځان سره يو خاکه جوړه کړئ. که چېرې تاسې په موټر يا ټکسي کې ياستئ نو خپل ټيپ ته غوږ ونيسئ  او پريکړه وکړئ چې تاسې به له کوم يو څخه ګټه اخلئ.

کله چې تاسې بيرته د خبرونو کوټې ته ستون شئ:

تاسې څنګه پريکړه کوئ چې له کوم کلپ څخه به  استفاده کوئ؟ په ياد ولرئ که چېرې کلپ يوازې مالومات ورکوي نو تاسې کولی شئ چې هغه وليکئ. تاسې دلته يو چک لست لرئ چې وکولی شئ تر ټولو ښه   کلپ غوره کړئ.

۱:  د ثبت شوي کلپ (آديو) بايد واضح وي- کليمې د پوهېدو وړ وي.

۲: ثبت شوی کلپ بايد يو قوي ټکی وښيي چې مخکې لاړ شي.

۳: ثبت شوی کلپ بايد يو واضح پيل او پای ولري- زيار وباسئ چې متکلم د جملې په منځ کې ونه دروئ.

**يو ښه کلپ لرونکی:**

۱: نظر

۲: احساس

۳: عالي تجربی

۴: د عيني شاهد حساب يا شرح

۵: د يوې دراماتيکې وينا يا اعلان خاوند وي .

## دوهم بحث

## د مرکي ډولونه د محتوا له نظره

**۱- مونولوګ [53]**

په دا ډول مرکه کې ټولې پوښتنې یو ځلې طرح کېږي چې هغه پوښتنې به د یوې یا دوو موضوع ګانو په هکله وي . لمړی خبریال مرکه پیلوي او خپله سرچېنه معرفي کوي او وروسته بیا سرچینه پر خپل وار سره په ترتیب د موضوع په هکله د رسنی له لارې خلکو ته مالومات ورکوي او بیا وروسته خبریال یو ځل بیا هم حاضرېږي او د مرکې د پای په هکله خبرې کوي. دا ډول مرکې ډېرې په ټولنېزو او تخصصي موضوع ګانو کې تر سره کېږي او یا په هغه موضوع ګانو کې چې خبریال فکر کوي سرچینه یې ټولې خبرې په خپله کوي او پوښتنو ته اړتیا نه لیدل کېږي .

**۲- دیالوګ**

دا ډول مرکه د پوښتنې او ځواب په بڼه تر سره کېږي چې دا ځکه چې خبریال پر دې پوهېږي چې سرچینه یې ټولو پوښتنو ته ځنګه چې حقیقت او واقعیت دی، ځواب نه ورکوي نو د پوښتنې او ځواب په بڼه یې تر سره کوي دا حتمي نه ده چې په ټولنېزو مسئلو کې دا ډول مرکه مور. نه شو ترسره کولی کېدی شي چې په ټولو موضوع ګانو کې دا ډول مرکه تر سره شي.

ښایي دا ډول مرکه د مرکې په لاندې ډولونو وویشل شي :

*** د مرکې ډولونه د وګړو د شمیرې له اړخه :**

*** د یوه وګړي مرکه له بل وګړي سره**

*** د یوه وګړي مرکه له یوې ډلې سره**

*** د یوې ډلې مرکه له یوه وګړي سره**

*** د یوې ډلې مرکه له بلې ډلې سره**

**۱- دیوه وګړي مرکه له پوه یاځووګړو سره:**

په دا ډول مرکه کې یو خبریال او یو مرکه کونکی وي چې، د مرکې ټول وخت د ژورنالیست او یوه تن مرکه کونکي په لاس کې دی خو ژورنالیست هڅه کوي چې ډېر وخت مرکې ته ورکړي او په خپله لږ خبرې وکړي.

**۲- د یوه وګړي مرکه له یوې ډلې سره:**

دا ډول مرکې ته ګردی میز هم ویل کېږي ، چې یو خبریال له ډېرو مرکچېانو سره پر یوه موضوع خبرې اترې، پوښتنې او ګرویږنې کوي. په دا ډول مرکه کې د خبریال مسوولیت نور هم ډیرېږي، دا په دې مانا چې تر بل هر وخت باید ډېر پام وکړي ځکه له ډول ډول نظرونو سره مخامخېږي او د څو تنو کنترول یې په لاس کې دی، نو دا ډیره ضروري خبره ده چې خبر یال باید د ټولو کنترول په لاس کې و لري او دنده یې څو ځله ډیریږي.

---

[53] پوهاند محمد کاظم آهنګ د خبر لیکلو بنسټیز لیکدود

**۳- د يوې ډلې مرکه له يوه يا څو وګړو سره:**

دا ډول مرکه د خبري ناستې په نوم هم ياديږي چې، په دې خبري ناسته کې يو يا دوه کسان ډيرو خبريالانوته د يوې موضوع په هکله مالومات ورکوي.

کوم خبريالان چې خبري ناستوکې ګډون کوي نو ډيره به ښه وي که چېر ته دا لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

د خبري ناستې د دايريډو او د هغې د موضوع په هکله بايد ډير مالومات ولري چې، دغه مالومات به د هغې خبري پاڼې چې له همغه بنسټ څخه يې تر لاسه کوي لاس ته راوړي، له انترنيت څخه او د خبرونو له آرشيف څخه هم کولی شي دغه مالومات تر لاسه کړي. همدا شان، که چېرته پر خپل وخت خبري ناستې ته ولاړشي، په خبري ناستو کې معموله داده چې لومړی هغه کس چې خبري ناسته مخ ته بيايي يو څه مالومات ورکوي چې، هغه هم کوښښ کوي چې، په خبرو کې يې د خبريالانو ډيرې پوښتنې ځواب شي، چې کېدی شي يوه هم ستاسي پوښتنه وي، نو که پر خپل وخت ولاړ نه شئ او بيا هغه پوښتنه چې هغه په خپلو خبرو کې ورته ځواب ويلی دی او تاسي يې د دوهم ځل له پاره طرح کوئ کېدی شي ځواب ورته ونه وايي او يا کېدی شي همدا پوښتنه نورو خبريالانو هم کړې وي که تاسي د دوهم ځل له پاره هماغه پوښتنه تر ې کوئ نو بيا به نور خبريالان حتما په غوصه کېږي ځکه د وخت ضايع کېدل دي هغه هم په ټوليز ډول د ټولو وخت.

ښه خبره داده چې خبريال د خبر ناستې ځای ته لس دقيقې مخکې لاړشي چې دغه مخکې تلل به يې لاندې ګټې ولري [54]

له ډيرو نورو خبريالانو سره به يې ليدنه وشي چې دا ليدنه د خبريال د اطلاعاتو د ډيريدو سبب ګرځي .

که چېرته د دې خبري ناستې موضوع درته ګونګه وي نو کېدی شي له نورو خبريالانو څخه و پوښتئ او مالومات ترلاسه کړئ .

کېدی شي د خبري ناستې په هکله د همغه دفتر د آجنډا پاڼه ترلاسه کړئ چې په هغې کې هم ځيني اړين مالومات لکه : څوک په دې خبري ناسته کې ګډون لري، دنده او علمي رتبه يې څه شی ده، يو کس دی او که له يوه څخه ډير دي او داسي نور...

که چېر ته لس دقيقې مخکې ولاړ شئ نو کېدی شي په هغه تالار يا ځای کې چې خبري ناسته هلته جوړيږي ښه او غوره ځای ځان ته او همداشان که د فيلم اخستلو کمره درسره وي نو کېدی شي چې کمرې، مايک او ميني ديسک ته يو مناسب ځای وټاکي، چې په تصوير او غږ کې کومه تخنيکي ستونزه پيدانشي .

دغه لس دقيقې مخکې تګ به دا زمينه موږ ته برابره کړي چې د خبري ناستی په تالار کې په لمړی صف کې ځای ونيسو ، ځکه دا ځای يو مناسب ځای دی که چېرته موږ پوښتنه کوو نو کېدی شي موږ د هغه چا چې کنفرانس ورکوي ژر تر سترګو شو او لمړی حق موږ ته راکړي .

خپلې ډيرې مهمې پوښتنې له نورو خبريالانو سره شريکولی شو، د پوښتنو شريکول دا ګټه لري چې په خبري ناسته کې د نورو مرکو خلاف موږ کولی شو له يوې څخه ډيری پوښتنې وکړو ، نو که چېرته موږ ته د پوښتنې وخت پاتې نه شي نو کېدی شي هغه بل خبريال زموږ پوښتنه هم له خپلې پوښتنې سره جوخته و پوښتي.

---

[54] سوزاندان – علي ايثاري کسمايي- يونس شکرخواه – په مطبوعاتو کې د مرکې طريقې

کوښښ وکړئ چې له درې پوښتنو څخه ډيرې پوښتنې ونه کړئ . ځکه نور خبريالان هم له نظره مه باسئ دوی به هم حتما پوښتنې لري .

د مطبوعاتي ناستې پر مهال مو که چېرته کوم نوم يا شميره او همدا شان ځينې نورې موضوع ګانې ونه شوی ليکلی، نوله څنګ سره ناست خبريال څخه يې په داسې موقع وپوښتئ چې له دواړو څخه کومه بله موضوع تيره نه شي .

که چېرته په خبري ناسته کې تاسې ته د پوښتنې کولو وخت پاتې نه شو او پوښتنه مو حل نه شوه نو کېدی شي چې کله هغه د خبري ناستې له تالار څخه بهر وزي خپله پوښتنه وکړئ او که مو دلته هم موقع ترلاسه نه کړه نو بيا يې د همغه کس د اړيکياتو له څانګې څخه تر لاسه کړئ. خو دا به د خبريالی يو اصل چې سرعت دی زيانمن کړي .

**په خبري ناسته کې ځينې آداب :**

کوښښ وکړئ چې ځينې بويناک څيزونه لکه اوږه، پياز او داسې نورو شيانو څخه داسې ګټه مه اخلئ چې نورو دوستانو ته مو زيان ورسيږي .

ډير تيز عطرونه هم مه استعمالوئ .

ګاز لرونکې شربتونه هم ډير مه څکئ او همداشان، په ډيره مړه ګېډه خوراک هم مه کوئ .

له نورو خبريالانو سره تل ښې اړيکې ولرئ.

**کله چې خبري ناستې ته ځئ لاندې موضوع ګانو ته په کلکه پام وکړئ:**

هر لور ته مو پام وکړئ او هره خبره د شک په سترګو ګورئ: يوه وړوکې د يادابښت کتابچه له ځان سره يوسئ، د هويت کارت مه هيروئ، خود کار او پنسل قلمونه، د صوت وسايل سره له څو کستونو، څو اضافي بالتې د مايک او تيپ له پاره در سره واخلئ، خپل تليفون مو هير نه شي، که لاره اوږده وي نو ډيره ښه پته او نقشه يې هم له ځان سره واخلئ، د خبري ناستې پوره پته او د مسؤل کس د تليفون شميره او پر خپل وخت يا مخکې د خبري ناستې ځای ته رسيدل او د يوه دستمال وړل هم له ځان سره مه هيروئ. په خبري ناستو کې خپلې پوښتنې ښې وسنجوئ او د طرح کولو له پاره يې ښې چمتوکړئ، ښه خبريال له يوې لنډې خبري ناستې څخه ډير زيات مالومات د نورو خپرونو او خبري خپرونو له پاره واخلي.

[55]**د کېناستلو له پاره مو مناسب ځای و ټاکئ :** په خبري ناسته کې ستاسې د ناستې له پاره ځای مخکې له مخکې ټاکل شوی دی، خو تاسې دې ټکي ته کلک پام وکړئ داسې ځای د ناستې له پاره وټاکئ چې هغه ستاسې له پاره ډير زيات مناسب او ښه وي، پوښتنې مو ډيرې آزادې، ساده او لنډې جوړې کړئ. په خبري ناسته کې کوښښ وکړئ چې ډير پر خپل نفس ډاډه و اوسئ او ښه اوريدونکی له ځان څخه جوړ کړئ.

هيڅ کله هم پر دې خبره چې زه خبريال يم او مايک له ځان سره لرم مغرور نه شئ ډير متواضع و اوسئ، ستاسې تواضع ستاسې دوستان زياتوي ښه او مسلکي او پر ځای پوښتنې ستاسې ځای ځايګی د خبريالانو په منځ کې اوچت مقام ته رسوي. که چېرته پر ژبه خبرې کوئ نو د وجود له اعضاوو څخه هم استفاده وکړئ ځکه چې د وجود حرکتونه ستاسې خبرو ته نور هم ارزښت ورکوي.

55 سوزاندان – علي ايثاري کسمايي- يونس شکرخواه – د مرکي طريقي په مطبوعاتو کي

هغه حالتونه چې خبریال د مرکه ورکونکي په هکله ښه پوهولی شي لاندې ټکي دي:

دمرکه شوي ظاهر او قواره .

د هغه سترګې او تندی، ځکه هغه کسان چې په خپله موضوع ښه قادر وي د خبر یال پوښتنو ته ډېر په شوق ځواب ورکوي او تندی یې پراخه وي.

همدا شان، کېدی شي چې د هغه د بدن حرکتونو ته هم پام وکړو . که چېرته د بدن له حرکتونو ډېره ګټه اخلي نو دا ښيي چې که تاسي هم د بدن له حرکتونو ګټه واخلئ نو ستاسي پوښتني ته به ډېر ښه ځواب در کړي.

هیڅ کله هم بیره مه کوئ، د خپل ځان تعریف مه کوئ، هغه منفي قضاوتونه چې د خبري ناستي د ګډوډی سبب ګرځي له ځان سره وساتئ او په یاد ولرئ چې اوږدې او ګډوډې پوښتني هیڅ کله هم مه پوښتئ.

یو تکړه خبریال تل سوچ کوي چې د یوڅه په لټه کې دی او د خپلي موضوع د هرې زاویي له پاره یې اندازه ټاکلي او په هغي هکله یې ښې پوښتني په ذهن کې ځای پرځای کړي دي . ښه خبریال داسي پوښتني چې خبري ناسته ګډه وډه کړي نه مطرح کوي .

ستاسي چلند له هغو مرکه کونکو سره چې له موضوع څخه بهر وزي ، چالاکه وي، لږ خبرې کوي او له ځواب څخه تېښتي باید څرنګه چلند وکړئ؟ نو دلته ښه او غوره ځواب دا دی چې له هغوی سره ډېر دوستانه، مسلکي او له پوره قاطعت څخه کار واخلئ په دې مانا چې هیڅکله داسي احساساتي نه شئ چې خلک او مرکه کوونکی داسي فکر وکړي چې تاسي له هغه سره طرف شوي یاست ځکه باید په دې وپوهیږئ چې تاسي یو خبریال یاستئ بې پرېتوب او توازن ستاسي له اصولو څخه دی اوله هغو څخه باید په کلکه پیروي وکړئ، هغه کسان چې غواړي پر خبریالانو خپل سیاست وچلوي، لږ خبرې وکړي، له موضوع څخه وزي ، پوښتنو ته بشپړ نه ورکوي، له خبریالانو سره د غچ اخستوونکي په توګه چلندکوي او له خبریال سره په هر څه کي ډېر قهرجن او بد چلندکوي نو تاسي خبریالان به څه ورسره کوئ؟ ښه به داوي ځیني لارې چارې ولري چې دغه ډول کسان د ځان تابع کړئ، لکه په لاندې بیلګو کې:

**کېدی شي داسي جملې استعمال کړئ :**

واقعا دا ډیره په زړه پورې خبره ده خو څه شی چې غواړم پرې پوه شم هغه دادي چې ...

ستاسي خبره پرځای ده خو زه غواړم لومړی پردې بحث وکړو چې ...

غواړم چې پر دې موضوع ډیر پوه شم خو لومړی اجازه را کړئ چې دا خبره روښانه کړو ...

**۴- د یوې ډلې مرکه له بلې ډلې سره** : دا ډول مرکه تر ډېره په ځینو ناستو کي منځ ته راځي چې، ډیریې یې علمي، سیاسي او ټولنیز بحثونه هم کېدی شي لکه د یوه پوهنتون د محصیلنو لیدنه او بحث د بل پوهنتون له محصلینو سره او داسي نور ... .

**دمرکي ډولونه د موضوع له نظره [56]:**

مرکه ډیر ډولونه لري چې دلته موږ یوازې هغه درې ډوله مرکه تر بحث لاندې نیسو چې نورې ټولې مرکي د هغو تر سیوري لاندې راځي یانې کېدی شي چې مرکه خبري وي خو یا به اقتصادي وي یا سپورتي یاهم داسي نور ...

56 مرکی بنسټونه (دکتر نمک دوست ،حسن، ټولنه پیژندونکی ،ایران، تهران

یانې په دې نورو برخو کې کېدی شي یوه داسې پېښه شوي وي چې هغه نوې وي او خبري ارزښتونه ولري نو موږ هغې ته خبري مرکه وایو نو ځکه خو مرکه د موضوع له نظره په لاندې ډولونو ویشل کېږي :

**خبري مرکه**

**تحلیلي مرکه**

**څېړنېزه (تحقیقي) مرکه**

**الف ـ خبري مرکه :**

خبري مرکه هغې مرکې ته ویل کېږي چې، د هغو موضوع ګانو په هکله یې خبریال ترسره کوي چې، هغه نوي وي، خلکو ته په زړه پورې وي او د خلکو پر ژوند پورې تړلې وي، دا ډول مرکې ډېرې خبري ارزښتونه لري او په آني ډول یوه پېښه کېږي چې خبریال د هغې پېښې په هکله له اړونده سرچېنو سره اړیکې نیسي او کوښښ کوي چې نوې مالومات له سرچېنې څخه د موضوع په هکله تر لاسه کړي. ډېرې خبري مرکې وروسته له یوې نوې پېښې چې خبر یې خپور شوی وي د موضوع د ښه وضاحت په خاطر تر سره کېږي .

یا هم دا ډول مرکې د ځینو خبري رپوټونو له پاره تر سره کېږي چې په رپوټ کې د سرچېنې د خبري کلپ په هکله ور څخه استفاده کېږي او یا هم ځینې وخت د خبرونو د سرچېنو قوي کېدو له پاره هم دا ډول مرکې تر سره کېږي ، خبري مرکې ډېرې مهمې دي ځکه دا ډول مرکې کېدی شي په ډېرو نورو خپرونو کې ور څخه ګټه واخستل شي.

خبري مرکې کېدی شي د ځینو خبري ناستو او یا هم د همغې نوي پېښې په هکله له اړونده سرچېنو څخه مالومات تر لاسه شي. خبري مرکې ډېرې د پېښې اړونده مسؤلو کسانو سره تر سره کېږي . په خبري مرکو کې دا ډېره مهمه خبره ده چې هر هغه څه چې موږ یې له سرچېنې څخه اخلو باید واقعیت وي نه نظر. واقعیت دلته په دې مانا چې هر هغه څه چې سرچېنه موږ ته وایي هغه به سل په سلو کې رښتیا وي او نظر بیا په دې مانا چې سلنه یې د تائید وړ نه وي کېدی شي په سلو کې ۵۰ سلنه رښتني وي کېدی شي ۸۰ سلنه او یا هم کېدی شي هیڅ رښتیا نه وي . نو پر همدغه دلیل د نورو مرکو خلاف په هغو خبري مرکو کې چې د خبر له پاره یې اخلو حتما باید هغه کس مسوولیت ولري.

په خبري مرکو کې تر ډېره د خبریالی له لنډو پوښتنو استفاده کېږي ، کېدی شي چې سرچېنې ته هم په دې هکله مالومات ورکړل شي چې د هغه له مرکې څخه یوه برخه چې د اړونده موضوع په هکله وي خپرېږي، خبري مرکې که چېرته د خبر یا رپوټ له پاره وي نو کوښښ کېږي چې لنډې وي یانې له ۲ څخه بیا تر ۳ دقیقو پورې دوام کوي.

**ب ـ تحلیلي مرکه :**

تحلیلي مرکه عبارت له هغې مرکې څخه ده چې یوه ګونګه موضوع حل او تجزیه کوي، یوازې د دې له پاره چې اوریدونکي، لیدونکي او لوستونکي پرې و پوهیږي، دا ډول مرکې ډېرې د داسې موضوع ګانو په هکله ترسره کېږي چې هغه مخکې له مخکې موجودې وي خو اصلي موخه دلته دا ده چې هغه به خلکو ته ګونګه وي او تر ټولو ډېره مهمه خبره داده چې هغه به د دې ارزښت لري چې اوریدونکي، لیدونکي او لوستونکي د هغې د لیدلو، اوریدلو او لوستلو لېوال وي او د هغوی پر ژوند پورې تړلې وي. په دا ډول مرکه کې د سرچېنې ټاکل ډېر لوی ارزښت لري، خبریال باید په دې وپوهیږي چې، د یوې ګونګې موضوع حل او تجزیې ته یو ښه او تکړه کارپوه ته اړتیا لري نو د

سرچینې په ټاکلو کې باید له هیڅ ډول کوښښونو څخه دریغ ونه کړي، ځکه په دا ډول مرکه کې مهمه داده چې هغه څوک د مرکې له پاره وټاکل شي چې په اړونده څانګه کې تخصص او کافي تجربه ولري، خبریال هم باید پر خپل وار سره د دې ډول مرکو له پاره ارزښتناک مالومات راټول کړي او له مؤثقو سرچینو څخه استفاده وکړي.

دا ډول مرکه د تکړه کار پوهانو په نظرونو د واقعیت لور ته نږدې کېږي ډېرې د ولې؟ او څنګه؟ له پو ښتنو څخه ګټه اخستل کېږي .

همدا شان، د خبریالۍ له نورو پوښتنو څخه هم پر خپل ځای ګټه اخستل کېږي ، کولی شو ووایو دا ډول مرکه په اصل کې د موضوع جرړې را وباسي او ټولې ګوټې زاویې یې له ټولو اړخونو څاري چې مخاطب په پوره توګه وکولی شي د موضوع په هکله پوره مالومات واخلي او کوم څه ورته ګونګ پاتې نه شي.

**ج – څیړنېزه ( تحقیقي ) مرکه :**

څرنګه چې، د دې مرکې له نوم څخه له ورایه ښکاري چې د هغو پټو موضوع ګانو په هکله پلټنه کوي چې د انسانانو په ژوند کې خورا ډېر ارزښت لري، توپیر یې له تحلیلي مرکې سره دا دی چې تحلیلي مرکه موضوع ګانې تحلیل او تجزیه کوي خو برعکس یې څیړنېزه ( تحقیقي ) مرکه بیا پټې موضوع ګانې بربنډوي او له هغو پټو موضوع ګانو څخه پرده پورته کوي چې پر ملي ګټو پورې تړلې وي او په هغه کې خیانت شوی وي او یا هم داسې موضوع ګانې چې په ټولنه کې د خلکو په ژوند مستیقیماً اغیزه ولري او خلک په ارزښت ورته قایل وي. دا ډول مرکې هغه خبریالان په بریالیتوب سره ترسره کولی شي چې د پوره حوصلې او خلاقیت خاوندان وي. څیړنېزه مرکه که چېرته ساده څېړنه ورکې شوې وي نو د تحلیلي رپوټونو له پاره هم کارول کېږي ، خو څیړنېزې مرکې ډېر وختونه د مرکبو څیړنېزو رپوټونو له پاره هم کارول کېږي چې په دا ډول مرکوکې خبریال باید د زړه له کومې خپلې هلې ځلې وکړي، یا په بل عبارت باید داسې ووایو چې، له شیدو څخه وینته جلا او بیل کړي یانې کوښښ وشي چې هغه پټه موضوع ورکې افشاء شي او خپل مخاطب پر دې و پوهوي چې د همدې پېښې یا واقعي اصلي لاملونه څه وو او اصلي مسوول دلته څوک دی؟ اکثراً دا ډول مرکې حقوقي بڼه لري که چېرته مو.ږ د یو چا د قتل په هکله څېړنه کوو چې چا وژلی؟ ولې یې وژلی؟ څنګه یې وژلی؟ او داسې نورې پوښتنې مو.ږ ته پیداکېږي نو باید دې ټکي ته پوره دقت وکړو چې که چېرته هغه څوک چې مو.ږ پرې شک لرو اصلي قاتل نه وي نو بیا به هغه کس په محکمه کې د خپل حقوقي او حقیقي شخصیت غوښتونکی او محکمه به له خبریال څخه د هغه د جبران او زیان غوښتونکی شي چې، دا به هم د خبریال او هم د رسنۍ د بدنامۍ سبب وګرځي نو په کار ده چې په دې ډول مرکو کې خبریال له پوره ځیرکتیا څخه کار واخلي، مو ضوع له څلورو اړخونو څخه و څیړي او په هره زاویه یې پوره غور وکړي چې په خپله خبریال او هم یې رسنۍ په دام کې ونه لویږي. دا ډول مرکې تر هغه پورې نه خپرېږي چې د موضوع په هکله یې پوره شواهد نه وي تر لاسه کړي. خبریال او د هغه رسنۍ باید پر دې په پوره ډول سره متیقینه شي چې پېښه واقعیت او حقیقت لري له هغه وروسته یې خپریدو ته وسپاري.

[57]**دمرکې ځینې نور ډولونه:** مرکه زیات ډولونه لري چې دلته د بیلګې په توګه درې نو ډولونه مرکې هم را اخلو :

**۱- جدي مرکه :**

عبارت له هغې مرکې څخه ده چې خبریال غواړي خپله سرچینه د حقیقتونو ښکاره کولو په خاطر جدي کړي چې د موضوع په هکله کټ مټ هغه څه و وایي چې حقیقت و لري او د خبریال یوازینۍ موخه هم همدا ده. دا ډول مرکې

57 مرکې بنسټونه (دکتر نمک دوست ،حسن، ټولنه پیژندونکی ،ایران، تهران

ډېر زيات هنر ته اړتيا لري چي خبريال خپله سرچينه داسې په احساساتو راولي چي د هغه په شخصي حريم تېرى ونه شي، په دا ډول مرکه کي خبريال دغه ټکي هم بايد له ياده ونه باسي چي د ده سرچينه ترکومې اندازې پورې د اړونده موضوع په هکله مسووليت لري، د هغه د مسؤليت مطابق بايد داسې پوښتني له سرچېني څخه وشي چي هغه په احساساتو راولي او هغه څه چي واقعيت لري خبريال ته ووايي لکه ستاسې سرچينه چي د پاکو اوبو د برابرولو په اړه وايي په دې هکله موږ خپل کوښښ کړى دى چي ټولو ښاريانو ته د پاکواوبو رسولو زمينه مساعده کړو خو کافي بوديجه نه لرو.

**۲- وضاحتي مرکه:**

عبارت له هغې مرکي څخه ده چي د يوې موضوع په اړوند چي مخکې موجوده وي اوريدونکي ته مالومات ورکړي چي، په داسې مرکو کې بايد خبريال خپل د مقابل لوري له ځواب څخه ځيني نوې پوښتني پيدا کړي.

**۳- احساساتي مرکه:**

عبارت له هغې مرکي څخه د ه چي د خلکو احساسات تحريکوي او زياتره له هغوکسانو سره ترسره کيږي چي ويرجن وي چي، دا ډول مرکه ښځينه ژورناليستاني د نارينه ژورناليستانو په پرتله ښې تر سره کوي ځکه د ښځو عاطفه نارينه وو په پرتله زياته وي او دا ډول مرکي د خبريالانو له پاره ډېرې سختي او مهمې دي.[58]

## دريم بحث واکس پاپ

**واکس پاپ څه شی دی؟**

واکس پاپ د راديويي خپرونو يوه ګټوره برخه ده. واکس پاپ يوې موضوع ته د ژر او واقعي غبرګون ښودولو يوه لاره ده. دا په ثبتولو کې – تدوينولو او په خبرونوکې د شاملولو ښه لاره وي. واکس پاپ د خبرې کونکي د واکس پاپ له پاره يو عامه اصطلاح شته چي په لاتين کي د خلکو غږ ورته وايي. په ياد ولرئ چي که څه هم د نيمايي خلکو نظريات منعکسوي خو بيا هم رسمي انتخاباتو ته ورته نه دی.

**د يو ښه واکس پاپ له پاره لاندې شيان کليدي ښه لري:**

**د ځای ټاکل:**

د مرکه ورکونکو انتخاب او څرنګه تاسې له هغوی سره په تماس کې کيږئ.

هغه طريقه چي پربنسټ يې پوښتنه کيږي .

هغه لاره چي پر هغې راغونډ شوي آوازونه تدوين او په متن کي ځای پر ځای کيږي ، راځئ چي دغه ټکي نور هم په تفصيل سره وڅيړو.

**۱: پوښتنه بايد محدوده نه اوسي.** پوښتنه بايد هو/نه ونه اوسي. ستاسې د واکس پاپ پوښتنې بايد مرکه ورکونکی دې ته وهڅوي چي خپل مالوما ت تاسې سره شريک کړي. تاسې بايد له زياتو کسانو څخه عيني پوښتنه وکړئ.

58 د مرکي بنستونه (دکتر نمک دوست ،حسن، تولنه پيژندونکی ،ايران، تهران ، سال ۱۳۷۹ صفحي ، ۲۲- ۳۹- ۱۲۳- ۶۰-۱۲۲-۲۴۳

۲: **پوښتنه باید چې لنډه-** زړه راښکونکې او کلیدی شي چې تحریکونکې وي خو باید ډېره هم تحریکونکې نه وي. د تحریکونکو او لانجمنو پوښتنو ترمنځ توپیر شته. تاسي باید دلنډو او جالبو ځوابونو پلټنه وکړئ.

۳: **اړینه ده چې، تاسي یو ښه اوسم ځای په نښه کړئ.** ستاسي باید له ګڼي ګوڼي ډک یو ځای غوره کړئ چې له ډېرو خلکو سره په تماس کې شئ او له خلکو سره د ګډون چانس ولرئ. تاسي له روغتون څخه بهر د خلکو غبرګون کتلی شئ که چېرې مسْله د طبي مواظبت په اړه وي.

۴: دا مهمه ده چې تاسي د یوه پاړکي (طبقي) خلک انتخاب کړئ مثلا له بیلابیلو توکمنو څخه ځوانان- زاړه – مالداره – نارینه – ښځینه. په دې توګه به تاسي وتوانېږئ چې مختلف نظریات راغونډ کړئ. کله چې تاسي هغوی ته ورنږدې کېږئ اجازه ورکړئ چې ستاسي مایکروفون وګوري خو هغوی ته یې مستقیم مه مخامخوئ. ارام او دوستانه واوسئ- با ادب واوسئ. لومړی ځان ور وپیژنئ. عامیانه او واضیح خبرې وکړئ. ځان متیقن کړئ چې تاسي څوک یاستئ- چېرته کار کوئ- ولې ورسره خبرې کوئ- تاسي څه غواړئ. که چېرې نه غواړئ چې مرکه وکړئ نو مؤدبانه ورڅخه مننه وکړئ او لاړشئ.

۵: ښه به دا وي چې تاسي د واکس پاپ په پیل او پای کې له تیز او روښانه خط څخه استفاده وکړئ. تاسي باید 60 ثانیي چاپیریالي(طبیعي) آواز ولري. کله چې تاسي ته یو شخص ځواب درکوي نو له غالمغال څخه ګوښه شئ لکه د موټرغږ او که چېرې غالمغال وو نو شخص ته ووایئ چې ځواب تکرار کړي.

۶: کله چې تاسي ایدیتنګ (تدوین) کوئ نو ځوابونه په واکس پاپ کې باید له 20 څخه تر 30 ثانیو زیات وخت ونه نیسي خو په تلویزیوني واکس پاپونو کې که تر ۶۰ ثانیو پورې دوام وکړي هم بده نه ده ځکه لیدونکي نه خسته کېږي ، له واکس پاپ سره جوخت ډول ډول تصویرونه هم ویني دا ډېره مهمه خبره ده چې په تلویزیوني واکس پاپونو کې خبریال باید د تصویر پس منظر ته پوره دقت وکړي، ځکه چې په تلویزیوني واکس پاپونو کې تصویر پر واکس پاپ باندې مستقیمه اغیزه کوي. همدا ډول، په واکس پاپونوکې لکه څنګه چې وویل شول اغیز لرونکي غږونه (سونډ افکت) هم په واکس پاپ کې پوره ارزښت لري او ښه دا ده چې، د دغو غږونو په هکله خپل مالومات نورهم بشپړ کړو .

### د واکس پاپ یا د خلکو د غږ څرنګوالی[59]

- کله کله خلک غواړي خبرې یې یاداښت شي. عکسونه یې واخستل شي او ورسره د اړینو وسایلو پر مټ د هغوی پر اهمیت او ارزښت اړیکې ټینګې شي.

- هغه وخت چې خلک پر بیلابیلو دندو او شغلونو بوخت وي ځان سانسورولو ته اړ وزي او هغه وخت چې د هغوی د خبرو ثبت او یاداښت موضوع رامنځ ته شي، نه غواړي ټول حقایق ووایي. په ځینو حالاتو کې نه غواړي ځان ته ستونزې پیداکړي.

مرکه کونکي او مالومات راټولونکي هم کله کله داسي عمل کوي چې ځان او نور له ځان سانسوري سره مخامخ کوي. مثلاً هغه وخت چې یوه موضوع جدي طرح شي بیا وائي: په هرصورت...؟

- کله کله خبریال دومره په بې پرې غرقیږي چې خلک ورځینې هیرشي او نه غواړي یو جدي پوښتنه د غچ په ډول چې د خلکو قانوني حق هروي، واوري.

59 کلتتر جان . دبلیو، د خلکو پهمنځ کی اړیکو خبری، ترجمه اکبر میر حسینی وقاسم کبیری

- له خلکو ملاتړ او مسوولینو ته د هغوی آواز رسول او کله د بې مفهومه پوښتنو پر وړاندې  زغم د یوه تجربه لرونکي او مسوول خبریال کار دی.

- خلک باید پوه ـ شي چې آواز یې په پای کې په ګټه تماميږي او دغه کار پر هلوځلو پورې اړه لري.

- کله کله  قوي پلټونکی خبریال له  خبر څخه ځینې حقایق رابرسیره کوي، د محدودیتونو مخه نیسي او نور هم د حقایقو رابرسیره کولو ته اړ باسي.

-   سره له دې چې د خبرونو جوړښت د نوي والي ارزښت د ژورنالیستانو کار ګرندی کوي بیا هم کله ناکله داسې پیښیږي چې د خبرونو او رپوټونو له پاره یو څه وخت ته ړیتا ده چې په کار کې ښه والی راشي.

- په ډیرو وسایلو کې د خبرونو او رپوټونو په جوړولو کې عکس اخیستنه او د یاداښت ثبت ورسره موجود وي. د درواغو او حقایقو له منځه وړلو زمینه نه مساعدیږي.

- د خبریال د چاپیریال او فضا په عکس اخیستلو سره په ځینو رپوټونو کې ښې پایلې لاسته راوړي.

**د غږ اغیز کولو ځینې ځانګړتیاوې:**

د رپوټ لازیات مستند کولو له پاره لکه  اوریدونکي ته وښیي چې خبریال همدغه مهال په ښوونځي، څلورلارې او یاهم په هغه ځای کې چې پیښه هلته را منځ ته شوي ده.

د یوې موضوع د برجسته کولو له پاره مثلا د خپرونو په زیګنال، د خبرونو په سرټوکو او همداشان، د ځینو نورو راديويي او تلویزیوني خپرونو له پاره کارول کیږي  .

د خپرونې د ټولو جزیاتو یو له بل سره د اړیکو په خاطر لکه د خپرونو د بیلولو او یاهم د نورو بیلابیلو مطالبو د بیلوولو له پاره هم ډیر زیات اغیز لري .

د یوه ځانګړي پیغام د اغیز له پاره لکه د یوه هنري پیغام له پاره، د طنز له پاره، د یوې ترا تژیدې پیښې له پاره، د وحشتناکو او ډارونکو پیښو له پاره، د ځینو ډراموله پاره او داسې نور ...

د اوریدونکي او لیدونکي په ذهن کې د وخت او زمان رسمول او تجسمول لکه په سهار کې یوه چرګ غږ او یاهم دیوې بدې پیښې په ځای کې د خلکو غالمغال، بیلابیل غږونه او صوتونه راديو د یوې بې عیبه آلې په ښه جوړوي.

**غږونه او د هغوی ډولونه:[60]**

غږونه یا صوتونه نن ورځ د راديويي خپرونو په جوړولو کې ځانګړی ارزښت لري چې، یوې خپرونې ته په بیلا بیلو ډولونو جوړیږي که هغه خبرې، سیاسي او یا هم تفریحي او داسې نورې ... وي، ځانګړی مؤثریت او ښکلا به ور په برخه کړي چې، دلته موږ د بیلګې په توګه یې یو څو ډولونه تر څیړنې لاندې نیسو.

---

[60] د نی اداری ښونیزه رساله

## دغږ ډولونه

حقیقي ، مصنوعي ، هنري

### حقیقي یا طبعي غږ:

حقیقي یا طبعي غږونه هغو غږونو ته ویل کیږي چې، هغه په واقعي بڼه سره د هغې پیښې په هکله چې ژورنالیست یې په هکله خلکو ته مالومات ورکوي هماغه غږ وي چې، تر ډیره د خبریالي په مالوماتي ژانرونو کې تری کار اخستل کیږي لکه : د تالندې اوبریښنا او یا د باران غږ. توفان او داسې نور او د ګڼې ګوڼې آواز او ترافیکو آوازونه هم کیدی شي چې په حقیقي یا طبعي غږونو کې راشي.

### مصنوعي غږ:

مصنوعی غږ هغه غږ ته ویل کیږي چې هغه موږ په خپله جوړوو او دا شان غږونه د خبر یالي په مالوماتی **ژانرونوکي** د استعمال او کارونې وړ نه دي، یوازی د تفریحي خپرونو له پاره ډیر ارزښت لري لکه : له شیانو او موسیقي سره یوځاي د طبعي غږونو ترکیب لکه د باران پر ځاي چې له یوه شاور څخه او به تویه کړي یا د او بو پیپ پورته ونیسي او له هغه څخه په فشار او به تویې کړي او داسې نور ...

### هنري غږ:

هنري غږونه هغو غږونو ته ویل کیږي چې د موسیقي له آلاتو څخه لاس ته راځي لکه: د موسیقي آواز، د هارموني آواز چې د خوښۍ او غم پیدا کولو له پاره ترې استفاده کیږي .

### د غږ د موثریت ډولونه:[61]

١- د خبرونو او رپوټونو د ښه جوړولو له پاره لکه: په ښوونځي، په واټ او داسې نور...کې.

٢- د مختلفو موضوع ګانو را پورته کولو له پاره. لکه د خپروني نوم، د خبرونو سر لیک او داسې نور....

٣- د خپروني د اجزاوو د اړیکو له پاره لکه: د خپرونوبیلوالی او مختلف مطالب....

٤- د ځانګړو هنري خپرونو له پاره لکه: طنز، تراژیدي، د وحشت زیاتوالی...

٥- د ځای او وخت د مالومېدو یا ښکاره کېدو له پاره لکه: په سهارکي د چرګ آذان او یا په یوه پېښه کي غالمغال....

[61] د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځۍ لکچرنوټ

## څلورم څپرکی

### لمړی بحث رپوټ

**رپوټ:** رپوټ د یوه خبر په ټولو جزیاتو سره وړاندې کولوته رپوټ وايي، یا په بل عبارت د یوې پېښې د ډېرو جزیاتو په هکله د منظمو مالوماتو ورکول په داسې بڼه چې اوریدونکي، لیدونکي او لوستونکي ته ورکې کومه ستونزه پاتې نه شي او د رپوټ په آوریدو سره د خپلو ټولو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړي.

له ورځنیو مهمو پیښو څخه رپوټ جوړول د خبریال له ډېرو مهمو دندو څخه ده؛ چې په هغه کې دې مسئلو ته ځای ورکول کېږي لکه : څوک، څه شی، څه وخت، چېرته، ولې، څرنګه او د پیښې څرنګوالي اغیز ورکې وي. د نړۍ په مهمو رسنیو کې رپوټ لیدل کېږي لکه: ورځپاڼې، تلویزیون راډیو، مجله او تر ټولو نوي او تازه رپوټونه په انټرنیټي وبپاڼو کې شته.

د یوه رپوټ جوړولو له پاره له یوې پیښې څخه چې مخکې له مخکې ترې خبر یو، لکه : خبري ناستې، مذهبي ناستې، عملي سیالۍ او نورې ټولنېزې پیښې چې مخکې له مخکې ټاکل شوې وي چې، په دې هکله د خبریال یوه مهمه دنده داده چې، مخکې له مخکې د پیښې په هکله مالومات را ټول او خلکو ته یې د هغوی په ژبه وړاندې کړي.

د بیلګې په توګه که چېرې د یوې ناستې په هکله رپوټ ورکوو نو باید د هغه چا چې خبري ناسته مخ ته وړي، د ټولو مهمو ګډون والو او د هغوی علمي رتبو او په دې ناسته کې هغه خبرې چې بحث پرې شوی وي او د همغې موضوع په هکله باید پوره مالومات لاس ته راوړل شي .

ریپورټر د پیښې له پیښېدو مخکې حتما باید او یا هم ډېر ژر باید حاضر شي ځکه دا ډېره مهمه خبره ده چې باید ډېر ژر خپلې رسنۍ ته د پیښې په هکله خبر ورکړي او خبریال باید تر پایه د پیښې په ځای کې پاتې شي آن که ډېر وخت تیرول به دده له پاره د زړه تنګۍ سبب شي خو بیا هم کېدی شي چې کومه نوې پیښه را منځ ته شي چې هغه خبري ارزښت ولري نو په همدغه دلیل خبریال اړ دی چې د پیښې تر پایه هلته و اوسي او ټولې واقعې په سمه توګه تر پوښښ لاندې راولي او د پیښې په اخستلو کې باید ډېر دقت وکړي.

ډېرې خبري پیښې په ناڅاپي ډول سره منځ ته راځي پرته له دې چې، ریپورټر د پیښې له پیښېدو څخه مخکې له مخکې خبر وي نو ځکه خو باید خبریال د پیښې د جزیاتو د اخستلو په هکله ډیر زیات پام وکړي.

په یوه ټولنه کې فکري او عقیدتي نا څاپه پیښې د ښو او بدو پیښو رامنځ ته کېدل، د مهمې پیښې له ځای څخه د یوه جګ پوړي چارواکي لیدنه او همداشان، د خلکو تر منځ داسې نورې ډېرې مهمې پیښې شته چې خبریال باید د هغو په هکله فکر وکړي که چېرته خبري ارزښت ولري نو باید په ډېر ښه مهارت او دقت یې تر پوښښ لاندې راولي.

د ناڅاپي پیښو تر پوښښ لاندې راوستل د خبریال له پاره د هغو پیښو په پرتله چې خبریال مخکې له مخکې ترې خبر وي ډېر ستونزمن وي ځکه هره شیبه کېدی شي یو نوی شی پیښ شي دا د ریپورټر له پاره په دې ډېر ستونزمن وي چې ریپورټر مخکې له مخکې تیاری او چمتووالی نه لري سره له دې چې دوی د پیښې ځای ته پر خپل وخت نه شي رسیدلی او د ډېرو پیښو به په خپله شاهد نه وي نو دی اړ دی چې له عیني شاهدانو و پوښتي چې دا به د خبر په صحت بده اغیزه ولري.

د دغه ډول رپوټونو په ليکنه کې رپورټر بايد ډېر هوښيار وي او هيڅ داسې يوه پېښه آن که ډېره کوچنۍ هم وي کم ارزښته ونه بولي ځکه کېدی شي همدغه پېښه د يوې لويې پېښې لامل اوسبب وګرځي او کېدی شي د يوې پېښې د پلټنې له پاره همدا پېښه هم ډېره مهمه وي.

**رپوټ څه ډول يوه ليکنه ده ؟**

رپوټ له يوې پېښې څخه د عيني مالومات او واقعيتونو ډېرو زياتو جزياتو ته ويل کېږي ، خو شرط به يې دا وي چې څو خبري شرطونه ولري، چې د ادارې په د ننه او بهرکې جوړښت مومي، دا په دې مانا چې بايد هم د ادارې دننه او هم له ادارې بهر د رپوټ له پاره مالومات را ټول شي .

که پورته تعريف ته ښه ځير شو سره له دې چې يو ډېر ښه تعريف دی خو بيا هم بايد ووايو چې د رپوټ، خبر او مرکې له پاره هرڅوک بېلابېل تعريفونه لري، کېدی شي نور تعريفونه هم ورته پيداشي، خو لکه څنګه چې موږ په دې ښه پوهېږو چې رپوټ وروسته له خبر څخه چې په خبر کې يوازې د هغې پېښې په هکله لوستوونکي، اوريدونکي او ليدونکي يوه اطلاع ورکړل شويده، خو په رپوټ کې بيا موږ کولی شو چې پېښه سره له ټولو جزياتو خلکو ته وړاندې کړو چې زموږ لوستونکي، اوريدونکي او ليدونکي د پېښې په ژور ټکي پوه شي. نو دلته په کار دا ده چې رپوټ په داسې ډول سره وليکل شي چې پېښه له هر اړخ څخه وڅيړي او خلکو ته د هغې په هکله مالومات ورکړي، ډېره په زړه پورې خبره د خبريال له پاره داده چې په رپوټ کې خبريال ته د خبر په پرتله ډېر وخت ورکول کېږي چې، دا د خبريال له پاره د مالوماتو په را ټولولو کې ډېر يو ښه چانس دی چې، خبريال له بيلا بيلو سرچينو څخه کره مالومات راټول کړي او د خپل رپوټ د پياوړتيا له پاره هر اړخيزې هلې ځلې وکړي.

که چېرته پورتنيو کرښو ته ښه ځير شو نو دا په ښکاره توګه موندلی شو چې په رپوټ کې هم بايد خپلې رقيبې رسنۍ هيرې نه کړو چې له موږ سره په خپرونو کې رقابت لري، دا په دې مانا چې سرعت او دقت دواړه مو هير نه شي، په رپوټونو کې له بيځايه اوحاشيوي مالوماتوڅخه چې هغه خبري ارزښت ونه لري ځان وژغوري ځکه ستاسې مخاطبين له تاسې څخه په ساده او رڼو الفاظوکې د پېښې په هکله مالومات غواړي، يو تکړه خبريال تل غواړي د خلکو پر ژبه او رواني خبرې وکړي او هغه څه په خپل رپوټ کې ليکي چې په هغه کې د ټولنې د خلکو له پاره يا جالبيت ؛ يا اغيز او يا به د دوی پر ژوند پورې تړاو ولري، د ښه رپوټ ليکلو له پاره که تاسې د پېښې په هکله هر څومره ښه او پوره مالومات ولرئ هغومره به د رپوټ په ليکلو کې ستاسې له پاره آسانتياوې او په ډېره يوه ښه بڼه به تاسې وکولی شئ چې خپل لوستونکي ، اوريدونکي او ليدونکي و پوهوي . او د دوی په ژوند پورې تړلې يوه پېښه که تاسې دوی ته وړاندې کوئ نو دا به له تاسې سره مرسته وکړي چې رپوټ مو ډېر مينه وال پيداکړي. د پورتنيو مالوماتو په پام کې نيولو سره کولی شو چې رپوټ په ښه ډول سره وپيژنو، کېدی شي داسې ووايو :

رپوټ د يوې پېښې د ټولو اړخونو په هکله د خبريال يوه دوطرفه اخستنه ده په دې شرط چې هغه پېښه به څوخبري ارزښتونه ولري چې، دا ليکنه به د ډېرو مالوماتو راټولو په هکله ستاسې مخاطبينو ته يوه لويه زيرمه وبلل شي .

**د يوه ښه رپوټ ځانګړتياوې:**

رپوټ بايد يوه عيني ليکنه وي بايد له هر راز، تخيل او توصيف څخه ورکې کار وانه خستل شي او خبريال خپل احساسات او نظريات په هيڅ ډول ورکې نه شي ځای پرځای کولی، يوازې ټول واقعيتونه ورکې وليدل شي، خو بيا هم په توصيفي رپوټونوکې کېدی شي خپل رپوټ ته يو څه ناڅه رنګ او تصوير ورکړي چې هغه به هم له واقعيت څخه لرې نه وي.

رپورټ له یوې پېښې د یوه خبریال اخستنه څخه ده او یا چې کله یوه پیښه تحول وکړي او یا هم کېدی شي ستاسي رپوټ د یوه شخص په هکله وي. رپوټ دوه اړخونه لري یو د خبریال خپله تجربه، تحصیل، آرزو او داسي نور ... ده او یا هم کېدی شي چي له یوې پیښې څخه خبریال یو ځانګړی رپوټ جوړ کړي، خو خبریال باید دیته په کلکه پام وکړي چي د خبریالي له اصولو څخه کوم خلاف کار ونه کړي له خپل علم او تجربې څخه په استفادې سره باید داسي رپوټ ولیکي چي د ټولنې عیني واقعیتونه روښانه او خلکو ته د دوی له پوهي سره سم مالومات ورکړي.

یو رپوټ باید څو خبري ارزښتونه ولري، هغه رپوټونه چي په هغو کې شهرت، جالبیت، شمیرې او داسي نور... په زړه پورې ارزښتونه، نه وي نو هغه به خلکو ته په زړه پورې نه وي او د خلکو پام نه شي را ګرځولی، یو تکړه خبریال تل هڅه کوي چي پر داسي پیښو رپوټ ولیکي چې هغه خبري ارزښتونه ولري، یو خبریال تل په خپل رپوټ کې داسي واقعیتونه څیړي او یا یې حل او ارزوي چې هغه د خلکو په ژوند او ټولنه کې ډیر ستر ارزښت ولري، کېدی شي د رپوټ په وسیله خلکو ته اطلاع، ښوونه او روزنه ورکړي خو خبریال باید دې ته پوره پام وکړي چې رپوټ یې د خلکو پر ژبه وي.

**درپوټ ارزښت:**

رپوټ که په هره اندازه، بڼه، د هرې موضوع او یا هم د هر ډول رسنی له پاره وي د یوې پیښې کیسه او واقعیت به وي او له هغو واقعیتونو او لیدنو څخه به حکایتونه کوي چې د انسانانو په ورځني ژوند کې د ارزښت وړ وي. رپوټونه، نه یوازې چې خپلو مخاطبینوته خبرتیا ورکوي په ډیرو مواردوکې کېدی شي ښوونه او وزنه هم ورکړي خو که چیرته غواړئ چې د رپوټ ارزښت لا نور هم زیات شي نو د هغه رپوټ مخاطبین په نښه او پیدا کړئ او بیا یې په هغه وخت کې ورته خپور کړئ چې دوی یې د لوستلو، آوریدلو او لیدلو وخت ولري. که چېرته یې رپوټ خپل خپل مخاطبین و نه لولي، ونه ګوري او یا هم وانه وري نو هغه رپوټ خپل ارزښت په واقعي بڼه له لاسه ورکوي. ستاسې رپوټونه کېدی شي خبري، څېړنیز، تحقیقي، علمي، فیچري او یا هم کېدی شي تفریحي بڼه ولري، خو په هر حال که غواړئ چې رپوټ مو نور هم په زړه پورې شي نو د خپلو مخاطبینو په خوښه یې ولیکئ.

یو خبریال باید پر دی وپوهیږي چې د ټولنې ټولو خلکو ته کومه موضوع ډیره په زړه پورې ده، که چېرته ستاسي رپوټ هر څومره خلک تر پوښښ لاندې را ولي نو په هماغه اندازه به د ارزښت وړ وګرځي او ډیری مخاطبین به ځان ته را پیدا کړي .

همدا شان، خبریال باید داهم له یاده ونه باسي چې د یوه رپوټ اهمیت د رپوټ په حجم کې هم نغښتی دی، دا په دې مانا نه چې د ډیر حجم درلودونکی رپوټ باید ډیر ارزښت ولري، بلکي موخه داده چې رپوټ د خپل حجم په پرتله باید ارزښت هم ولري او د رپوټ هره کرښه باید لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي ته ځانګړی ارزښت ولري که ستاسي رپوټ یوه په زړه پورې محتوا ولري او یو ځانګړی پیغام ورکې نغښتی وي نو په هماغه اندازه د ارزښت وړ ګرځي او که چېرته یو رپوټ د مخاطب زړه لاسته راوړي نو دابه د رپورټر له پاره لویه بریا او موفقیت وي او رپورټر به د کمال لوړو درجوته ورسوي. که چېرته تاسې غواړئ چې د خپلو لوستونکو، اوریدونکو او لیدونکو زړه لاس ته راوړئ نو داسي یو رپوټ لیکئ چې هغه واقعي بڼه ولري او د هیڅا پلوي ورکې نه وي شوې، ټول قومونه په هغه کې یو شان ځانونه وګوري.

**د یوه ښه رپوټ ځانګړتیاوې:** رپوټ لیکنه په خبریالي کې یوه په زړه پورې او زړه وړونکي دنده ده، رپوټونه او مرکې د خلکو له ژوندانه څخه پیل بیاتر لویو لویو کسانو، پیښو، واقیعتونو او په ټولنه کې له نورو ستونزو سره سره د خلکو په استازولئ یې خبریال لیکي او جوړوي یې چې پر همدغه دلیل ډیر لیدونکي، لوستونکي او اوریدونکي

لري، دې ته په پاملرنې سره چې له رپوټ نه مو کومه پيژند ګلوي او تعريف وکړ، رپوټ د ورځې ډيرې مهمې او په زړه پورې پيښې څيړي او ډيرو هغو پيښو ته په رپوټ کې پام کيږي چې هغه خبرې ارزښتونه ولري. خبريال بايد رپوټ داسې وليکي او وړاندې يې کړي چې ټولو ته د پوهې وړ وي او داسې فکر دې وکړي چې له مخاطبينوسره مخامخ خبرې کوي. خبريال تل کوښښ کوي چې خپل رپوټ په واقعيتونو سمبال کړي ښې مرکې او د خلکو غږ ته هغه څوک چې عيني شاهدان وي په خپل رپوټ کې ځای ورکوي، آن تر دې چې کله رپوټ خپلو مخاطبينوته وړاندې کوي په داسې يوه طريقه چې هغه د ټولو خلکو له پاره ډير غوره او په زړه پورې وي آن تر دې کله چې خبريال رپوټ ليکي نو بايد د خلکو پر ژبه وي دا په دې مانا چې خلک پرې و پوهيږي. خبريال بايد داسې سوچ ولري چې همدا اوس له ډيرو خلکو سره مخامخ دی او خلک له ده څخه دا تمه لري چې دوی ته د يوه نوي څيز په هکله مالومات ورکړي او ځان پرې وپوهوي نو خبريال خپل رپوټ داسې جوړوي چې د مليونونو انسانانو له پاره د پوهې وړ او جذاب وي. که چيرته يې رپوټ ټول پوهه نه وي نو بيا به هغه رسنۍ خپل مخاطبين له لاسه ورکړي کوم چې د دوی له رسنۍ سره تل مل او د باور او اعتبار مزی يې ترمنځ غزيدلی وي. نو ځکه خو رپورټر بايد د رپوټ ليکلو پرمهال لاندې ټکو ته ښه ځير شي:

**په رپوټ کې خبرې ارزښتونو ته پاملرنه:**

داخبره بايد خبريال په ياد ولري چې خبري ارزښتونه يوازې په خبرپورې نه دی تړلي بلکې په رپوټ او مرکه کې هم د پوره ارزښت وړ دي چې بايد ډيره ژوره پاملرنه ورته وشي، لکه څنګه چې خبري ارزښتونه په داسې ډول ترتيب شوي دي چې په هغه کې د مخاطبينو ټولو اړتيا وو ته پام شوی دی چې، پر همدغه دليل د مخاطبينو له پاره ډير زيات ارزښت لري. د بيلګې په توګه شهرت چې يو له خبري ارزښتونو څخه دی داسې مانا ورکوي چې هغه څه چې د خلکو په ژوند کې مشهور وي حتماً ورته ارزښت هم لري، يا د پوښښ په هکله مخاطبان ځکه ارزښت ورکوي چې ټولې پيژندل شوې څيرې چې په ټولنه کې شته خلک پر هغو باور لري، د هغو خبره ورته د ارزښت وړ وي ... نو دا خبره بايد له ياده ونه باسو چې کله موږ د يوه رپوټ موضوع ټاکو نو بايد په موضوع کې هم خبري ارزښتونه ولټوو او داسې يوه موضوع د خلکو له پاره غوره او وټاکل شي چې پر خلکو پورې تړاو ولري، خلک ورته ارزښت قايل وي او يا هم خلک د هغه محتوا ته ارزښت ورکوي دغه ټول هغه څه دي چې، د يوه رپوټ ارزښت په مخاطبينو کې ډيروي او حتماً يې خلک لولي، اوري او يا هم ويني دا مهمه نه ده چې يوه موضوع بايد ټولې دا ځانګړتياوې ولري، مهمه دا ده چې که يو له دغو ارزښتونو نه ولري هم بايد موضوع وټاکل شي اوکه چيرته موضوع يوله دغو ځانګړتياوو څخه ونه لري نو هغه به د خپريدو وړ نه وي او هيڅ مخاطب به ونه لري نو د هغه خپرول به کومه ګټه ونه لري نو خبريال هم هيڅکله داسې موضوع ګانې نه ټاکي او نه دومره وخت لري چې په بې ارزښته موضوع ګانو پسې پيښې لوڅې کړي او مسلک يې هم دا اجازه نه ورکوي.

**ښه ليد لوری :**

که چيرته موږ يوه ډيره ښه ارزښتناکه موضوع هم ولرو او هغو ته له يوه ښه ليدلوري ونه ګورو کيدی شي چې هغه ټولې ښېګڼې او خوندونه چې له هغې موضوع بايد اخستل شوي وای له منځه ولاړ شي لکه ځينې خبريالان ډيره يوه ښه موضوع د خپل رپوټ له پاره ټاکي خو کله چې بيا رپوټ پرې ليکي نو که ښه ليد لوری ورته ونه لري د هغې موضوع ارزښت هم له منځه ځي. د خبرليدلوری بايد د خبر له ليکنې او يا هم سبک سره غلط نه کړو، ليدلوری په دې مانا چې موږ موضوع بايد له داسې ليد لوري و وينو چې په هغه ليدلوري کې واقعيتونه نغښتي وي. آن که د هر خبريال د رپوټ ليکلو طريقه ښايي له بل خبريال څخه څه ناڅه توپير ولري، البته په ليکنه کې، نه په سبک کې خو خبريال چې کله هم پر يوه موضوع رپوټ ليکي نو بايد دېته کلکه پاملرنه وکړي، آن تردې چې بايد شاليد يې

هم خبري ارزښت ولري دا په دې مانا چې هغه رپوټونه چې شالید ولري او که پایله ولري نو باید هغه هم د اوریدونکي، لوستوونکي او لیدونکي له پاره د ارزښت وړ وي او که نه نو رپوټ به بې خونده وي. باید په یاد ولروچې په رپوټ کې یوې بې ارزښته کلیمې ته اړتیا نه شته او نه هم خبریال دغه کار کوي. مثلا که چېرته داسې یو خبر چې په (X ) ولایت کې د سختو اوربښتونو له امله ۹۰ کسه مړه شوي دي . نو شالید یې باید داسې وي چې که چېرته پاتې کسانو ته په څلورویشتو ساعتونو کې مرستې ونه رسیږي نو د مړو کسانو په شمیره کې به ډېر زیات لوړ والی راشي. که چېرته په ښه طریقه ورته ځیر شو نو په دې کې یو لوی اغیز دغه پروت دی چې لیدونکي، لوستونکي او اوریدونکي دېته هڅوي چې د رسنۍ نورې خپروني هم هیرې نه کړي ځکه د انسانانو له پاره د انسان ژوند له بل هرڅه نه ډېر د ارزښت وړ دی. بله دا چې خبریال باید دېته کلکه پاملرنه وکړي چې د رپوټ ټولو عناصروته په خپل ځای کې ځواب ورکړي که نه نو د رپوټ ارزښت به یې لکه د رپوټ په شان ګډوډ وي.

**د موضوع یوالی:**

رپوټ که پر هره موضوع وي له اهمیت څخه به حتماً برخمن وي خو که چېرته د یوې ځانګړې موضوع چې د ټولو خلکو له پاره په زړه پورې وي او رپورټر په هغې کې په بشپړه توګه بې پرې وي او تر پایه موضوع په ښه ډول سره تر بحث او څیړنې لاندې ونیسي، که چېرته دې خبریال ته ځینې محدودیتونه وي نو باید خبریال کوښښ وکړي چې موضوع له بیلابیلو اړخونو څخه وڅیړي چې د موضوع په هکله جامع او ښه مالومات لاس ته راوړي. خبریال باید کوښښ وکړي چې موضوع راونغاړي ځکه چې اوریدونکي، لیدونکي او لوستوونکي دومره حوصله نه لري چې ډیرې اوږدې موضوع ګانې تعقیب کړي او دا هم باید په یاد ولرو چې موضوع په داسې شان هم باید را ونه نغاړو چې ټولې موضوعګانې په ښه توګه تر پوښښ لاندې را نه ولي بلکې دا د خبریال یو مهارت دی چې موضوع داسې را ونغاړي چې هم خپل مخاطب ته پوره مالومات ورکړي او هم لنډ وي چې د خپل مخاطب حوصله له منځه یونه سي او که چېرته ستاسې رپوټ ډېر اوږد وي نو باید دېته کلکه پاملرنه وکړئ چې جملې او پارګرافونه داسې ځای پرځای کړئ چې د یوې جملې یا پار ګراف په خلاصیدو سره لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي دېته وهڅوئ چې بله جمله او پارګراف په ډېر شوق او غور سره تعقیب کړي.

**د مخاطب ذهن ته نږدېوالی :**

یو رپوټ هغه وخت د مخاطبینو ذهن ته ډېر نږدې کېږي چې په هغه کې خبري ارزښتونه پراته او د خلکو له منځه وي، خلک دېته وهڅوي چې ټوله موضوع په ډېر شوق او ذوق سره تر پایه پورې تعقیب کړي او یوه موضوع هغه وخت د خلکو ذهن ته نږدې وي چې مخاطب په هغې کې خپل ځان و ویني او موضوع د هغه پر ژوند پورې تړلې وي او د هغوی د غوښتنو مطابق موضوع شرح کړي. خبریال باید پر دې وپوهیږي چې کومې داسې لارې چارې شته چې د هغه مخاطب ځانته را کاږي او باید له خپل ځان څخه وپوښتي چې نور داسې څه شته چې مخاطبین ځانته را جلب کړي، خبریال باید پر دې پوه شي هر څومره چې موضوع د زمان یا وخت له پلوه مخاطب ته نږدې وي په هماغه اندازه به موضوع د مخاطبینو له پاره په زړه پورې وي.
دغه راز، ډېر هغه څه چې د مخاطبینو په ورځني ژوند کې د ارزښت وړ وي باید یو خبریال هغه ځانته مالوم او بیا پر هره موضوع ځانګړې ځانګړې غور وکړي چې هغه لارې چارې ولټوي چې رپوټ مخاطبینوته په زړه پورې کوي آن تر دې چې په لیکنه او کلیمو دې هم پوره غور وکړي چې د خلکو له پاره نور هم په زړه پورې شي. یو تکړه خبریال تل کوښښ کوي چې داسې موضوع ګانې و ټاکي چې خبري ارزښتونه ولري، دخلکو پر ژبه وي، د خلکو له منځه وي، د خلکو پر ژوند پورې تړلې وي او همداشان، د دوی په ژوندانه کې د ارزښت وړ او په ورځنیو

چارو کې ګټه ور ورسوي. که چېرته یوه رسنۍ که هغه برېښنايي وي او یا هم چاپي داسې موضوع ګاڼي وټاکي نو د خلکو په ورځني ژوند کې به د ارزښت وړ وګرځي او خلک به په پوره ډول سره هغه آوري، ګوري او لولي.

**ملي او ټولیز ارزښتونه:**

یو خبریال باید په ټولنه کې د دیني او ملي ارزښتونو درناوی وکړي او په درنه سترګه ورته وګوري ځکه خبریال د قوم، توکم، مذهب او داسې نورو له پاره کار نه کوي. د خبریال کار عام وي او پر ټوله ټولنه پورې اړه لري نو ځکه خو باید د ټولو دیني او ټولنېزو ارزښتونو ساتندوی وي او په خپلو لیکنو او رپوټونو کې داسې څه ونه کاروي چې هغه زموږ پر دیني او کلتوري مسئلو بد ه اغیزه وکړي. د یوه ښه خبریال لیکنه او رپوټ خلک یوالي ته هڅوي، هیڅ داسې څه چې هغه ټولنې ته زیان رسوي نه لیکي او نه یې هم رپوټ ورکوي ځکه د یوه خبریال له پاره د ټولنې کلتور ډېر ارزښت لري. یو تکړه خبریال په خپلو لیکنو د ټولنې وګړي پر ښو لارو چارو بیایي او هغوی ته ښې او سالمې لارښونې کوي آن تر دې چې خلکوته له خپلو ورځنیو ستونزو څخه د خلاصون لارښوونه کوي او هغوی ته سمه او ښه لاره ور ښیي چې دا هم د خبریال یوه غوره ځانګړ تیا ده چې، غواړي په ټولنه کې د خلکو زړونو ته لار ومومي او هغه خبریال چې د خلکو په زړونو کې ځای ولري نو هغه تل په ټولو ورځنیو چارو کې بریالی او پیاوړی وي او په ښه ډول سره کولی شي چې د خلکو ستونزې پیدا او بیا د حل لارې چارې ورته وټاکي.

د خبریال سپېڅلې دنده دی اړباسي چې ټولنه او د هغې وګړوته سمه او نیغه لار ور ښیي او د هغوی ورځنیو ستونزو لارې چارې په توګه کوي او د ټولنیز ژوند لورته یې لارښوونه وکړي. همدا شان، خبریال د خبریالي قانون او اساسي قانون په کلکه پر ځان تطبیقوي او د هغه په مراعاتولو خپل ځان اړ بولي، خبریال هڅه کوي خلکو ته د خپلو لیکنو او رپوټونو په چوکاټ کې د هغوی د ستونزو قانوني لارې چارې ور وښیي او ټولنې ته د خدمت جوګه شي چې د یوه ښه خبریال یوازینۍ هیله هم د خلکو او ټولنې خدمت دی.

**زړه راښکونکې پایله :**

څرنګه چې تاسې پوهیږئ چې په رادیویي او تلویزیوني خپرونو سره شوني ده چې یو بل کار هم ستاسې مخاطب تر سره کړي، په ځانګړې توګه له رادیویي خپرونو سره نو په کار دا ده چې تاسې خپل رپوټ یا خپرونه داسې جوړه کړئ چې د اوریدونکي له پاره زړه راښکونکي وي داپه دې مانا چې که چېرته ستاسې مخاطب اوریدونکي او لیدونکي په کوم بل کار هم بوخت وي نو ستاسې خپرونه او رپوټ یې باید ځانته را و کاږي او دغه ټکي ته یې پام را اړوي چې باید خپل کار پرېږدي او خپرونه یا رپوټ واوري او یا لږ تر لږه که په کار هم بوخت وي ډېره پام یې ستاسې د رپوټ اوخپرونې لور ته وي چې دا د یوه تکړه رپوټ جوړونکي ځانګړی مهارت دی. بل که تاسې غواړئ چې رپوټ مو داسې ځانګړتیاوې ولري نو ډېره هڅه وکړئ چې په هغه کې بیلابیلو غږونو ته ځای ورکړئ ځکه ستاسې مخاطبین هم نه غواړي چې ډېرې خبرې تاسې وکړئ، هغه غواړي چې د موضوع په هکله بیلا بیل نظرونه واوري، ویې ویني او یایې ولولي، نو خبریال هم باید هڅه وکړئ چې په ډېرو جذابو غږونو خپله خپرونه او رپوټ لا ښکلی کړی کېدی شي چې په یوه ښه خپرونه او رپوټ کې د خلکو غږ، طبیعي غږ، د سرچینو غږ، د کارپوهانو غږ او هنري غږونو څخه ګټه واخستل شي، که چېرته یو رپوټ او خپرونه دا ټولې ځانګړتیاوې ولري نو هغه به خامخا زړه راښکونکي وي او خلک آن که په یوه بله دنده کې هم بوخت وي ستاسې خپرونه او رپوټ به یې هم له یاده نه وي ایستلی، خو که چېرته یو ښېز(یو نواخت) یوازې تاسې خبرې وکړئ او د یوې پیښې یا موضوع په هکله مالومات ورکړئ که څه هم ستاسې مالومات به مستند او قوي وي خو بیا به هم د خلکو له پاره زړه راښکونکي نه وي، چې دابه دیوه رپورټر یا خبریال له پاره ډېره ستونزمنه خبره وي ځکه چې دده هغه هڅې چې د رپوټ یا خپرونې د جوړولو له پاره یې کړې، بېځایه وي.

تاسي به ځيني داسي کسان وينئ چې په ساعتونو ساعتونو به يا سندرې آوري يا به تلويزيون ويني او يا به هم مطالعه کوي چې ښايي خلکوته د حيرانونکي وي چې دغه کس څومره حوصله لري چې هيڅ نه ستړى کيږي چې د دا ډول کسانو فيصدي بيخي کمه وي. د ځينو ارواپوهانو په آند: ټول انسانان دا وړ تيا لري چې له ۵ څخه بيا تر ۷ دقيقو يوه موضوع له ستړيا پرته، واورئ او يا هم ولولئ نو دا په دې مانا ده چې خبريال بايد هڅه وکړي چې خپل رپوټونه په ځانګړې توګه خبري رپوټونه داسي تنظيم او ترتيب کړي چې لنډ خو ډيرڅه ور کې نغښتي وي او ستاسي د مخاطبينو له پاره په زړه پورې وي، خوبيا هم ځيني مالوماتي رپوټونه کېدى شي چې ډير اوږده وي نو ښه خبره به داوي چې په هغو کې له بيلا بيلو غړونو څخه استفاده و شي او خلک دېته و هڅوي چې د دوى خپرونې او رپوټونه په ډيره لوالتيا ولولي، واوري او يا هم ووينې.

که چېرته يوه خپرونه يا رپوټ بيخي ډېر اوږد وي نو دا خبره سمه ده چې غوږونه به يې آوري خو ماغزه او ذهن به حتما ستومانه کيږي او هغه څه چې آوري د اخستنې توان به يې ونه لري او نه به هغه څه چې آوري ذهن يې واخلي، ښه دا ده چې که رپوټ ډير لوى هم وي نو بايد بيلا بيل غږونه ورکې وي چې د همدغو غږونو په سبب چې ستاسي اوريدونکي، ليدونکي او لوستوونکي دېته وهڅوي چې ستاسي رپوټ او خپرونه واوري ويې ويني او يا يې ولولي .

ډير بد رپوټ او خپرونه هغه دى چې دومره بې مزې وي چې مخاطب داسي فکر کوي چې هيڅ کوم څه يې نه ليدلي، نه يې آوريدلي او نه يې لوستلي، دا ټول هغه وخت شوني دي چې رپورټر اصلاخپلي خپرونې او رپوټ ته پاملرنه، نه کوي او تر ټولو مهمه خبره دا چې ځيني خبريالان آن خپل مخاطبين نه پيژني، نو ځکه خو يې خپرونه او رپوټ خلک سخت ستړي او ستومانه کړي.

ښه رپوټ هغه دى چې ستاسي مخاطبين يې سره له او ږدوالي ولولي، واوري او يايې ووينې او په هغه کې هغه لازم او مهم ټکي ځانته مالوم کړي چې د دوى په ورځنې ژوند کې د ارزښت وړ وي او ستاسي پر مخاطبينو داسي اغيز وکړي چې آن تمه يې نه کيږي چې داسي لوى اغيز به پر مخاطبينو ولري او که نه نو بيا به ستاسي هغه انرژي، کاغذ او د قلم رنګ مو چې مصرف کړى هسې بېځايه وي او تر ټولو مهمه دا چې ستاسي وخت به هسې ضايع کيږي .

### دوهم بحث د رپوټ ليکلو له پاره لس نړىوال معيارونه [62]

د خپلواک ژونالست په توګه، تاسي اړ ياست چې خپل ځان د عامو وګړو (تبعه) خدمتګار وګڼئ.

لاندې ۱۰ نړيوال معيارونه دي چې د ليسا سچنېل لنجر(Lisa Schnelllinger) او دانش کړوخيل لخوا انکشاف ورکړشوى دى. دانش د پژواک آژانس رئيس دى او لېسا په دغه آژانس کې کار کوي. نومړو دغه معيارونه هغه وخت رامنځته کړل، کله چې دوى په افغانستان کې له IWPR (جګړې او سولې د رپوټ ورکونې انسټيټوټ) سره کارکاوه.

له هر معيار نه وروسته يوه پوښتنه راځي چې تاسي بايد دا پوښتنه مخکې له دې چې هر رپوټ ليکئ، له خپل ځان څخه وپوښتئ چې باوري شئ چې تاسي د خپل اوريدونکي اړتياوو ته خدمت کوئ. يو د هېواد يو عام وګړى په خپل ذهن کې رسم کړئ - و وايئ چې هغه بزګر چې ټول عمر په کلي کې ژوند کوي، يا يو هټيوال (دوکاندار) چې په کابل کې اوسيږي – او په اړه يې فکر وکړئ چې ستاسي رپوټ ته غوږ نيسي يا يې لولي.

---

62 د جن فريستر لاسی منول انترنيوز نيت ورک افغانستان- کابل

**۱. پام اړونه:** که چېرې رپوټ پام اړونکي نه وي، هیڅوک به یې و نه لولي او د هېواد وګړي به ورځخه خبر هم نه شي ،آیا لوستوونکی به دغه رپوټ ته پاملرنه وکړي؟

**۲. پر وختوالی.** خلک اړتیا لري پر خپل وخت مالومات ترلاسه کړي چې په بشپړه توګه پوه شي او کېدی شي ځواب یې کړي ،آیا لوستوونکي به د هغه ځیز په اړه چې نوی دی څه زده کړي؟

**۳. کره والی (سموالی).َ** باید کوښښ وشي چې مالومات یقیني او باور ترلاسه شي چې رپوټ پر حقیقتونو او باوري سرچینو ولاړ دی ،آیا پر دغه رپوټ به د مخاطب یقین راشي؟

**۴. انصاف.** د رپوټ ټول اړخونه باید په منصفانه ډول برابر شي او ستاسې نظر باید د رپوټ برخه نه وي، چې خلک هغه شی په لاس راوړي چې پرې پوهېدو ته یې اړتیا لري او د دغو مالومات پربنسټ بې پریکړې وکړي، آیا لوستونکی به په دغه رپوټ باور وکړي؟

**۵. شرح (لبن).** باید له عمومي وینا(څرګندونې) څخه د حقیقتونو او شرح پر متن ملاتړ وشي، چې پیښې او لانجې روښانه شي ،آیا لوستوونکی به پیښې، خلک او ځایونه په روښانه توګه وګوري؟

**۶. سابقه.** هغه مالومات چې متن پر یوه خبري پیښه یا فیچر- تاریخ – د موخو د څرګندولو – او په فرهنګي عناصرو بدلولی شي د پیښې یا د لانجې د پوهېدلو له پاره مهم دي ،آیا لوستوونکی به د رپوټ پر ارزښت پوه شي؟

**۷. لاربښوونه.** لومړی یا دوه لومړني پراګرافونه باید د لوستونکي پام ځان ته راواړوي، هغه ته بنسټیز مالومات ورکړي او هغه رپوټ ته را وکاږي.

آیا لوستوونکي پوهېږي چې رپوټ د څه شي په اړه دی او یا غواړي چې د رپوټ پاتې برخه ولولي؟

**۸. جوړښت.** رپوټ باید یو منطقي لړ (سلسله) تعقیب کړي چې رپوټ مانا پیدا کړي او د موجود مهال سره همغږي او برابري ولري ،آیا لوستوونکي به پر دې و توانېږي چې رپوټ په آسانی سره له پیله تر پایه تعقیب کړي؟

**۹. نکل کول (را اخیستل).** په رپوټ کې باید د وګړو او همدا شان، د دولتي چارواکو غږونه ښکېل کړل شي او هغه شیان چې دوی ویلي په کره توګه منعکس کړل شي ،آیا لوستوونکي به د خلکو غږونه واوري؟

**۱۰. څرګندوالی (وضاحت).** رپوټونه باید پر هغو ګډو (لغتونو) باندې ولیکل شي چې عادي خلک پرې پوه شي. مغلقه او پیچلې نظریې ساده او آسان کړئ ترڅو هریو په دې توان ولري چې په پوه شي ،آیا لوستوونکي به د رپوټ په ټولو برخو پوه شي؟

**د یوه ښه رپوټ ضروریات او پایله**

څرنګه چې، د یوه ښه رپوټ د لیکلو په هکله پوره مالومات ورکړل شول او د هغه د لیکلو پر معیارونو او ځینې نورو مهمو برخو مو رڼا واچوله نو اوس دا لازمه او ضروري خبره ده چې د یوه ښه رپوټ پر پایله یا نتیجې هم خبرې وکړو.

۱ ـ **تر هرڅه مخکې باید رپوټ د لوستلو وړ وي :** چې دا د موضوع پر ارزښت پورې تړلې خبره ده، هغه موضوع چې خبریال یې ټاکي هغه باید مخاطبینوته د ارزښت او علاقې وړ موضوع وي او په موضوع کې باید یو ځانګړی جذابیت وي، بیا هم په تکراري ډول سره وایم چې ښه رپوټ ښه خبري ارزښتونه ولري.

۲ - **یو ښه رپوټ باید ښه او په زړه پورې ولیکل شي** : په یوه رپوټ کې د رپوټ لیکلو له طریقو څخه استفاده د رپوټ ښکلا نوره هم زیاتوي، کېدی شي ځینې داسې موضوع ګانې وي چې هغه ښه خبري ارزښتونه هم ونه لري خو د لیکلو پر مهال خبریال زیار باسی چې خپل رپوټ په داسې ټکو او کلیمو ښکلی کړي چې هغه د خلکو له پاره د لیکنې په زړه پورې طریقه وي، په یاد ولرئ که چېرې خبریال خپل رپوټ ډېر ښکلی لیکي نو بیا به د هغه په لوستلو کې هم ډېرې آسانتیاوې وي .

۳ - **په دې برخه کې خبریال باید د رپوټ فني او تخنیکي برخې ته ډېر پام وکړي**: په دې مانا چې، خبریال باید هڅه وکړي چې خپل رپوټ ته ښکلی او ښه سرلیک، لید یا پرانیسته ورکړي، کله چې یو خبریال خپل رپوټ ته لید ورکوي نو باید هڅه وکړي چې یو جذاب او په زړه پورې لید وي چې لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي ځان ته را وکاږي او دا سې یوه جمله باید په لید یا پرانیسته کې وکارول شي چې هغه بشپړه او په زړه پورې وي او د یوه ډېر قوي مطلب رسونکې جمله وي. همداشان، د رپوټ بدنه یاتنه باید ډېر قوي مالومات ولري، له لید یا پرانیستې سره تړاو ولري او هغو پوښتنو ته چې په لید کې لوستونکي، لیدونکي او اوریدونکي ته پیدا شوي په روښانه او پر له پسې توګه ځواب و وايي. خبریال باید دېته کلکه پاملرنه وکړي چې ټولو پوښتنو ته دهغو په ارزښت پرتله ځواب و وايي د کلیمو او جملو تسلسل ته له ډېر ژور لید لوري وګوري او داسې جملې وکاروي چې هغه نه ستومانونکې او ډېری عام فهمه وي، له بېځایه لغت راوړنې څخه باید په کله ډډه وشي، ځکه د خبریال هدف د خلکو پوهه ده نه دا چې داسې لغتونه وکارو چې اوریدونکي او لیدونکي پرې و نه پوهیږي خوپه چاپي رسنیو که عکس ددې، کېدی شي خبریال د خلکو پوهاوي په خاطر ځینې لغتونه راوړي.

**۴- ستاسې رپوټ باید یو مناسب حجم ولري**: یو خبریال باید پر دې وپوهیږي څومره چې کېدی شي رپوټ لنډ وي هغومره به ښه وي خو دغه لنډوالی به داسې بد لنډوالی نه وي چې، د موضوع اصل او جوهر له منځه یوسي او خلک پرې ونه پوهیږي، موضوع لکه څنګه چې وي په هغه شان خلکو ته ور ونه رسول شي، په دې مانا چې نه ښايي موضوع ته بېځایه شرح ورکړو چې د خلکو له پاره په زړه پورې نه وي او نه داسې لنډه وي چې مخاطبین له هغه څخه هیڅ شی وانه خلي. خبریال باید تل هڅه وکړي چې په رپوټ کې تکراري کلیمې او جملې را نه وړي او خبریال له خپلې اصلي موضوع څخه هیڅ کله هم ونه وزي. کله کله داسې هم پیښیږي چې خبریال یوې موضوع ته چې د خلکو له پاره نوې وي او شرح ته اړتیا ولري شرح دې ورکړي خو خپل او د خلکو وخت دې په پام کې ونیسي.

کېدی شي دغه ټول کارونه یو خبریال د څو کلونو له تجربې څخه لاس ته راوړي خو بیاهم یوه ټکي پاملرنه اړینه ده هغه دا چې خبریال تل باید داسې فکر ونه کړی چې لیکنه یا رپوټ یې باید لنډ وي، کېدی شي کله کله خبریال تجربه و نه لري او یا د ښې لیکنې هنر ونه لري موضوع له ستونزو سره مخامخ کړي نو ښه خبره به دا وي چې خبریال له خپلې لازمې تجربې او مهارت څخه استفاده وکړي او هرڅه ته د هغه د ارزښت په اندازه شرح ورکړي، نه دا چې د خپلې خپرونې یا رپوټ د وخت پوره کولو په خاطر ځینې داسې کم ارزښته موضوع ګانوته اشاره وکړي چې هغه د خلکو له پاره په رښتیا سره بې خونده وي چې، له دې سره هم د خبریال موقف صدمه ویني او هم رسنی خپل مخاطبین له لاسه ورکوي.

۵ - **په رپوټ کې باید ټول قانونی ټکي رعایت شي:** دا ډېره ستونزمنه خبره ده چې یو رپوټ ټولې هغه ځانګړتیاوې ولري چې په دې ټولګه کې راغلي، خو په ټولو رپوټونو کې باید قانوني ټکو ته کلکه پاملرنه وشي، ځکه قانون د ټولو خبریالانو او رسنیو له پاره یوشان دی او ټول باید قانون پر ځان تطبیق کړي، هغه څه خپاره نه کړي چې قانون منع کړي، لکه : افترا، سپکاوی، قذف اوداسې نور ... او همداشان، داسې موضوع ګانې چې د ټولنې نیک اخلاق زیانمن

کړي او یا هم د چا شخصي حریم ته زیان ورسوئ، په کلکه ډډه وکړي، دا یوه لازمه او اړینه خبره ده چې یو رپورټر مخکې له دې چې د یوې موضوع په هکله پلټنه پیل کړي او یا یې وټاکي د هغې د پلټنې په خاطر باید قانوني لارې چارې ولټوي او له قانوني لارو چارو څخه استفاده او خپل رپوټ چمتو کړي.

۶ - **په رپوټ کې باید د مخاطب غوښتنې، سلیقه او هیلوته پام وشي:** په یوه رپوټ کې که خبریال خپلې شخصي ګټې ځای پرځای کوي او له خپلو شخصي ګټو وټو څخه کار اخلي نو دا به د خبریالي له قانون او اصولو په واقعي ډول لویه سرغړونه وي، دې ته باید کلکه پاملرنه وکړو چې رسنۍ یوه ټولېزه وسیله ده او ټول خلک د همدې رسنۍ په وسیله له پیښنو خبرېږي نو دا یوه عامه وسیله ده که چېرته یې څوک په خاصه توګه استعمالوي نو هماغه خاص پرګنه یا طبقه به یې مخاطبین هم وي او عام خلک هغه د یوې بې پرې رسنۍ په نوم نه پېژني او ټولو خپرونو او رپوټونو ته به یې د شک په سترګه ګوري او هیڅکله هم باور نه پرې کوي.

**یوښه رپوټ باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:**

رپوټ باید عیني وي یانې پر سترګو لیدل شوی وي، موږ هیڅکله هم کوم خیالي شی په رپوټونو کې نه شو ځای پرځای کولی او یا داسې خبرې چې په هغو کې شک وي خو بیا په ځینې توصیفي رپوټونو کې کېدی شي هغو خیالونو ته چې واقعیت ولري ځای ورکړو.

رپوټ دیوه رپوټر هغه اخستنه ده چې د یوې پیښې، بدلون او یا هم د یوه شخص د ژوند د واقعیتونو پر بنسټ ولاړ وي خو په دی شرط چې هغه پیښې خبرې ارزښتونه ولري او خبریال په مسلکي او هنري ډول چمتو کړي. خبریال له خپلو تجربو څخه په استفادې بیا هم د پیښې په هکله باید په ډېره ځیرکتیا سره پلټنې وکړي چې د رپوټ صحت ته زیان او ضرر ونه رسیږي .

رپوټ له دوه لوري اړیکي څخه شمېرل کېږي چې له یوه لوری پر خبریال او رسنۍ پورې تړاو لري او له بل لوري پر پیښه پورې چې، خبریال پرې رپوټ جوړوي.

رپوټ باید څو خبرې ارزښتونه ولري لکه پر خلکو اغیز، شهرت او داسې نور ... او له کومې پیښې څخه چې موږ رپوټ جوړوو باید هغه د اوریدونکي، لوستوونکي او لیدونکي له پاره ارزښت ولري او د خبریال د سترګو لیدلی حال وي چې وکولی شي د پیښې په هکله هر اړخیزه مالومات خلکوته ورکړی او د رپوټ لیکلو طریقه باید په دقیق ډول سره تر څیرنې لاندې ونیسي.

د رپوټ دیننی یا داخلي او بهرني لاملونه پر رپوټ ډیر اغیز لري، دینني یا داخلي لاملونه هغه دي چې خبریال یې باید د پیښې په هکله د خپلې رسنۍ پر اصولو برابر را ټول او خلکو ته د هغوی د پوهې له کچې سره سم وړاندې کړي او بهرني لاملونه هغه دي چې رپورټر د خپل رپوټ له پاره له خلکو او یا هم خپلو سرچېنو څخه نظرونه اخلي او هغه د رپوټ په چوکاټ کې خلکو ته وړاندې کوي.

**د یو رپوټ پلان جوړول – پام اړونه او پر وخت والی**

کله چې د یوه رپوټ پلان جوړوئ، تاسې باید دوه لومړني نړیوال معیارونه په پام کې ونیسئ: پام راړونه او پر وخت والی.

تاسې باید له هغو سرچېنو چې مرکه ورسره کوئ، د هغو پوښتنو چې غواړئ ؤيې پوښتئ یو لست جوړ کړئ.

**پام اړه ونه – آیا لوستوونکي به دغه ریوټ ته پام وکړي؟**

که یو رپوټ په زړه پورې نه وي، هیڅوک به ورته پام ونه کړي. ډېر لاملونه شته چې کولی شي یو رپوټ ستاسې د اورېدونکو له پاره په زړه پورې کړي، چې یو څو یې په لاندې ډول په ګوته کوو:

خورا مهم رپوټونه د عادي وګړو پر ژوند اغیزه لري، ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**غیر عادی یا غیر مترقبه (ناڅاپه) رپوټونه.** ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**وتلي، مشهور یا تاریخ جوړونکي خلک.** ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**ځایي (سیمه ییز)** رپوټونه چې اورېدونکو ته نږدې وي. د پولې هغه غاړه رپوټونه. ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**خوځنده (داینامیک) رپوټونه** چې په یوه پېښه یا پلان کې چې یون (حرکت)، تشنج، نارضایتي، رمز او شک ولري. ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**تفریح (سات تېري)** . خلک د خندونکو یا بوختونکو شیانو له اورېدو، لېدو او لوستو څخه خوند اخلي. ځینې بېلګې یې کومې دي؟

**د پام اړونې چک لست**

آیا یو عام وګړی به "ښه څه" یا " د دې په اړه څنګه؟" یا " زما یې پرې څه"؟ و وایي؟

دا خبر به څنګه عام خلک تر خپلې اغېزې لاندې راولي څومره خلک او چېرته؟

دا ډول شی څو ځله پېښېږي؟ آیا دا هغه شی دی چې خلک یې په اړه غږېږي د دې له پاره چې یو غیر عادي شی دی؟

آیا دا هغه عنوان دی چې لوستونکي ځان ته راکاږي(پام یې اړ وي)، دې ته یې اړ باسي چې د نورو جزیاتو په هکله یې پوه شي؟

**رپوټ ته ښه انرژي او ځواک ورکوي؟** آیا په دې هکله د کسانو او ګروپونو ترمنځ یون، تشنج، یا د نظر توپیر شته؟ آیا دلته رمز، یا شک شته؟

**آیا تفریحي دی؟** آیا خلک به یې د خپل ځان له پاره په زړه پورې ومومي؟

**آیا په دغه رپوټ کې د کوم مشهور او وتلي کس** ؟ یا کوم ګوند یادونه شوې ده؟

**آیا پېښه په افغانستان کې رامنځ ته شوې ده؟** یا دا چې په داسې سیمه کې چې د لوستونکو د پام وړ ده رامنځته شوې ده – لکه پېښور، یا تهران؟

**د پر وختوالي چک لست**

کومې پېښې چې په رپوټ کې کښلي دي، څومره وخت وړاندې رامنځته شوې دي؟ آیا تر اوسه هم خلکو ته خبر جوړونکي ښکاري؟

که پېښې دوام لري، آیا دغه رپوټ د اوس مهال (جاري) مالومات په خپل جوړښت کې لري؟

که چېرې د دغه رپوټ موخه دا وي چې د پولې د ستونزې په اړه د اورېدونکو له پوهې سره مرسته وکړي، آیا دا ستونزه له اوسنیو پېښو سره تړاو لري؟

آیا دغه رپوټ لوستونکي له اړونده او مهمو تازه پېښو سره چې په نږدې تېر وخت کې رامنځته شوې دي، آشنا کوي؟

## دریم بحث

### د محتواله نظره د رپوټ ډولونه:

( خبري رپوټ ، څېړنیز رپوټ او تحلیلي رپوټ )

**خبري رپوټ** : دغه ډول رپوټونه د حقیقتونو او واقعیتونو پر بنسټ جوړیږي چې په هغوکې رپورټر ټولو هغه اړینو مالوماتو، شمیرو او ارقامو ته ځای ورکوي چې یو لوستوونکی ، اوریدونکی او لیدونکی ورته اړتیا لري او د دوی په واک کې یې ورکوي. دغه ډول رپوټونه تر ډېره لنډ وي پرته له دې چې د پیښې په هکله ډېر مالومات ورکړي پر لړو او ضروري مالوماتو بسنه کوي لکه: ورځني لنډ رپوټونه، میاشتني لنډ رپوټونه او یا هم کلني لنډ رپوټونه او داسې نور ...

### دخبرې رپوټ د لیکلو مرحلی ( پړاوونه):[63]

په خبري رپوټونو کې کېدی شي له دوه ډوله خبرونو سره مخامخ شو.
١ - هغه خبرونه چې په هکله یې مخکې له مخکې خبر ولرو. لکه : خبري ناستې او داسې نور ... .
٢- هغه پیښې چې آني رامنځ ته کیږي لکه ځانمرګه بریدونه اوداسې نور..
چې د رپوټ په لیکلو کې معمولاً له همدې دوه ډوله پیښو څخه استفاده کیږي ، چې هره یوه یې ځانګړي پړاوونه بشپړوي او رپورټر باید دېته جدي پام وکړي چې هره پیښه له هر اړخیزو زاویو څخه وګوري، چې د پیښې په هکله تازه او نوي مالومات لاس ته را وړي.

تل په رسنیو کې خبر د یوې پیښې لومړنی انعکاس دی، خو که چېرې پیښه ډېرو جزیاتو ته اړتیا ولري او یا هم ډېر ارزښت ولري نو خبریال پیښه له ټولو زاویو څخه ګوري او په هکله یې بیا خبري رپوټونه لیکي چې د لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي له پاره بشپړ مالومات را ټول او ورته ویې رسوي.

د بیلګې په توګه که چېرې یوه لویه مغازه لوټ شي نو په خبر کې یوازې دا اطلاع مخاطبینو ته ورکول کیږي چې پر یوه مغازه وسله والوکسانو برید وکړ چې درې کسان ورکې ټپیان او د مغازی ٢٠٠٠٠٠ لکه امریکایي دالریې هم له ځانه سره یوړل... .
نو په دی صورت کې که خبریال د پیښې په جزیاتو پسې وګرځي نو د خبر یو ډېر مهم ارزښت چې سرعت دی له منځه ځي او له بل لوري اوریدونکي هم تمه لري چې د پیښې په هکله ډېر جزیات تر لاسه کړي نو خبریال د خلکو له اړتیاسره سم ځیني مهم جزیات د خبري رپوټ د برابرولو له پاره را ټول او خپلو مخاطبینو ته یې وړاندې کړي.
خبریال باید دېته ښه پام وکړي چې د پیښې په هکله مهم جزیات تر لاسه او باید پر دې و پوهیږي چې له چاسره باید وګوري؟ له چاڅخه د پیښې په هکله کره مالومات ترلاسه کولی شي او له کومو سرچېنو څخه استفاده وکړي ؟

---

63 د پښتنو کولو اصول – شیرانی پرویز

چې رپورټر په دغه وخت باید له لاندې کسانو سره لیدنه او کتنه وکړي:

رپورټر د داسې رپوټونو لیکلو له پاره باید د عیني شاهدانو، د پیښې زیانمنو کسانو او په پیښه کې د ښته مسوولینو او همداشان، جګپوړوچارواکو سره خبرې وکړي او باید پیښه له ټولو اړخونو په ښه بڼه و څېړي او خلکو ته یې د ټولو جزیاتو په هکله پوره پوره مالومات ورکړي.

خبریال باید له ځانه و پوښتي چې نور څه ډېر زیات اړین دي؟ چې د خپل مخاطب له پاره یې په رپوټ کې ځای پرځای کړي. خبریال باید په ډېر دقت سره پیښه له هر لوري وګوری خو خبریال د ا نه هیره وي چې سرعت هم په رپوټ کې ډېر لوی ارزښت لري.

اړینه ده چې، خبریال په ډېر دقت خپلې سرچینې و ټاکي او په سرعت مرکې وکړي خو بیا دې هم دقت نه هیروي چې د خبریالي یو ډېر مهم اصل دی. همداشان، خبریال له خپل آرشیف څخه هم استفاده کولی شي په دغه صورت کې باید خپل آرشیف هم ښه وڅېړي چې د پیښې په هکله یو ښه بګراونډ او ځینې نور مالومات تر لاسه کړي او په دې هکله هم باید و پوښتي چې د دې پیښې لرلید څه دی .
که چېرې رپورټر دغه ټول ټکي چې مخکې مو ولوستل په پام کې ونیسي او ټول خام مواد راغونډ کړي نو بیا به د پیښې په هکله ډېر قوي، مستند او خلکو ته د قناعت وړ رپوټ وړاندې کړي.

د یاد ونې ده چې، کېدی شي خبري رپوټونه په سیاسي، کلتوري، ټولنېزو، هنري، ورزشي او داسې نورو... پیښو کې خپلو مخاطبیو ته وړاندې شي، په دغه ډول رپوټونوکي د خبریال موخه د پیښې هغو جزیات راوړل دي چې، هغه خبري ارزښتونه ولري او خلکو ته د نوي شي په هکله مالومات ورکړي.

**تحلیلي رپوټ :** [64]

تحلیل د یوې پیښې ژورې کتنې ته وایي چې یوه پیښه له بیلا بیلو زاویو وڅېړي او یا هم ښایي د اوریدونکي له پاره ډیره جالبه وي، کېدی شي موضوع خبري هم نه، خو د خلکو له پاره ګونګه او پیچلې وي.

کېدی شي د تحلیلي رپوټ لید د خبرې رپوټ په پرتله عام وي خو نور ټول اصول یې سره یودي لکه: ښې سرچېنې، توازن، بیطرفي، ښه نقل قولونه او همداشان، په جوړښت کې هم لکه خبرې رپوټ لید، پرانیسته او شالید یا پسمنظر لري. په تحلیلي رپوټونو کې اړتیا نه شته چې حتما باید سرچېنه په لومړي یا دوهم پراګراف کې راشي، خو په تحلیلي رپوټونو کې څرنګه چې له نوم څخه یې ښکاري باید موضوع تر هغو تحلیل او تجزیه کړي چې یو نالوستی مخاطب د موضوع او رپوټ په موخه وپوهېږي.
د تحلیلي رپوټ یوه ښه ځانګړتیا داده چې خبریال باید موضوع ګانې په داسې ډول درجه بندي کړي چې لوستوونکي، اوریدونکي او لیدونکي په ښه توګه ورڅخه اخستنه وکړي او د ابه د خبریال له پاره هم ډېره آسانتیا راولي او په ښه توګه به وکولی شي چې د رپوټ هره برخه په ښه توګه خلکوته په زړه پورې ور ورسوي او له ډېرو پیچلو او یا څو مانا لرونکو جملو په کلکه ډډه وشي.
دلته به د تحلیل له پاره ښه دا وي چې په بشپړه توګه د موضوع په هکله خبرې وشي او یوازې دا په ګوته کړو چې په دغو راټولو شوومو‌ادو کې زموږ مخاطبینو ته کوم شی ګونګ پاتي دی چې زموږ اوریدونکي، لیدونکي او لوستوونکي غواړي پرې و پوهېږي چې، دا د خبرېال یوه ځانګړ تیا ښيي چې هغه د خپل مخاطب اړتیا پیداکړي. که چېرې خبریال ته د خپل مخاطب اړتیا نه وي مالومه نو مخاطب نه شي کولی چې رپوټ په هکله په څه وپوهېږي او یا

[64] (نوی ورخپانه لیکل(حسین قندی، نعیم بدیعی)

هم له خپل رپوټ څخه خوند واخلی او که تحلیلي رپوټونه چې د خلکو له پاره ګونګې او پیچلې موضوع ګانې حل نه کړي او د دوی ټولې ستونزې حل نه کړي نو بیا به د هغه تحلیل خوند او ښکلا له منځه ولاړه شي او خلک به پرې په پوره توګه باور نه کوي نو ځکه خو به یې مخاطبین هم کمیږي.

یو ښه تحلیلي رپوټ کولی شي چې د خلکو په منځ کې ځینې ناوړه پوهاوي هم له منځه یوسي ځکه هغه موضوع چې دوی پرې سم نه پوهیږي او یا هم نه شي کولی چې سمه اخستنه ور څخه وکړي او د همدې موضوع پر سر د دوی تر منځ ستونزې پیدا شوي دي او د اختلاف سبب ګرځیدلې دي، که هغه تحلیلي رپوټونه حل کړي نو بیا به د خلکو ستونزې په پوره ډول سره له منځ ولاړې شي.
که تحلیلي رپوټ د خلکو ستونزې حل نه کړي نو دا به د خلکو له پاره ډیره ستونزمنه وي چې له هغه څه واخلي نو بیا به خلک د داسې رپوټو نو له اوریدو ستومانه او د آوریدو حوصله یې نه لري.
هغه خبریالان چې تحلیلي رپوټونه لیکي ځانګړې پوهه او مهارت لري ځکه د دوی خبري حس دومره غښتلی وي چې له یوه عادي خبر څخه هم ډول ډول تحلیلونه کولی شي او هم ډیر ژر پوهیږي چې په کومه موضوع کې داسې یو ګونګ شی شته چې د رسنۍ مخاطب غواړي پرې وپوهیږي، نو بیا ډیر ژر اقدام کوي او د حل لارې چارې ورته ښیي.
یوښه تحلیلي رپوټ د ګونګې موضوع جرړې وباسي او خبریال هم کوښښ کوي چې په داسې سبک تحلیلي رپوټ ولیکي چې د ټولو خلکو له پاره د پوهې وړ وي چې، همدا به د خبریال د بري یوه لویه برخه وي چې په ټولنه او د خلکو تر منځ د ښه شهرت پیداکړي.

دغه ډول رپوټونه یوه ګونګه او سخته موضوع تجزیه او تحلیلوي چې هغه څه چې د خلکو په ذهن کې ډیره پیچلې وي حل یې کړي. په دغه ډول رپوټونو کې خبریال د پیښې ټول ګونګ اړخونه د خلکو پر ژبه حلوي چې دا ډول رپوټونه د پیښو له تفسیر سره یوځای ده چې په دغه ډول رپوټونو کې د پیښو او ستونزو په حل لاس پورې کیږي او د یوې پیښې راتلونکې ښیي د هغې له پاره د حل لارې په علمي او وړاندیز ډول سره خلکوته وړاندې کوي، کېدی شي چې دا ستونزې ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي، کلتوري، فرهنګي، دودیزې او داسې نورې ... وي .

در پوټ ژبه تحلیلي ژبه ده چې ګنګنې موضوعګانې حل او تجزیه کوي په دغه ډول رپوټونو کې رپورټر رپوټ د کیسې په ډول لیکي خو هیڅکله هم د رپوټ لیکلو له اصولو څخه نه وزي او د خبریالي اصول نه هیروي، په دغه ډول رپوټونو کې د پیښې په هکله ټول تصویر ورکول کیږي چې د خلکو په ذهنونو کې ښه ځای ونیسي او د رپوټ ټول مخاطبین پرې ښه وپوهیږي. دغه ډول رپوټونه داسې خاصیت لري چې پیښه د خلکو په ذهن کې ښه روښانه کړي، ټولې ستونزې ورته حل کړي.

**څیړنیز رپوټ**[65]: څیړنیز رپوټونه د تحقیق او څیړنې پر بنسټ ولاړ دي. تحقیق د یوې پیښې څیړنې او پلټنې ته وایې او د خبریالي په اصطلاح کې څیړنیز رپوټ هغه رپوټ ته ویل کیږي چې یوه پیښه له ټولو زاویو څخه وڅیړي. دغه ډول رپوټ کله خو یوازې څیړنه کوي چې رپورټر ورکي د تازه څیړنو او لاسته راوړنو په هکله خبرې کوي او رپوټر خپل رپوټ د علمي او فني او کله کله د پټو حقایقو د افشاکولو په خاطر استعمالوي. دلته هم رپورټر د څیړنیز رپوټ ټول پړاوونه په پام کې نیسي او د هغومطابق ټولې مرحلې په سمه توګه ترڅیړنې لاندې نیسي.

---

65 نوی ورځپانه لیکل(حسین قندی، نعیم بدیعی (

د تحقیقي رپوټ موخه د یوې موضوع بیلابیلو اړخونو ته ننوتل او د هغو بیلابیلو بعدونو ته ژوره کتنه ده چې په دغه ډول رپوټ کې خبریال د مستند، علمي لاسته راوړنو او د کارپوهانو نظریو پربنسټ د موضوع د بعدونو او اړخونو ښکاره کولو په هڅه کې وي.

د موضوع له ټاکلو وروسته رپورټر خپل تحقیقات د ارزښت په پرتله د رسنی له کړن لارې سره سم پیلوي.

**د تحقیق موخه او هدف:** د مطالعې وړ موضوع په طرح کې محقق باید د انتخاب شوې موضوع له تحقیق څخه خپله موخه دقیقاً روښانه کړي او هغه پایلې چې د تحقیقاتو د فرضیو په هکله دي په بشپړه توګه بیان کړي، په دې توګه هغه او ملګري یې له پیله پوهیږي چې د څه په هکله ګرځي او ولې؟ دا موضوع هم یوه له هغو مسئلو څخه ده چې د محقق له پاره مخکې له تحقیق نه ډیر زیات ارزښت لري. نوځکه خو کولی شو داسې نتیجې ته ورسیږو چې د مطالعې وړ موضوع طرح د تحقیقي موضوع د تعریف او د هغو بعدونو او ځانګړتیاوو د روښانولو په مانا یادیږي. په تحقیقي رپوټونو کې د وخت په شان محدودونکی عامل د خبري رپوټ په پرتله لږ ځان پر رپورټرتحمیلوي نو پردې لحاظ رپورټر د اطلاعاتو راټولولو او د مطالبو د تدوین له پاره ډیر وخت لري.

په تحقیقي رپوټ کې د رپورټر هنر په دې کې دی چې وکولی شي له هرې سرچینې نه په استفادې او د خبر د سطحې اړخونو د امکان یا د نظر وړ لارو چارو سره د موضوع تل ته ځان ورسوي او له هغه څه پرده پورته کړي چې د خلکو له نظره پټ شوي او ننداري ته یې وړاندې کړي او د موضوع تیاره زاویې روښانه کړي.

تحقیقي رپوټ کله د پیچلو او پر فرد پورې منحصر موضوع ګانو کې شاملیږي او هغه څه چې له خلکو او ټولنې نه پټ دي بربنډوي یې.

په تحقیقي رپوټ کې د رپورټرانو هڅه په دې کې ده چې د یوې پیښې انګیزې، علل او عوامل کشف کړي او په دې لاره کې د کتابتونونو، د کارپوهانو نظریو او د سرشمیرنو له تحلیل څخه مرسته تر لاسه کړي. ځینې تحقیقي رپوټونه کولی شي داسې حقایق او واقعیتونه منعکس کړي چې له هغو څخه اطلاع عامو خلکو ته په ګټه وي او ځینې تخصصي تحقیقي رپوټونه کولی شي ګټوراطلاعات د کارپوهانو په واک کې ورکړي.

رپورټران کولی شي د مهمو موضوع ګانو په غوره کولو او په اړه یې د جامع تحقیقي رپوټونو په برابرولو سره مسئلې تازه او د عامو خلکود پام وړ وګرځوي . په علمي او منطقي توګه د ستونزو تشریح، له مکتومه او نه ویل شویو حقایقو نه پرده پورته کول او د مخاطراتو په هکله د حساسیت رامنځته کول امکان لري په ټولنه کې نوي فضا رامنځته کړي او د ټولنې د خلکو او مدیرانو پروړاندې نوې او تازه موضوع ګانې وړاندې کړي.

ځینې کسان تحقیقي رپوټ ته فرانسوي کلیمه ( ENQUE TE) چې د تحقیق او پوښتنې مانا لري استفاده کوي. په اصل کې په انګلیسی ژبه ورته ( INQUIRY ) د تحقیق یا Investigation چې د تحقیق او رسیدنې په مانا ده ویل کیږي . په هغو رپوټونو کې چې د تحقیقي پانه یادیږی رپورټر د پراخو څیړنو او تحقیقاتو هڅه کوي، هغه اسرار روښانه کړي چې یو یا څوکسان یې د روښانه کېدو مخه نیسي. ددغو رپوټونو له جملې څخه یو هم د واټرګیټ مهم رپوټ ؤ چې د واشنګټن پوست ورځپاڼې دوو خبریالانو ورسته له دوو کلونو تحقیق او څېړنې د ټاکنیزو سیالیو پرمهال د امریکا د ولسشمر ریچارد نکسون له سرغړونو نه پرده پورته کړه او هغه یې استعفا ته اړکړ.

دغه ډول رپوټونه ډیرې ستونزې اولانجې له ځانه سره لري او ښایي د رپوټ چمتوکول میاشتې او کلونه وځنډیږي او د اطلاعاتو او خبرونو د راټولولو په برخه کې د رپورټر پرځواک او توانایي پورې تړاو لري، سربیره پردې رپورټر باید تیزبینی، خبري شامه او لازمه حوصله د سپنسي د سرموندلو له پاره ولري.

**تحقیقي رپوټونه دوه ډوله دي:** ۱- ساده ۲ – مرکب

**۱- ساده تحقیقي رپوټونه:** د دغه ډول تحقیقي رپوټ اصلي عناصر: لومړني اطلاعات، شمیرني، ارقام او لازم مستندات او همدارنګه د موضوع په هکله د کارپوهانو نظرونه ترهغه حده چې عامو خلکو ته د استفادې وړ وي. دغه ډول رپوټونه عموماً تخصصي ورځ پاڼو او مطبوعاتو ته برابریږي.

**۲ - مرکب تحقیقي رپوټونه:** په مرکب تحقیقي رپوټونو کې پراخو اطلاعاتو، د نظر سنجیو او ارقامو تحلیلونو او د سندونو او دکتابتونو او جامع تحقیقاتو نه ورکې کار اخیستل کیږي . دغه ډول رپوټونه عمداتاً په تخصصي خپرونو کې او د کارپوهانو او د موضوع د علاقمندانو له پاره برابریږي.

یو ښه څیړنیز رپوټ لاندې ځانګې لري:

**توصیف:** په دغه پړاو کې رپورټر موضوع یا پیښې ته شرح او توضیح ورکوي.

**پراخوالی:** له مسوولینو او ټولو سرچینو سره د یوې موضوع روښانول او د هغې د ټولو اړخونو څیړل.
**د موضوع تعقیب:** د موضوع په هکله دشته نظرونو او تصویرونو راوړل.

**پلټنه:** په ټولنه کې د نویو او تازه عناصرو لاسته راوړل.

**تشریح:** د ورو او غټو پیښو یو له بل سره تړاو، کره کتنه، شمیرې عددونه او د د قیقو ارقامو لاسته راوړنه.

**جذابیتونه:** د نظرونوکارول له ګمانونو او شکونو څخه ډډه او د ښو صفتونو لاسته راوړل.

**دنظر ورکول:** له ټولو نیمګړتیاوو څخه لرې تښتېدل او رپوټونو ته د واقعیت له زاویې لیدنه او د رپوټ دټولو کمیو او نیمګړتیاوو لرې کول او د پیښې په هکله د ډیرو ښو او قوي نظرونو راټولول.

**د اجرأ له اړخه د رپوټ ډولونه:**[66]

له جزیاتو سره یوه لوړخبر ته رپوټ ویل کیږي . په تخنیکي لحاظ رپوټ دري ډوله دی:

۱- **دسپیچ – Dispatch**: په لغت کې ژرتر سره کوني ته ویل کیږي اویا مخابره- لیږدول- په یوه خبر کې د ټولو مالوماتو له پاره د نورو له غږونو پرته یوازې د ویونکې غږ ته دسپیچ وایي چې، په رادیو او تلویزیون کې یې وخت له ۳۰ څخه تر ٤٥ ثانیو پورې ټاکل شوی دی.

**۲- رپ – Wrap:** په لغت کې پیچلو ته وایي او د ټولو مالوماتو له پاره د سرچینې (مبنع) غږونو سره نورو غږونو ته رپ وایي چې وخت یې له ۵۰ څخه تر ۹۰ ثانیو پورې ټاکل شوی دی .

۳- پکیج Package : په لغت کې غوټي ته ویل کیږي او د یو مکمل مالوماتي خبر له پاره مختلف غږونه لکه: د خلکو او بیلابیلو سرچینو غږونه او محیطي غږونه (سوند افکت) ته پکېج وایي چې ۳ څخه تر۵ دقیقو پورې وخت ورته اټکل شوی دی، خو ځینې مالوماتي پکېجونه بیا کېدی شي تر ۱۵ دقیقو پورې هم اوږده شي.

**نوټ:** یادشوي درې واړه رپوټونه په چاپي رسنیو کې هم خپریږي.

[66] رادیو ژورنالیزم لیزا آپتن آسترلیایی

کله کله پورتني درې ډوله رپوټونه په دغو نومونو هم یادیږي:

**کاپي ستوري Copy story:** ځیني وختونه دسپچ ته خبریال کاپي ستوري هم وایي چې په جوړښت کې دواړه یو شان دي یوازې په نوم کې له بل سره توپیر لري .

**غږلرونکي رپوټونه Voice report:** غږ لرونکي رپوټونه کټ مټ لکه رپ غوندې جوړښت لري چې د خبریال له غږ څخه پرته د سرچینې ځیني غږونه ورکې وي.

**د غږ ټوټه Sound bitts:** سوند بایت هغو رپوټونو ته ویل کیږي چې کله ویاند د خبرلید او ځیني نور جزیات وړاندې کړی نو بیا له ۲۰ څخه بیا تر ۴۰ ثانیو د موضوع اړونده سرچینې غږ اخلي او په رپوټ کې یې ځای پرځای کوي.

**خبري سرچینې:** دا یوه ټولیزه قاعده ده چې د خبر سرچینې چې هر څومره ډیرې وي په هماغه اندازه د خبر او رپوټ ارزښت ډیریږي. تاسي چې هر څومره مالومات ولرئ په هماغه اندازه د خبر پیاوړتیا او قوت ښیي، خبریال باید تل کوښښ وکړي چې د خپلو سرچینو نومونه واخلي او خپلې سرچینې دېته وهڅوي چې خپل اصلي او بشپړ نوم واخلي.

دا یو ځانګړی مهارت او د خبریال یو له ښو وړتیاوو څخه دی چې ډیرې ښې، قوي او تخصصي سرچینې ولري، له هغوی سره ښې اړیکې ولري او هغوی له ځان سره وساتي او له هغوی څخه په خبري او نورو خپرونوکې استفاده وکړي. ښه خبریال هغه دی چې د هرې ورځې په تیریدوسره له یوې ښې سرچینې سره و پیژني او اړیکه ورسره ټینګه کړي.
د رسنیو ډیر مسوولین چې کله له تاسي څخه د یوې پیښې په هکله مالومات اخلي، دېته ډیرلیواله وي چې د دې پیښې د تاید له پاره ستاسي سرچینې کومې دي، لږ ترلږه دی له تاسي څخه دوه یادرې سرچینې غوړاي .
خو دا هم باید له یاده ونه باسو چې په ځینو وختونو کې یوه سرچینه هم بسنه کوي البته په هغه صورت کې چې سرچینه پوره د باور وړ وي او د پیښې په هکله پوره خبرتیا ولري او له هغې سرچینې څخه دا سې تمه باید وشي چې هیڅ کله هم دروغ نه وایي. که سرچینې مو د نوم له اخستلو ډډه کوله نو تاسي خپله وسه وکړئ چې نوم اخیستلو ته یې اړه کړئ او یا تر یوې اندازې پورې د خپل ځان په هکله مالومات ورکړي، د بیلګې په توګه: که تاسې وایئ چې د کورنیو چارو وزارت یوه کارکونکي دیوې پیښې په هکله داسې وویل ؛

د دې پر ځای باید تاسي هغه دېته اړ باسئ چې ووایي د کورنیو چارو وزارت یوه جګپوړي چارواکي د پیښې په هکله داسي وویل ؛

که ښه ورته ځیر شو نو وبه وینو چې تر لمړۍ سرچینې د خپل ځان په هکله لږ مالومات راکړي وو خو دوهمي سرچینې یو څه زیات مالومات د ځان په هکله راکړل او که چیرې کومې سرچینې د شخړو د راپورته کېدو او یا هم د خبریالي اخلاقي موازینو خلاف مالومات راکول او د خپل نوم له اخستلو څخه یې هم ډډه کوله نو ښه به داوي چې داسې مشکوک او ناسم مالومات او یا هم پر یو چا تورلګوي نو هیڅکله داسې مالومات مه خپروئ.

له خبري سرچینو سره ډیر په انصاف چال چلند وکړئ هم د مقابل لوري ګټو په خاطر او هم د خپلو ګټو په خاطر ځکه له خبري سرچینو سره ستاسي ښه اړیکه ډیره اړینه ده، که چیرې تاسي له دوی سره ښې اړیکې ولرئ نو د پیښو په هکله به ښه او کره مالومات درکړي.

**هغه سرچینې چې د نوم له اخستلو ډډه کوي:** د هغو سرچینو په پرتله چې نوم نه اخلي هغو سرچینو ته ډیر ارزښت ورکړئ چې خپل نوم اخلي خو د یوې سرچینې په معرفي کې خپله له سرچینې سره خبرې وکړئ چې څه ډول هغه معرفي کړي. خو په هر صورت کې ستاسې هڅه به داوي چې خپله سرچینه دېته اړباسئ چې خپل نوم په اصلي بڼه ووايي، د دې پر ځای چې و وایو یو جګپوړی چارواکی وایي او یا هم داسې نور ... پر ځای د هغه مشخص نوم واخلئ.

یوازې د دې له پاره چې پر دې وپو هېږئ کومې سرچینې مو خبري دي نو ستاسې له پاره ډیره اړینه ده چې تل باید هغه په هر ډول چې کېږي له خپل ځان سره وساتئ او هغه مالومات چې ستاسې په واک کې درکوي ښه غور پرې وکړئ چې د هغو کره والی ځان ته ثابت کړئ .

**دولتي یا رسمي سرچینې:** دولتي بیانیې، دولتي ادارې، رسمي خبري ناستې او مطبوعاتي اعلامېې او داسې نورې رسمي سرچینې خو یو خبریال باید پر دې وپوهېږي چې دولتي سرچینې له مالوماتو څخه ډکې سرچینې دي، ځکه دا د دوی دنده ده چې د پیښې په هکله پوره خبرتیا ولري نو خبریال باید پر دې وپو هېږي چې هرڅومره کولی شي مالومات واخلي نو له همدې سرچینو څخه دې استفاده وکړي، که څه هم د خبریالانو ستونزه همداده چې له رسمي سرچینو سره یې د مالوماتو په ورکړه کې لري خو بیا هم خبریال باید د خپلو ښو اړیکو په درلودلو سره له دوی څخه ډیره لوړه ګټه پورته کړي .

مسلکي او تخصصي سرچیني (کارپوهان او روڼ آندي ): خبریال باید دېته کلکه پاملرنه وکړي چې کارپوهان او روڼ آندي یو له هغو سرچینو څخه دي چې د موضوع په هکله علمي او تخصصي پوهه لري، دا سرچینې آزادانه او بې پرې مالومات ورکوي او نه غواړي چې کوم څه له تاسې څخه پټ وساتي، خو د یوه خبریال له پاره دا ډیره اړینه ده چې دا سرچینې په دقت سره د خپلو خپرونو له پاره وټاکي.

**بهرنۍ سرچینې:** خبریال نه یوازې له کورنیو سرچینو سره ښې اړیکې ولري بلکې دا ډیره ضروري خبره ده چې له بهرنیو سرچینو سره هم اړیکې ټینګې کړي لکه د بهرنیو هیوادونو سفارتونه او ځینې نورې نادولتي سرچینې او د هغوی بهرنیو ځانګو سره د اړیکو ټنګول د ډیر ارزښت وړ دي.

**کلتوري، فرهنګي او مذهبي سرچینې:** دا سرچینې کولی شي ستاسې خبر او خپروني ته یو ځانګړی رنګ او ارزښت ورکړي، په ځانګړې توګه مذهبي سرچنې ډیرې زموږ په اسلامي ټولنه کې رول لري، دغه بنسټونه هم په خپل وار کوښښ کوي چې د ټولنې ستونزې په ښه توګه حل کړي او په هکله یې مالومات ولري نو دا د خبریال له پاره ډیرې قوي سرچینې بلل کېږي .

**د سرک پر سر سرچینې:** هغه کسان چې تل په ښار کې ګرځي را ګرځي ستاسې له پاره په ښاري موضوع ګانو کې ډیرې ښې سرچینې دي. کېدی شي د ځینو ټولنېزو پیښو په هکله له دې سرچینو څخه پوره ګټه واخستل شي، خو له یاده ونه باسئ چې واکس پاپ به له څو مختلفو کسانو څخه اخلئ چې په دې هکله کېدی شي د واکس پاپ برخې ته مراجعه وکړئ.

**رسنۍ هم کېدی شي ستاسې ښه سرچینه وي:** ځینې داسې وختونه هم پیښیږي چې تاسې له یوې رسنۍ څخه نقل قول واخلئ او خپوریې کړئ، خو یوه ټکي ته مو پام وي چې که غواړئ ستاسې سرچینه رسنۍ وي نو باید له ډیرو معتبرو رسنیو څخه ګټه واخلئ چې هغه په ټولنه کې ټولو ته د اعتبار وړ رسنۍ وي، خو د رسنۍ نوم به له یاده نه باسئ چې حتما به یې نوم په خپرونه او یا هم خبر کې اخلئ ځکه دا د هغې رسنۍ قانوني حق بلل کېږي .[67]

[67] د بي بي سيد خبری ویب پاڼه....www.bbcpersian.com

**نیوزروم:**

نیوز روم هغه منظمه خونه ده چې د خبریالي ټول توکي هلته وي او یا هم نیوزروم هغې خونې ته ویل کېږي چې خبریالان هلته د خپلو خبرونو، رپوټونو او مرکو پیداکولو، یو له بل سره سلامشورې او سرچینو پیدا کولو په اړه پلټنه کوي چې خلکو ته کره مالومات ورکړي. د ورځپاڼو او خبري رسنیو په دفترونو کې بېلابېلې څانګې کار کوي. د خبرونو (رپورټنګ)، اونیزو ګڼو، اشتهارونو، تیراژ او وېش پر څانګو سربېره ځینې نورې څانګې هم شته، چې له غوښتنو سره سم پر کار بوختې وي. خبر خونه (نیوزروم) د خبري رسنیو تر ټولو غوره او ارزښتناکه څانګه بلل کېږي، ځکه د خبرونو چمتووالي دنده د همدې څانګې پر غاړه ده. د خبري څانګې یا خبرخونې مشر د خبري ایډیټرانومشر (نیوز ایډیټرز چیف) وي، چې د خپلې مرستیالۍ له پاره خبري ایډیټر(نیوز ایډیټر)، مرستیال خبري ایډیټر(ډیپټي نیوزاېډیټر) او څانګوال (شیفټ انچارج) ټاکلی شي.
د خبرخونې کارکونکي په بېلابېلوبرخو (شیفټز) کې کارکوي او هره برخه خپل مسوول لري. په ټولیز ډول په خبري رسنیو کې دوه برخې (ټوشیفز) کار تر سره کېږي. نو ځکه خو د ورځې اوشپې شفټونو له پاره بېلابېل مسوولین ټاکل کېږي. د شفټونو مسوولین د خبري ایډیټر او مشر خبري ایډیټر ترلاس لاندې کار کوي. مشر خبري ایډیټر، ایډیټر ته او ایډیټر مشر ایډیټر ته ځواب ورکوي. مشر ایډیټر او د امتیاز څښتن زیاتره د خپرونې څښتن هم وي. په خبرخونه کې په هر شفټ کې (سب ایډیټر) هم وي، چې د شفټونو د مسوولینو تر څار لاندې کار کوي. په ورځپاڼو کې د شپې شفټ د ورځې تر شفټ مهم ګڼل کېږي،ځکه خو مشر خبري ایډیټر او خبري ایډیټر د شپې په برخه کې کار کوي.
هغوی د ورځې شفټ تر پای ته رسیدو یو یادوه ساعته مخکې راځي، چې د لومړني شفټ کارونه هم وګوري. په خبرخونه کې یو لوی میز (مین ډسك) وي، چې شاوخوایې د خبري ایډیټر او شفټ مسوول تر څنګ ځینې سب ایډیټران هم ناست وي. پر دې سر بېره ځینې کوچني میزونه هم وي، چې یو، دوه یا درې سب ایډیټران ورته ناست وي. دغه واړه میزونه ښاري، سوداګریز، سپورټي، سیمه ییز او ملي میزونه وي، چې د اړوندو څانګو خبرونه پرې تیاریږي. دفتر ته ټول راټلونکي خبرونه مشرخبري ایډیټر او د هغه په نشتوالي کې خبري ایډیټر او بیا دده په نشتوالي کې شفټ مسوول ته رسیږي. دغه کسان د خپرېدو وړ خبرونه له نورو هغو بېلوي او د نه خپرېدو وړ یې ټوکریو ته غورځوي. د خپرېدا وړ خبرونه د خبري ایډیټر په پریکړه په بېلابېلو مخونو کې خپریږي. خبرونه د ایډیټ له پاره سب ایډیټر ته سپارل کېږي او بیا یې د خپرېدو د ځای او کچې په اړه پرېکړه کېږي. ملي خبرونه د ملي خبرونو میزته، سپورټي د سپورټ میزته، سوداګریز د سوداګریزو او سیمه ییز هغه د سیمه ییزو خبرونو میز ته استول کېږي. د هر میز سب ایډیټر د اړوندو پاڼو مسوول او ورسره ناست دوهم کس یې مرستندوی وي. وروسته غوره شوي خبرونه دکمپیوټر څانګې ته استول کېږي، چې ټایپ او کمپوز شي. دغه خبرونه تر ټایپ وروسته د پروف لوستنې څانګې ته ځي. نن سبا د پروف چارې سب ایډیټر پر مخ بیایي، چې کومه ستونزه او تېروتنه پکې پاتې نه شي. وروسته لوستل شوي اوسم شوي خبرونه بېرته د کمپیوټر څانګې ته استول کېږي او پروفي تېروتنې یې له سره سمیږي. د خبرونو وروستۍ بڼه په رڼه پاڼه (تریس پیپر) کې راوزي او د ورځپاڼې د مخبندي له پاره د هنرڅانګې (ارټ سکشن)ته استول کېږي. که څه هم مخبندي او مختړنه (کاپي پسټنګ) د هنري څانګې د پاړوال له خوا تر سره کېږي، خو د تېروتنو د مخنیوي په خاطر د اړوندو څانګو سب ایډیټران هم ورسره بوخت وي. اوسمهال په ډېرو ورځپاڼو کې دغه کار په کمپیوټر کې تر سره کېږي او کاپي پسټنګ یا مخبندۍ ته اړتیا نه لیدل کېږي، خو زموږ په هېواد کې دا ستونزه لا پر خپل ځای پاتې ده.
په خبرخونه کې یو (مانیټرنګ روم یا څارخونه) هم وي، چې راډیو ټلویزیون پکې اورېدل کېږي. دلته یو سب ایډیټر د نړۍ د مهمو راډیو ټلویزیونونو خبرونه اوري او ښتوي یې او بیا یې نیولیك خبري ایډیټر ته سپاري، چې مهم او له تګلارې سره سم خبرونه پکې په نښه کړي. په نغورځې (مانیټورنګ روم) کې د نړۍ د مشهورو خبري رسنیو لکه بي بي سي، امریکا غږ، آزادی، آلمان غږ او نورو خبرونه ریکارډېږي اوبیا مهم او ارزښتناك خبرونه ترې ورځپاڼې ته

پلي کېږي. د ورځپاڼې د خبرخونې نقشه په لاندې ډول وي:
دا ديوې معياري خبرخونې نقشه ده،خو ورځپاڼې او خبري رسنۍ کولی شي د خپلو اسانتياوو په ډېرښت او کمښت سره بدلون ورکې راولي .

**د نيوز روم د جوړولو موخه:**

خبريالان په ټولو رسنيو کې يوه خبرخونه د دې له پاره جوړوي چې دوی ټول يوځای يو له بل سره و وينی او هغه څه سوژې او موضوع ګانې چې دوی يې له ځان سره لري يو له بل سره شريکې کړي لکه څنګه چې موږ پر دې پوهېږو چې د خبريالي ټول کارونه ډله ايز دي او همداشان، د دوی ورځنی کار هم ورته و ټاکل شي، چې دوی په دې هکله مخکې له مخکې چمتو والی ولري، هغه څوک چې د دې خونې مديريت پر غاړه ولري هغه د ټولو خبريالانو ستونزې په پام کې نيسي او وروسته بيا ورته خپله ورځنۍ دنده ورسپاري.

**هغه ټکي چې د نيوزروم مدير يې بايد په پام کې ونيسي:**

هغه کسان چې په نيوز روم کې دنده تر سره کوي بايد د څو مهارتونو خاوند وي لکه: ښه اداره کونکی او ښه ايډيټر .

خبريالانو سره بايد د ښه سلوک څښتن او په خپل کار کې جديت ولري.

ټولو خبريالانوته د هغوی د توان په اندازه کار ورکول .

له ټولو خبريالانو سره يو شان سلوک او مرسته کول.

که له کوم خبرېال څخه کومه سهوه يا تير وتنه کېږي  سپکاوی ورته ونه شي بلکې بايد هغه وپوهول شي.

که خبرېال يو داسې کار چې اداري ته ستونزه را ولاړوي څوڅو ځله قصدا تکرار کړي نو په قانوني ډول بايد له هغه سره چلند وشي نه دا چې له تاوتريخوالي څخه کار واخستل شي.

هيڅ کله هم ټول خبريالان په خبرونو پسې مه ليږئ کېدی شي ډېره مهمه پيښه رامنځ ته شي نو که بيا خبرېال نه وي نو ډېره ستونزمنه خبره به وي .

د نارينه او ښځينه خبريالانو له پاره د هغه محيط په نظر کې د نيولو مطابق بايد دندې ورکړل شي او همدارنګه، بايد د ښځينه او نارينه خبريالانو د کار مهال ويش هم د هماغه محيط په نظر کې نيولوسره بايد برابر شي .

يو ښه مدير د خبرېال ټولې خبرې په غور اوري او د رپوټ په جوړولو کې له خبرېال سره مرسته کوي.

ټولو خبريالانو ته د اړتيا وړ توکو برابرول .

**د نيور روم جوړښت:**

نيوز روم بايد يوه آرامه او له غالمغال خوندي خونه وي چې خبريالان د خپلو ورځنيو کارونو د ښه تر سره کولو له پاره ښه تياری ونيسي.

نيوز روم  يا خبرخونه نسبتا يوه لويه خونه وي چې په هغه کې د رسنۍ ټول کارکونکې د خپلو ناستو په صورت کې ځای شي، اډيټران معمولا په خبرخونه کې وي، په نيوزروم کې آن د ديوالونو او پردو رنګ هم په پام کې نيول

کېږي  یانې له داسې رنګونو څخه ورکې کار اخستل کېږي  چې د روح د آرامتیا سبب وګرځی، خو په هرصورت نیوز روم باید یوه ډېره آرامه خونه وي .

**په نیوز روم کې د اړتیا وړ وسائل:**

نیوز روم باید په داسې وسائلو مجهزه خونه وي چې هلته د خبریالانو ټولې اړتیاوې په ډېرښه ډول سره حل فصل شي او هغه څه چې د خبریالانوله پاره هره شیبه په کار او اړتیا یې وي پر هغو سمبال وي.

په خبرخونه کې دغه لاندې وسائل اړین دي:

د ناستې له پاره یو ګردی میز

په پوره اندازه څوکۍ

دا‌ړتیا په اندازه کمپیوټر

تلویزیون چې ټولوته دلیدو وړ وي

سپوږمکۍ

انټرنیټ

تلیفون خو که یو داسې تلیفون چې د کارکونکو داخلي اړیکې ټینګې کړي او بل داسې چې د بهر اړیکو له پاره وي.

ساعت په داسې ځای کې باید ولګول شي چې ټول یې په آسانۍ ووینې.

کلیزه په یوه مناسب ځای کې چې ټول یې ووینې.

د ورځنیو چارو د لیکلو له پاره سپینه تخته او مارکر قلم خو تخته باید داسې ځای وي چې د ټولو سترګې پرې ولګیږي.

د مهمو تاریخي پېښو د یا داښت کتابچې.

د سرچینو د اړیکو او پتو د یاداښت کتابچې.

د اړتیا وړ قرطاسیه لکه قلم،کتابچې، استپلر، بروچر(دکاغذونودسوري کولوماشین )، سپین کاغذ او داسې نور.

پرینټر

د پوټو کاپي ماشین

سکنر

د ورځنیو خپرونو د لیکلو له پاره یوه سپینه تخته

او داسې نور وسائل چې د خبریالانو په کار کې آسنتیا راوړی.

**په نیوز روم کې باید لاندې ټکي د آدابو په توګه مراعات شي:** [68]

نیوزوم ته د اضافي څیزونو له راوړلو څخه ډډه.

د نیوز روم نظافت ته باید ټول خبریالان کلکه پاملرنه وکړي.

په نیوز روم کې په لوړ آواز له خبرو کولو چې نورو ته د مزاحمت وړ وګرځي ډډه کول.

په نیوز روم کي له داسې تصویرونو چې د خبریالانو پام ځانته رااړوي باید په کلکه ډډه وشي.

په نیوز روم کې د سګریت څکولو او نورو نشي توکو څخه باید په کلکه ډډه وشي.

د نیوز روم له ټولو وسایلوڅخه په ښه توګه ګټه اخستل.

اوداسي نور ...

**د خبرخونې یا نیوز روم اصطلاحات[69]:** د ژورنالیزم او خبریالي زده کونکو ته په کار ده چې، په خبرخونه کې پر ورځنیو ګړنو او اصطلاحاتو وپوهیږي او یو تر بله یې سره ښېل کړي. دلته به یو څو مهم ټکي ترې را واخلو

**کاپي (Copy):**
بېلابېل خبرونه، انځورونه او اشتهارونه د ورځپاڼي د چمتوکولو یا مخبندئ پر مهال پریوه رنه او نازکه پاڼه بترپېپېر سرېښېږي. دغه پاڼه د خبریالی په ژبه کې کاپي بلل کېږي. هره کاپي دوه مخه لري لومړی او وروستی مخ.

**لیډ ( Lead):**
د خبر پیلونکې جمله د خبر لیډ بلل کیږي. په تلویزیون کې د ویاند خبرې لیډ یا انترو بلل کیږي.
**سلګ (Slug):**
د هر خبر له پاره یو سلګ (پاتې شونې یا بقیه) لیکل کېږي. سب ایډیټر د ایډیټ پر مهال د خبرونو په پای کې د هر خبر له پاره یو یا دوه داسې لفظونه لیکي، چې له هغو نه د خبر ځرنګوالی مالومیږي.

دغه لفظونه په ټولیز ډول له سرلیکونو څه راخستل کېږي او کمپیوټر ته تر استولو مخکې په نښه کېږي. ددغه کار موخه دا ده چې، ایډیټر ته دا ځرګنده وي، چې کوم خبرونه کمپوز شوي او کوم له کمپوزه پاتې دي.
دسلګ لفظونه د خبر په پاتې (بقیه) کې له دې امله راوړل کېږي چې، لوستوالو ته د خبر د پاتې برخې په موندلو کې اساني را منځته شي.
**نیټه لیك (Date Line):**
د خبر په پیل کې د وخت، ښار او د خبر د سرچینې نوم لیکل د نیټه لیك یا ډېټ لاین په نوم یادیږي.
د نیټه لیك ګټه داده چې، سړی ژر پوهیږي خبر له کوم ښار او کومې سرچینې نه تر لاسه شوی دی.

د ساري په ډول، کابل (پژواك خبرې اژانس)... یاني خبر په کابل کې له پژواك خبري اژانس نه ترلاسه شوی دی.
**چاپ لیکه (Print lines):**
ورځپاڼې په قانوني توګه اړې دي، چې په هره ګڼه کې چاپ لیکه یا پرنټ لاین خپور کړي. په چاپ لیکه کې د

---

68 د نظیر احمد سهار لیکنه ګوګل
69 دنظیر احمد سهار لیکنه ټول افغان سایت

خپرندوی، ایډیټر، چاپخوني او د خپروني د سیمي نوмونه لیکل کېږي. ځیني ورځپاڼي خپله چاپ لیکه په وروستي او ځیني یې د سرلیکني پاس په دویم مخ کې ځایوي.

**بای لاین سټوري By line story:**

کله چې د خبر په پیل کې د خبریال نوم راشي، باي لاین سټوري یې بولي، خودا دومره دادمنه خبره نه ده، ځکه په ډېرو ورځپاڼو، په ځانګړي ډول په انګلیسي ژبو ورځپاڼو کې له خبر سره د خبریال نوم مل وي.

**کریډ (Creed):**

کله چې خبري رسنۍ د ټیلي پرنټر له لارې خبرونه استوي، د خبر استوني دغه بهیر ته کریډوایي. نن د تکنالوژۍ او برېښنایي وسایلو په راتګ او پراختیا سره ټیلي پرنټر خپل ځای فکس او برېښنالیك ته پرېښود، خو بیا هم یو نیم وخت کارول کېږي. د کریډ نوښتونکی ( مخترع) کریډ نومېده، ځکه خو یې خپله نوښتنه (اختراع) په کریډ سره ونوموله

**سمون او اوډون Editing** : د خبري رسنیو په دفترونوکې له بېلابېلو سرچېنو څخه د خبرونو تر حصول وروسته د سمون او اوډون یا (ایډیټ) پړاو پیلېږي. دغه خبرونه په خپله لومړنی بڼه نه خپرېږي، بلکې د اوډون په پړاو کې سمیږي او بیا خپراوي ته استول کېږي.

د اوډون (اېډېټ) موخه د خبر سمول او خپراوي ته چمتو کول دي.دغه کار د خبري رسنیو د خبر خوني(نیوزروم) د غړو له خوا تر سره کېږي.

د اوډون (اېډېټ) په پړاو کې د خبر ژبه، پاراګرافونه، افتتاحیه(انټرو-لیډ) او نور اړین توکي تر غور او څیړنې لاندې نیول کېږي. د خبر اضافي کلمې لرې کېږي او ګرامري تېروتنې یې سره اوډول کېږي. سرلیکونه او د خبر له ارزښت سره سم د سرلیکونو کچ ټاکنه هم ترسره کېږي. کله کله خبر له یوې ژبې نه وبلې ته ژباړل کېږي. د افغانستان په خبرې رسنیو کې ډېر وخت له پښتونه دري او له دري نه پښتو ته ژباړې کېږي. دغه کار د ورځپاڼې (خبرې رسنۍ) مدیر (سب ایډیټر) تر سره کوي. د خبر ارزښت ټاکنه هم په ایډیټرانو پورې اړه لري. د اوډونکو یوه ځانګړنه داده، چې د خبرونو کچې د خبرونو د ارزښت له مخې ټاکي. د خبرونو د کچ ټاکنې ګټه داده چې، د نا اړینو ټکو په لرې کولو سره به په خپرونه کې ډېر څه خپاره شي. د اوډون او سمون دنده د (سب ایډیټر) پرغاړه وي، ځکه خو سب ایډیټرته د ورځپاڼو هډ ویل کېږي. د ورځپاڼې دفتر ته په راغلیو زرګونو خبرونو کې د غوره خبرونو غورچاڼ او بیایي له خپراوي سره سمونتوب اسانه خبره نه ده. او ډونکي (سب ایډیټرز) دغه دنده د خپلو وړتیاوو او تجربو له مخې پر مخ بیایي. ښه او غوره اوډون خبر ته زړه راښکون ور ښښي او بد یې له بدو بدتر کوي.

## څلورم بحث

### د ویاندویي لارښونه:

هغه مواد چې تاسې یې لولئ اول باید خپله و پوهیږئچې څه او د څه په اړه دي.

هغه څه چې تاسي یې لولئ باید د هغې پر محتوا خپل ځان خبر کړئ ځکه چې کیدي شي که چېرې تاسي ونه پوهیږئ چې څه لولئ په طبیعي طور دا مسَله ستاسې په آواز کې ښکارېږي او ستاسې اوریدونکي هغه څه ته چې تاسې لولئ توجه نه کوي.

هغه څه چې وایې باید خپله هم وپوهیږې چې څه او د څه شي په هکله دي.

هغه څه چې فکر کوی ستاسې اوریدونکو ته د اوریدو وړ نه وي هیڅ وخت ونه لولئ. په رادیو کې مخکې د یوه مطلب له لوستلو نه هغه مطلب باید له ځان سره په اوچت آواز ولوستل شي او که متوجه شوئ چې سختې کلمې یا جملې ورکې وي او ستاسو اوریدونکو ته د پوهیدو وړ نه وي نو هغه دویم ځلي او په عامه ژبه ولیکئ. هر کله چې داسې پیچلو کلمو سره مخامخ شوئ چې تاسې خپله پرې نه پوهیږئ باید د متن لیکونکي سره اړیکه ونیسئ او مهم جوړوالی په جملو کې راولئ.

که چیرې متن له مخکې نه ولولئ په هغه صورت چې څه رقم متن باید ولوستل شي په طبیعي بڼه سره آشنا کیږئ چې دا خپله د هغو لوستو موادو په اوربدو کې له اوریدونکو سره مرسته کوي. او تاسې ته دا چانس درکوي چې د یوه خبر یا رپوټ په لوستولو کې چې باید کوم ټکي باید په پام کې ونیسئ، نیولی شي.

ستدیو ته له تلو مخکې دا فُرصت ځان ته ورکړئ چې یو ځل یا هم څو ځله چمتو شوی متن د لوستلو له پاره په اوچت غږ ولولئ.

تاسې مسولیت لرئ چې د لیکل شوي متن پر مفهوم پوه شئ او د اوریدونکو له پاره د هغه سختې کلیمې روښانه کړئ. د دغه امر پرځای کولو له پاره تاسې اړیاست مخکې له دې چې ستدیو ته لاړ شئ باید چمتو شوی متن په لوړ غږ ولولئ او د متن د ویلو له پاره چمتوالی ونیسئ دا خبره تاسې ته فُرصت درکوي هغه څه چې د اوریدونکو له پاره لولئ مخکې یې تاسې هم واورئ. کله ناکله یو متن ښه ښکاري خو هغه وخت چې په لوړ غږ ولوستل شي نیمګړتیاوې یې رابرسېره کیږي .

**په سختو لغتونو او نومونو کې د ژبې بندېښت**

مخکې له دې چې ستدیو ته لاړ شئ د لغتونو د تلفظ له طریقې څخه خپل ځان ډاډه کړئ داځکه چې که چیرې تاسې ډاډه نه اوسئ شوني ده چې د ویلو پر وخت په ستدیو کې له ستونزې سره مخامخ شئ او هغه څه چې غواړئ ووياست ورکې بند شئ.

له بیرني وخت پرته بل هیڅ وخت تر هغو ستدیو ته مه ځئ تر څو مو مخکې مطلب نه وي لوستلی. تاسې نه شئ کولی د ژبې بندیدو مخ نیوی وکړئ خو دا چې هغه متن چې وایئ یو ځل مو په لوړ غږ سره له ستدیو نه دباندې لوستی وي.

**د تیز ویلو او د ویلو د طریقې تمرین وکړئ**[70]

د ویلو پر وخت ځان ته اجازه ورکړئ چې د جملو په منځ کې وقفه وکړئ او همدارنګه، د ویلو پر وخت په طبیعی بڼه ساه واخلئ. له نورو(خپلو همکارانو) نه وپوښتئ هغه څه چې تاسې یې لولئ تیز دي یا نورو ته د پوهیدو وړ نه وي او که یا ورو دي چې ستومانونکي تماميږي.

**ساه واخلی او همدا رنګه آرامه اوسی**

په طبیعي ډول سره مخکې له دې چې ستدیو ته ورشو لږ ترتاثیر لاندې راځو، خو باید په یاد ولرو چې له حد نه زیات تر تاثیر لاندې راتلل به منفي اغیزه وکړي. د مرئ او څټ رګونه مو راووتي او د طبیعی غږ د راوتلو د بندیدو

70 دویناکولو اصول – دیل کارنکی

لامل کېږي  چې، دغه عمل ستاسي د وينا د تيزيدو لامل کېږي . مخکې له دې نه ستديو ته لاړ شو د اوږو او څټ ستوماني مو وباسئ  او همدا رنګه، ژوره ساه  واخلئ. خوله وازی د مری په چمتو کولو کې مرسته کوي.

يوه بله ستونزه هم چې تر ډېره  نوي ويياندويان ورسره  مخ کېږي  هغه دا ده چې د ويلو پر وخت يې خوله کې نارې وچېږی ځکه د تازه راغلو کسانو تر تاثير لاندې راتلو لامل ګرځي چې، دا خپله دخولې نارې وچوي  چې د څه لوستلو پر وخت ستونزه جوړوي.

د يوې پيالي اوبو څښل کولی شي چې دغه حالت ته د پای ټکی کېږدي، بايد په ياد ولرئ د خوږو اوبو او يخو اوبو له څښلو څخه ډډه وکړئ.

 دا ځکه چې داسي اوبه کولی شي د خولې اوبه سريښ ناکې کړي  او دا هم د خبر ويلو پر وخت ډېرې ستونزې پيدا کوي  او بايد هڅه وشي چې ستديو ته له تلومخکې څه شی ونه خوړل شي.

متن په راډيو کې په داسې ډول  ووايئ چې ګنې تاسې له اوريدونکي سره خبرې کوئ نه دا چې تاسې کوم شی له مخې نه لولئ.

ددې له پاره ښه لاره دا ده چې تاسې تصور وکړئ چې هغه متن چې تاسې يې لولئ يوه خپل نږدې دوست ته هغه روايت (کېسه) کوئ.

**د غږ اندازه ( ورو او تيز ويل)**

هر کله چې يو متن په مختلفو طريقو  ووايئ دا عمل سبب ګرځي چې اوريدونکي مو درته توجه وکړئ. لازمه نه ده چې ټولې جملې او لغتونه په يو ډول سره وويل شي، تاسې په هر لغت او په هره جمله کې کولئ شئ  وينا تيزه او يا هم ورو کړئ. په دې مانا چې کله يوه پېښه خپل دوست ته وايئ  کله  ستاسې خبرې تيزې او کله هم ورو وي، په راډيو کې هم يو مطلب همداسې  ووايئ .

د غږ اندازه مو د مطلب مطابق دوه ډوله کړئ. په دی مانا که چېرې مطلب مو احساساتی وي نو بايد په احساساتي ډول وويل شي.

د هغه څه سره چې غواړئ ويې وايئ ليوالتيا ښکاره کړئ.

هر کله چې تاسې غواړئ يو موضوع و وايئ او له هغې سره علاقه ونه ښيئ   ستاسې اوريدونکي هيڅ کله هم له هغې سره علاقه مندی نه ښيي. هر کله چې د ويلو پر وخت تاسې په داسې ډول ښکاره شئ چې يو خير وا يئ، ستاسې دغه ډول خبر لوستل سم  نه دي، ځکه هر کله چې تاسې د ويلو پر وخت داسې مالوم شئ چې يو ډير په زړه پورې مطلب لولئ پر اورېدونکي هم اغيز کوي.

**خپل متن نښاني کړئ!**

کوم متن چې غواړئ وي لولئ نښاني يې کړئ. له مهمو لغتونو لاندې خط کش کړئ، په هغو ځايونو کې چې غواړئ و دريږئ داسې نښاني / او يا هم هره نښاني چې تاسې ته د پوهيدو وړ وي کېږدئ. د هغو کليمو له پاره چې تلفظ يې ستونزمن دی زير او زور ورکړئ او يا بهرنۍ کليمې کولئ  شئ په انګليسي الفبا (يا مربوطه الفبا که چېرې تاسې ور سره آشنايئ لرئ) ويې يې ليکی.

هغه متن چې غواړئ وي وایئ  باید ستاسې د قلم نښانی ولري د مثال په ډول هغو کلیمو ته چې باید ستاسې توجه ډېره له هغو لاندې خط کش کړئ. کله هم په متن کې  رسم وکاړئ، د مثال په ډول هر کله چې خندونکی مطلب لولئ اوغواړئ دمېلب لوستلو پروخت وخاندئ هغه رسم چې  تاسې کښلی دی تاسې وخندوي. دا موضوع ښايي تاسې ته عادي ښکاري نه شي خو په دې توګه کولئ شئ  هغه څه چې غواړئ  ووایئ په ذهن کې مو ځای ونیسي او دغه راز، په یاد مو پاتې شي او دهغې موضوع په اړه عکس ستاسې په ذهن کې تر ډېره پاتې کېږي .

**باید ستاسې سترګې زیاتره له ژبې نه پر مطلب وي**

کلیمې ځان سره جدا جدا نه کړئ او  ویې نه وایئ، یو ټوټه له کلیمو نه چې یو مفهوم ورکوي په نظر کې ونیسئ او هغه ولولئ، په تمرین سره کېدی شي اصلي لار وموندل شي.

په راډیو کې د مطالب ویلو پر وخت کوښښ وکړئ ډوب غږ اوباسئ(د غږ اندازه مو ښکته وي )

هغه غږ چې له خولې نه مو راوزي باید له سږي نه مو راووزي نه له مرئ نه.

**د مایکروفون تخنیک**

مایکروفون یوه حساسه دستګاه ده چې ټول غږونه تقویه کوي،  په دې مانا که چېرې چوکۍ چې پرې ناست یاست لړه وخوزیده او یا هم متن چې تاسې لولئ او ورقه مو واړوله، مایکروفون د هغې غږ کشوي. هر کله چې مایکروفون روښانه شو په ډېر احتیاط سره کار کوئ، دغه وخت له قلم سره لوبې مه کوئ او یا هم خپلې پښې یا لاسونه مه کشوئ.

ستاسې د خولې فاصله له مایکروفون سره ډېره مهمه ده، هر کله چې تاسې مایکروفون ته ډېر نږدې یاست مایکروفون آن هغه هوا هم اخلي چې ستاسې له غږ نه راپیدا کېږي  او یو بل ډول غږ پیدا کوي، یا هم که چېرې له مایکروفون نه ډېر لرې یاست، هغه کلیمې چې تاسې يې وایئ په بشپړه توګه نه تشخیصېږي.

ددې ستونزې لرې کېدو له پاره باید لومړی له مایکروفون سره ډېر نږدې مه کینئ اودووم دا چې باید خوله مو د مایکروفون څنګ ته وي نه هغه ته مخامخ.

**تمرین وکړئ! تمرین وکړئ! تمرین وکړئ!**

د سهار له چای نه وروسته، دغرمې له ډوډۍ نه وروسته او ماشام له ډوډۍ وروسته تل ورځ پاڼې په لوړ غږ سره ولولئ. هر څومره چې تمرین وکړئ په هماغه اندازه کولئ شئ یو ښه ویاند واوسئ.

**که په راډ یو کې دمتن لوستلوپه وخت غلطي وکړی نو مه وېرېږی اوخپل جرائت له لاسه مه ورکوي .**
هر کله چې له غلطۍ سره مخامخ شوئ یو شیبه چپ کېنئ.

کله که تاسې کومه کلیمه سمه ونه لوسته او یا کومه تخنیکي ستونزه مخې ته راغله، مهم کار دا دی چې لاس تر زنې مه کېنئ. له هغې نه تیر او مخکې لاړ شئ. دا یوه رواني ستونزه ده چې له غلطۍ نه سترګې پټې کړو، خو که چېرې تاسې پر غلطۍ ډېر فکر کوئ، وار خطا به پاتې شئ او د خپرونې تر پایه تاسې پرله پسې غلطي کوئ.

کله موکومه غلطی وکړه مه ویرېږئ. که چېرې غلطي جدي وي د خلکو ذهن يې مغشوشاوه، بښنه وغواړئ او هغه اصلاح کړئ، پرته له دې چې ساه مو تازه اومطلب ته دوام ورکړئ. وړو وړو تېروتنو ته ارزښت مه ورکوي.

**خوراک او څښاک :**

له وینا نه مخکې ښه څښاک تودې اوبه دي نه چاۍ او قهوه. قهوه او چای کافین لري چې ستونی وچوي.

له ګاز لرونکو شربتونو څخه ځان وساتئ لکه سوډا، شيدې او نورو... . ځکه چې د څښلو دغه شيان په خوله کې سريښناکي اوبه پيداکوي چې ستونی غوړوي او تاسې غاړه تازه کولو اوستوني صافولوته اړ کوي.

شيريني او چاکليټ مه خورئ، ځکه چې خواږه په خوله کې سريښناکي اوبه پيداکوي. سګرېټ پرېږدئ. سګرېټ څکول ستونی وچوي، غړيزو تارونو، مرئ او سږي ته زيان رسوي آن تر دې چې په همدغو ځايونو کې د سرطان لامل ګرځي. د يو راډيوي ویاند په توګه- ستاسې غږ يوه ارزښتمنه پانګه حسابيږي. د هغه ساتنه وکړئ!

**له جسمي پلوه د لوستلو له پاره چمتو واوسئ**

بشپړ استراحت ولرئ ځکه چې ستړتيا ستاسې په غږ کې احساسيږي.

د غږ او ساه پاکولو له پاره ځان ته فُرصت ورکړئ.

له هغو تمرينونو نه استفاده وکړئ چې ستاسې د هوساينې سبب ګرځي. دغه تمرينونه ستاسې غږ چمتو کوي او تاسې په هر ډول حالت ترکنټرول لاندې ساتي.

له هغه پرته به هر ډول حالت ستاسې په غږ کې په واضح ډول ښکاره شي.

**د کېناستو حالت**

کله چې غواړئ پر چوکۍ کېنئ او خبر ولولئ بايد داسې کېنئ چې په آسانئ سره ساه واخلئ او خپل بدن ته حرکت ورکړئ. پښې مو بايد د ځمکې له پاسه هوارې کېښودل شي او کالي مو بايد ونه زوروي.

داسې مه کينئ چې ټول بدن مو پر ميز پروت وي، ځکه چې په دغه حالت کې نه شئ کولئ په آسانئ سره ساه واخلئ چې په دې سره به ستاسې غږ نا آرامه بهر شي.

دلوستلو پر وخت خپل متن مخې ته کېږدئ. هغه متن چې غواړئ وي لولئ د ميز له پاسه يې مه ږدئ، که چېرې مو داسې وکړل نو بيا مجبور ياست چې سر ټيټ کړئ چې په دغه حالت کې به ستاسې غږ په واضح او صفا ډول د پوهيدو وړ نه وي.

کله چې تاسې د لوستلو پر وخت نا آرامه ياست، ستاسې غږ لړزيږي او ستاسې اوريدونکي دغه حالت ته ښه ځير کيږي .

کله چې تاسې له يو چا سره مرکه کوئ هغه په بشپړه توګه معرفي کړئ.

ټل ځان ډاډه کړئ چې کله تاسې يوڅوک سټډيو ته دربولئ، د هغه نوم او مقام سم و پيژنئ په څرګنده توګه يې معرفي کړئ.

د میلمه په سمه توګه نه معرفي کول د خبریال غیرمسلکي توب ښیي.

هڅه وکړئ چې د میلمه نوم په سم توګه تلفظ شي. که چېرې مود میلمه د نوم سم تلفظ نه ؤ یاد نو د مرکې په پیل کې پوښتنه ورڅخه وکړئ.

میلمه او یا هم له هغه چا سره چې مرکه کوئ د هغه پوره نوم او مقام معرفی کړئ. د مرکې په پایٔ کې د هغه مقام او نوم په دویم ځلي تکرار کړئ.

**د ویندویي په هکله څو غوره ټکي:**[71]

خپله طریقه ولرئ او د نورو پېښې مه کوئ (د نورو طریقې مه خپلوئ).

معمولي جامې واغوندئ. ستاسي کلیمي د ارزښت وړ دي، نه ستاسي ظاهر.

واضح او په ډاډ سره خبرې وکړئ، د خپلو خبرو سرعت مو کم،کولئ شئ د تاثیرناکو خبرو د رسولو له پاره مکث وکړئ.

**پر خپل نفس اعتماد!**

که چېرې اوریدونکي (لیدونکي) فکر وکړي هغه څه چې وایئ، نه پرې پوهیږئ یا باور پرې نه لرئ، ښایي لږ ستاسې پر خبرو باور وکړي.

که چېرې پر خپل نفس اعتماد نه لرئ هغه مه ښیاست.

د ویندویي پر وخت روحي آرامي و لرئ داسي حالت غوره کړئ لکه کوم چا سره چې خبرې کوئ.

د خپرونې له اجرا مخکې، د ساه اخستلو تمرین وکړئ. ژوره ساه واخلئ او په تلویزویون کې مناسب حرکتونه ولرئ. که چېرې مو تېروتنه وکړه، د اورېدونکو پر وړاندې له دتېروتنې له تکرار نه مه ویریږئ.

د هرې رامنځ تیروتنې پر وخت ارام واوسئ،که چېرې په رښتیا تېروتی وئ.

**د ویندویي اخلاق**

په خپله دنده کې ریښتوني اوسئ.
کله هم داسي و نه ګڼئ چې ښه خپرونه مو اجرا کړې، له خلکو نه څه شی سوغات په توګه ونه منئ.

په یاد ولرئ، اعتبار ستاسې د ځواکمني او کمزوري لویه نښه ده او تل دخلکو باور تر لاسه کړئ نه سوغات.

اعتبار په ډېر وخت کې تر لاسه کیږي او ډیر ښایي ډېر ژر له منځه لاړ شي.

له خپل کار سره مینه ولرئ، له خپل کار نه خوند واخلئ، پر خپل کار مو وویاړئ او پر خپل ټول ځواک خپله دنده مخ ته یوسئ.

په یاد اولرئ چې خلک ستاسي مطالب نه لولي بلکې یوازې اوري یې.

بیا هم فُرصت لرئ چې پر مطلب مو هغوی وپوهوئ.

---

[71] دویناکولو اصول – دیل کارنکی

ژبه په فعاله توگه وکاروئ نه په کمزورې توگه. خبرونه په تيزئ سره اعلان کړئ. وخت ډېر ارزښت لري.

هغه عبارتونه وکاروئ چې خلک پرې پوهېږي*

له حدس او گمان نه نتيجه مه اخلئ*

زمونږ پيغام ساده ليکل دي*

**د يوې ورځې د ويندويي له پاره د** چمتو کېدو کسب په خپل چمتو والي کې په عاقلانه ډول عمل وکړئ. که چېرې يوه مکمله ورځ کې مو ځان چمتو نه کړ، نو مهمه پېښه کولئ شي تاسي غافل کړي.

تل له پاره آسوده اوسئ *

هر څومره چې د پېښو په جريان کې اوسئ ، اعتماد په نفس ولرئ*
بايد د هر څه له پاره چمتو اوسئ *

کوښښ وکړئ د خپلو مينه والو خبرو ته غوږ ونيسئ او له هغوی نه ډير مطالب زده کړئ*

د خپلو همکارانو او سيالانو کارونو ته توجه وکړئ*

په يادولرئ، ويندويي د خبرونو يو ډله ييزکار دی او تاسي دهغې يوه مهمه برخه *

يو لوي ماشين ياست، خو يوازې د هغه يوه برخه ؛ چې کولئ شئ مطالعه وکړئ او ولولئ دخبر ټول خبريالان بايد تيز فکرئ وي*

ويانديان د خبر ځيني متنونه ليکي او د مسوول مدير په پريکړو کې برخه اخلي*
**د مهمو خبرونو په پېښېدو کې وياند رول.**

د ناڅاپي او مهمو خبرونو د ويلو مهارت*

د مهمو او ناڅاپي خبرونو ويلو له پاره د خبريالانو او وياندويانو استخدامول او روزل

*د ناڅاپي خبرونو ويلو له پاره چمتوالی*

وياند او کوربه بايد له يو شان مهارتونو څخه برخمن وي*

هغه وياندويان چې د خبريالي سابقه ولري، له ډيرو وړتياووڅخه برخمن وي او کولی شي هيجان پيدا کړي*

**د ناڅاپي خبر چمتو کولو له پاره ډير لازم مهارتونه**

د ايډيټ قابليت
د ليکلو مهارت
له ډول ډول خلکو سره د مرکې مهارت
د غوږ نيولو مهارت
پر خيل نفس اعتماد
په مهمو نکتو کې دجذابو ټکو راټولول

خبریال باید څه ډول ناخاپي او مهم خبرونه ووایي؟

په سریزه کې ووایي:(دغه خبر همدا اوس را ورسید)
د اطلاعاتو سرچینه ذکر کړي

د- ژوندئ مرکې وکړي او له خبریالانو سره اړیکه ونیسي

د- مخاطبانو ته وواياست له تازه اطلاعاتو تاسې خبر کړي
کله چې ستونزه مخې ته راځي

تل د ستونزو رامنځ ته کېدو له پاره چمتو والی ولرئ

پر تېروتنه اعتراف څخه مه ډارېږئ ،خپله آرامي وساتئ

د خبر ویاند، د دروازه وانانو په توګه دي ( د هغوی مسولیت د دروازه وان په توګه دی) وروستی متن باید داسې تنظیم کړي چې له هر ډول مفهومي تېروتنې ونه لري لکه: ګرامري او یا هم د هغه په رنګ کې

او په پای کې یو چمتوکونکی ښه کار کوي چې ویاند د خبر نابغه ښکاره شي.

**په راډیو او ټلویزون کې ګډ خصوصیات**

د وینا د اندام سلامتي، سالم غږ او له هغه څخه د کار اخستو توانایي

ویاند باید خپل غږ له متن او مفهوم سره یو شان کړي، د مثال په ډول

د یو علمي خبر ویلو لحن- له فرهنګي د برید او د حادثې د خبر له لحن سره فرق لري. ویاند د خبر د ویلو له پاره (د ماشومانو له لو یانو سره علاقه مندي) نباید له هماغه لحن نه استفاده وکړئ چې د(مظاهرې د زیان) له پاره یې کارولی ؤ.
ویاند باید د ویلو په وخت کې، اصلي مفاهیم اصلي ټکو ته ولېږدوي.

**د تلویزیون خبرونه**

په تلویزیون کې، ویاند چې وکولی شي په همغږئ سره له مخاطب سره اړیکه ټینګه کړي او د هغوی توجه جلب کړي، یو جذاب ویاند دی.
د خبر ویلو توانایي ، په داسې ډول چې مخاطب احساس کړي ویاند ده ته مخامخ ناست دی.
هغه څه چې ویاند یې په خپرونه کې وایي هغه د خپرونی جوړونکي، لیکونکي، مسول مدیر، غږ اخستوکي و...ګډ کار دی چې د اوریدونکو قضاوت ته وړاندې کېږي . د عادي اورېدونکي، په نظر یوازې ویاند د ټولې خپرونې اصلي عامل دی.

ویاند د دې له پاره چې غږ یې خپرونو یوه برخه ده، خو ډېر لوړ منزلت او ځای لري، که د ویاند وړتیاوې په پام کې و نه نیول شي ښایي اورېدونکي له لاسه ووزي او د تلویزیون او راډیو لیدونکي او اورېدونکو شمېر لږوالي لامل ګرځي.
په ټوله نړۍ کې، د رادیو او تلویزیون شهرت او محبوبیت یوه برخه د ویاندویانو او د هغوی پر ښکلي غږ پورې تړاو لري.

ویاند باید خپل شخصیت په داسې بڼه په خپل غږ کې منعکس کړي چې غږ یې د (اړیکو ټینګېدو توان)،(د فکر لېږد توان)،(د حس لېږد توان)،(د شخصیت انعکاس توان) او د (سم تلفظ توان) ولري.

**په راډیو کې ویاند د ښه خبر ویلو له پاره دا ځانګړتیاوې ولري:**

که چېرې څوک دغه استعداد ولري چې خبر په مینه ولولي، له تردید پرته به پر اورېدونکي ډېر اغیز ولري. زما په آند هغه څوک چې غږ یې انعطاف ولري او وکولی شي په هره برخه کې ځان له خپروني او شرایطو سره برابرکړي، د ډېرو اوریدونکو د جذب له پاره د لوړ امتیاز خاوند دی، خلقیات او د ژوند طریقه یې د غږ له ځانګړتیاوو سره تړلي دي.

په راډیو کې، دا(تجربه) ده چې له ویاند نه ویاند جوړوي او عمر سره له سره اړیکه نه لري.

**د راډیو لنډ تاریخ:**

په ۱۸٦۷ کال کې د لومړي ځل له پاره جمزکلارک ماکسول د کامبریج په پوهنتون کې الکترو مقناطیسي څپې کشف کړې. په ۱۸۸۷ کال کې آلمانی هنریشه، هدتن، پردې پوه ـ شو چې الکترو مقناطیسي څپې د نور په سرعت په فضاکې خپرېږي. په ۱۸۹٤ کال فرانسوي اروارد برنلي فزیک پوه ـ د انتن لرونکې استوني او یوې اخستونکې په مرسته د صوت په خپرولو او ضبط بریالي شو. په ۱۸۹۵ کال ایتالوي مارکُني له خپلې خونې څخه تر باغ پورې پیغام واستاوه او وروسته ئې د (۱۰۵) کېلومترو په واټن مخابره کړ او ورپسي یې تر (١٤) کېلومترو، ۱۹ کېلومتر، ۲۹ کېلومتر او په ۱۹۰۱ کال کې یې چې د راډیو اختراع ورځ ګڼل کېږي ، خپل پیغام په بریتانیا کې د اطلس سمندر له څنډې نه د کانادا پر لور مخابره کړ او په ۱۹۰۹ کال کې یې د نوبل جایزه واخیسته چې له دوومې نړیوالې جګړې وروسته څخه راډیو د خلکو غږ انعکاسونکې اړیني وسیلي په حیث په ټولنیزو او سیاسي بدلونونو کې مهم رول ولوباوه.

د اړیکو په نړۍ کې دایو لوي بدلون وو ځکه راډیو د ټولیزواړیکو یوه ډېره غوره وسیله ده چې د ټولنې ډېر وګړي که زده کړې ولري او که نه، کولی شي لاس رسی ورته ولري.

**راډیویي خپرونی څه شی دي؟– او د راډیویي خپرونو ډولونه**

راډیویي خپرونه هغې خپروني ته ویل کېږي چې د خپلو مخاطبینو غوښتنو ته ځواب ویونکې وي.

د مخاطبینو اړتیاوې عبارت له اطلاع، ښوونې او تفریح څخه دي.

ښه خپرونه هغه ده چې بیخي لنډه او مخاطبین تنګ نه کړي، دا هغه نظریه ده چې په لومړي ځل د تلویزیوني خپرونو له پاره هم مطرح شوې وه.

هغه خپرونې ډېرې ښې خپرونې وي چې مخاطبینو ته آرامتیا، خوند او اعتماد رامنځ ته کړي چې، نوځکه خو د یوې خپرونې جوړولو له پاره درې اصله ډېر ضروري دي:

د خپرونې موضوع

د خپرونې وخت

د خپرونې زیګنال

**کلامي خپروني:**

**فيچر:** هغې کلامي خپرونې ته ویل کېږي چې، یو واقعي کیسه له ټولو جزیاتو سره د لنډې خپرونې په چوکات کې جوړوي چې دا خپرونه کولی شي سندری، د خلکو غږ ( واکس پاپ) او نور اغیزمن غږونه له ځان سره لري.

په زړه پورې خپرونې هغه دي چې، د مخاطبین ستړي نه کړي، په یوه وخت کې هم خلک اطلاع، تفریح او په عین حال کې خپل ځان هم ورکې وینې.

په خپرونو کې لنډې مرکې او لنډ رپوټونه هم وي.

فیچر هغه لنډې خپروني په خپله لمن کې را نغاړي چې هغه د یوې ټولنې د وګړو رامنځ کېږي او پر همدې دلیل د خلکو له پاره په زړه پورې وي، ځکه خلک غواړي چې په دې اړه ډیر نوي شیان زده کړي نو خبریال خپرونې ته د کیسې بڼه ورکوي ځکه عام خلک غواړي د خپلو ټولنېزو پیښنو په هکله ښه و پوهېږي او تجربې ثابته کړې چې عامو خلکوته که یوشی د کیسې په بڼه وړاندې شي نو ډیر ښه به پری وپوهېږي. نوپر همدې دلیل خبریال د ټولنې ټول واقعیتونه راټولوي او بیایې خلکو ته وړاندې کوي .

د یوه فیچر وخت له ۵ دقیقو څخه تر ۱۵ دقیقو پورې دوام کوي چې فیچر یو ښه غوره او تکړه مجري اودایرکټر ته اړتیالري، چې موضوع داسې خپره کړي چې هغه د اوریدونکې، لیدونکې او لوستوونکي له پاره په زړه پورې او د دوی له پوهې سره سم ولیکي اوبیایې وړاندې کړي.

**جینګلیز( طبعي غالمغال یا شور ماشور ):** چې د دغه غالمغال وخت له ۵ څخه تر ۱۵ ثانیو پورې دوام کوي. جینګلیز په رادیو او تلویزیون کې د استفادې وړ دی په چاپي رسنیو کې کوم ځانګړی رول نه لري.

جینګلیز له رادیویي یا تلویزیوني خپروني څخه مځکې خپریږي چې تل یوې خپرونې ته روح او اعتبار ور په برخه کوي .

جینګلیز تل د غږ او ساز یو ځای شوی تر کېب دی، ځیني داسې رادیو ګانی او یا هم تلویزیونونه شته چې په خپلو لمړنیو امتحانی خپرونو کې یوازی جینګلیزونه خپروي چې، خلک د هغې له آوریدلو سره بلدتیا شي، ډیرې رسنۍ جینګلیز د درې موخوله پاره جوړوي چې عبارت دي له :

د بدلون او تنوع د راوستلو له پاره،

د راتلونکې خپرونې په هکله د خه ویلو له پاره،

یو پیژندل شوي آواز ترې جوړوي په داسې بڼه چې خلکو ته ستومانه کونکې نه وي.

ډیر فیچرونه هم په جنګلیزو پیلېږي چې، یو ځانګړی جوړښت لري خو د خپرونو په زړه کې ځای لري .

درې ډوله جینګلز شته:

ډیر مست

ملایم

آرام

غږ + موسيقي = جينګليز ( مست تر ۲۰ ثانيو پورې )

غږ + موسيقی + کلام = دونت ( جدي تر ۲۰ ثانيو پورې )

**خبرې خپرونه:** په دې خپرونو کې اصلي محور د کورنيو او بهرنيو خبرونو سرټکي او ليدونه دي او له دې وروسته ټول هغه څه چې خپرونې راټول شوي وي لکه له محل څخه رپوټونه، واکس پاپ يا دخلکو غږونه، ساوند بايټونه او ساوند افکټونه هم شامل دي.

**د تليفوني خپرونو ډولونه:**

۱- **يوازې ويونکی:** داسې کسان هم شته چې يوازی زنګ ووهي او ووايي چې زه يم او هيله لري چې يوازی غږ يې خپور شي .

۲- **اقرار کول** :داسې کسان زنګ وهي او اقرار کوي د خپل زړه درد وايي او غواړي چې کيسه وکړی او خپله ستونزه تاسې ته ووايي نو دا ډول تليفونونه ډير اوږده خو په زړه پورې او صميمانه وي.

۳- **يوازې نظر:** هغه کسان چې يوازی زنګ وهی او د خپرونی په هکله خپل نظر څرګندوي او يا ښايي د خپرونې په منځ پانګې (محتوياتو)خبرې وکړي چې دا زموږ دند ه ده چې بايد خپل مخاطبين و پيژنو او د هغوی اصلي موخه تر لاسه کړو.

په ټوله کې څلور ډوله راديويي خپرونې او کړنلارې شته چې د هرې خپرونې جوړونه يې پر خپل ځای له نورو سره توپيرونه لري:

الف- خبري خپرونې،

ب- سياسي خپرونې،

ج- ښوونيزې او روزنيزې خپرونې،

د- تفريحي او ذوقی خپرونې.

**الف- خبري خپرونې:** د دا ډول خپرونې جوړول، په هره راډيو کې په خپلو کې توپير لري چې لاندې ټکي بايد په پام کې ونيول شي.

۱- دا چې خبري خپرونې په ټوله کې ډيرې زياتې وي بايد د ټولو اوريدونکوله ذوق سره برابرې وي ځکه چې، دا ډول خپرونې د لويانو او وړو خوښې دی او ليواله دي چې، له نويو او تازه پيښو څخه خبر وي.

۲- هغه ځوک چې خبري خپرونې جوړوي بايد په جوړښت کې د هغو مهم والی تاييد کړي.

۳- د خبري خپرونو جوړ ښت بايد زيات ټول پوه، په زړه پورې او د عامو خلکو په ګټه وي.يانې ملي ګټې ورکې نغښتې وي او هغه ځوک چې د دا ډول خپرونو وياند وي بايد ښکلی غږ ولري او په ډيره وړتيا او زيرکې سره خپرونې سمې جوړې کړي اواوريدونکي ته ښه شاليد(پس منظر)ورکړي چې اورېدونکی تر پايه له ځان سره ولري.

٤- د خبري خپروني وخت باید سل په سلو کې دقیق وي. په پیل کې د خبرونو مهم ټکي یاسرټکي باید ذکر کړي او اوریدونکو ته وړاندوینه وکړئ چې د خپروني په لړ کې نورې موضوع ګاني هم راځي.

٥- په دا ډول خپرونو کې موسیقي ځانګړی رول لري او د ورځنیو خبرونو په پام کې نیولو سره موسقي هم باید عیاره کړي یانې که چېرې خبرونو د خوښي او خوشحا لي اړخونه درلو دل باید د خپروني وروسته مسته موسیقي ولرو او که چېرې غمګیني پیښې وې نو باید موسیقي هم نرمه او ملایمه وي.

٦- د خبرې خپرونو پلان باید داسې ترتیب شي چې اوریدونکي ناخوښ نه کړي او و کولی شي چې خبري خپروني په خواږه آواز او ښکلې موسیقي نوره هم په زړه پورې کړي.

٧- د خبري خپروني په جوړولو کې مهمه داده چې موضوع ګاني باید یو اړخیزه او یو ښیزه نه وي.

**ب: سیاسي خپروني:** دا ډول خپروني تردېره د سیاستوالو او هغه چا پورې چې د سیاست مینه وال وي تړاو لري، نو باید دهغو په جوړولوکې لاندې ټکي په پام کې ونیسو:

١- دا ډول خپروني باید داسې ترتیب او تنظیم کړی شي چې خبري او سیاسي وي خو عا مو خلکو ته زیان و نه رسوي چې دا ډول خپروني زیاتره د سیاسي پیښو په اړوند د خبرګردي میز په بڼه جوړیږي.

٢- د دا ډول خپروني په جوړښت کې باید له سیاسي اشخاصو سره سلا مشوره وشي او باید کوښښ وشي په دغو پروګرا مونوکې د سیاستوالو نظرونه شامل کړی شي په دې شرط چې خپل غرض به ورکې نه وي.

٣- هیر مو نه شي چې دا ډول خپروني وروسته له خبري خپرونو خپریږي ځکه اوریدونکي علاقه لري چې په سیاسي اړخ کې وروسته د خبرونو له خپریدو څخه و پوهیږي او په خبرونوکې چې کو م خبر ډیر مهم اوڅیړني ته اړتیا ولري پر هغې او یا بله سیا سي موضوع خبرې وکړي.

٤- د سیاسي خپرونو په جوړښت کې زیات پام، دقت او هر اړخیزه پلټنه ډیره ضروري ده او باید داسې جوړه شي چې، عامو خلکو ته ورکې زیان ونه رسیږي.

**ج: ښوونیزې او روزنیزې خپروني:** د دا ډول خپروني جوړول د ټولني پر بیلابیلو پاړکوپورې اړه لري لکه (زاړه، ځوانان او کوچونیان) نوځکه خو یي جوړښت توپیر لري او داسې ترتیب کړی شي چې پر ټولو پاړکو مثبت اغیز وکړي او لاندې ټکي باید ورکې په پام کې ونیول شي:

١- د دا ډول خپرونو جوړول ډیر مهم، په زړه پورې او پراخه وي چې د هرې ښوونیزې کړنلارې له پاره باید د وخت په پام کې نیولو سره موضوع و ټاکل شي. مثلاً: که چېرې د کرني په اړوند یوه خپرونه جوړیږي چې غنم څنکه کرل کیږي اوکومې ځانګړتیاوې ولري باید دغنمو کر په وخت کې جوړه شي او په داسې وخت کې باید خپره شي چې بزګران یې داورېدلو وخت ولري.

٢- هغه خپروني چې د کوچنیانو له پاره جوړیږي باید ډیرې ساده او ژر پوهه وي او داسې عیارې شي چې د لویانو له پاره هم په زړه پورې وي.

٣- دښوونیزو او روزنیزوخپرونوپه جوړه ولوکې باید د ښووني اوروزني له متخصیصنوسره اړیکې وساتل شي او هم که چېرې د ښوونیزو خپرونو په جوړولوکې تفریحي خپرونوته هم ځای ورکړل شي ښه به وي .

٤- هغه ښوونیزې خپروني چې د نالوستو او بې سواده کسانو له پاره خپریږي باید په روانه او ساده ژبه خپرې شي او یا د ډرامي او کیسي په ډول خپرې شي چې ښه پایله ولري.

٥- باید وویل شي چې ټولې ښوونیزی یا تعلیمی خپروني نه شو کولی په تفریحي او ډراماتیک ډول خپرې کړو باید د موضوع په پام کې نیولو سره یې چمتو کړو.

٦- د هرې خپروني په پای کې موسیقی ډیره مهمه ده خو د هرې خپروني منځ پانګي په نظر کې نیولو سره باید د هغې په خپرولو اقدام وشي.

**د: ذوقي او تفریحي خپروني:** لکه څنګه چې دا ډول خپروني خلک زیاتې خوښوي نو لازمه ده چې جوړښت اوبڼه یې ښوونیزه اوپندلرونکې وي او لاندې ټکي ورکې مراعات شي.

١- دا ډول خپرونی باید داسې چمتو کړی شي چې د ټولو خلکو ذوق او علاقه ورکې نغښتې وي، سره له دې چې خوښونکې وي باید ښوونیزې هم وي.

٢- باید زیار و ایستل شي چې دا ډول خپروني داسې وخت خپرې شي چې خلک پر نوروکارونو بوخت وي ځکه دا ډول خپروني خلک په رسمي او شخصي مصروفیتونو کې هم اوري.

٣- په داسې ډول خپرونو کې موسیقی هم باید داسې انتخاب کړی شي چې تفریحی او انتقادی بڼه هم ولري.

٤- دا چې د هر انسان ذوق او علاقه فرق کوي باید د خپروني په جوړولو کې هر اړخیزه خوښي په پام کې ونیول شي اود هر چا له پاره په زړه پورې او د اوریدلو وړ وي.

٥- په داسې خپرونو کې کولی شو چې سا لم وړاندیزونه او نیوکې په ادبي بڼه خپرې کړو.

٦- په دا ډول خپرونوکې داسې ټوکې ټکالې وکړو چې کومه ځانګړې موخه ونه لري ډډه وشي ، هغه ټوکې چې د دین مذهب اوشخص سپکاوي ورکې شوی وي هیڅکله خپرې نه شي .

**پنځم بحث**

**- دژورنالیست دامنیت ( مصئو نیت) په هکله څومهم ټکي**

١- یو ژورنالیست باید دهرې ټولني، پاړکي او قشر فرهنګي مسایل لکه عادات، رسوم، دودونه، عنعنات، دین اومذهب په پام کې ونیسي او هغو ته درناوی وکړي.

٢- یو ژورنالیست باید خپل ځان چاته غلط معرفي نه کړي. د هغو کمپنیو ډلو، ګروپونو او سیاسي ګوندونو چې په خپله یا د ده دوست ورکې شامل وي، په ګټه او زیان، تبصره، مضمون او خبر، و نه لیکي او په خپل رپوټ کې د نر او ښځې، غني او فقیر ترمینځ فرق ونه کړي.

٣- ژورنالیست باید ملي ګټې په پام کې و نیسي هغه پېښې چې زیاتې مهمې وي له سیاسي شخصیتونو سره ملاقات وکړي او که ژورنالیست ته کوم بل چا خبر ورکړ باید په هغه بسنه ونه کړي خپله دې د پیښې ځای ته ولاړشي او خبر دې چمتوکړي.

٤ – د یو ژورنالیست دنده د خلکوغوړونو ته حقیقت رسول دي او پر پیښه قضاوت دخلکو کار دی.

۵- هغه خبرونه چې پوځي اورګانونو پورې تړاو ولري  باید مستند وي

٦- د چا په پلوي خبرونه خپاره نه کړي اوهم په خبرونو او رپوټونو کې  د خپل نظر له ورګډولو څخه ځان وساتي.

٧- که ژورنالیستانو ته له یوه ځای څخه بل ته تګ امنیتي ستونزې پیدا کوي باید د ځواکمنو خلکو او نورو ژورنالیستانو سره اړیکه ونیسي.

٨- په خبر کښې هیڅ وخت ژورنالیست خپل شخصي نظر او قضاوت نه شي شاملولی ځکه دا هم د ژورنالیست امنیت ته لوی خطر دی.

٩ – په مرکه باید مقا بل لوري څخه داسې پوښتنې ونه شي چې هغه په غصه کړي او له هیچا سره باید طرف واقع نه شي ځکه مرکه شوي داسې فکرکوي چې د چاپلوي کوي   .

**د خبریالي امنیت:**

ستاسې امنیت لومړی درجه امنیت دی اوهر د استان آن که مهم وي دا ارزښت نه لري چې د هغه له پاره ځان له منځه یوسي او یا ډیرسخت ټپي شي.که غواړئ چې لاریونونو ته پوښښ ورکړئ او کېدای شي چې د تاوتریخوالی سبب شي، ښه به وي چې یو وار سیمې ته ولاړ شئ او خپله د تیښتې لار وټاکئ یایې مشخصه کړئ. که په یوه سیمه یېزه شخړه کې راګیر شوئ او نور مونه شو کولی چې خبر خپورکړئ نو ستاسې کار به د خبریال په توګه ډیر سخت محدود شي .  که فکر وکړئ چې له خطرسره مخ یاست خپل ریس ته خبر ورکړي او ورته ووایئ  چې نیت لرئ څنګه خبر مخ ته یوسي او د احتمالي خطرونو شرح وکړئ .په عمومي ډول له ډیرو خبریالانو څخه دا تمه نه کېږي چې جګړې تر پوښښ لاندې ونیسي.

ډیرې خبرې موسسې هم مخکې له دې چې خبریالان د جګړې سیمې ته ولیږي له هغو څخه غواړي چې په دې اړه لازمه زده کړه وکړي چې  څنګه باید په ستونزمنو ساحو یا ځایونو کې کار وکړئ .

دا ډول زده کړې تر ډېره هغه سرتیري اداره کوي چې پخوایې په همداسې ځایونو کې وخت تیرکړی وي. که اړیاست چې  وسله وال تاوتریخوالي ته پوښښ ورکړئ لاندې ټکي په پام کې ونیسئ

احتمالي ستونزې که هغه وړې وي یا لویې، په ښه کړئ او پریکړه وکړئ یا هوډ وکړئ چې ایا دغه خبر چې غواړئ پوښښ ورکړئ چې د دې ستونزو ارزښت لري او که نه؟

لومړنی مرستې زده کړئ په تېره چې څنګه د وینې بهیدلو مخنیوی وکړئ.

هیڅ کله له ځانه سره وسله مه ساتئ او له هغو خبریالانو سره چې وسله لري سفر مه کوئ.

هر وخت که درڅخه وپوښتل شول چې څوک یاست خپل ځان په شفاف او واضیح ډول سره ور وپیژنئ هیڅ وخت ځان د بل چا په نوم مه معرفی کوئ که درنه وپوښتل شي چې څوک یاست ووایئ چې خبریال یم.

هر وخت غیر پوځي جامې واغوندئ خو که د رسمي جنګي خبریال په توګه د فعالیت جواز ولرئ او له تاسې څخه غوښتل شوي وي چې پوځي جامې واغوندئ نو بیا ښه ده.

پام مو هغو نښو ته وي چې له ځانه سره يې لرئ او کېدی شي تاسې د يوې خاصې ډلې غړي په توګه وپيژني  په ځانګړې توګه کله چې تاسې په هغو ځايونو کې کار کوئ چې کېدی شي واک له يوه اړخ څخه بل اړخ ته ليږدول کېږي .

که د جګړې په دواړو خواوو کې کار کوئ هيڅکله د يوه لوري د عملياتو په اړه هغه بل لوري ته اطلاعات او خبرونه مه ورکوئ.

داسې نښې له ځانه سره مه لرئ يايې مه ساتئ چې علامه ګزاری يا نښه شوې وي او پر تاسې د جاسوس ګومان وشي.

که داسې وضعيت کې لويدلی ياست چې ګواښوې مو کوښښ وکړئ کرار واوسئ اودوستانه کړه وړه ولرئ

که سګرټ يا داسې نور ځيزونه لرئ وکولی شئ خپلو نږدې کسانو ته يې ورکړئ.

يو لاسوند له ځانه سره ولرئ چې د هغه پرمخ ستاسې د وينې ګروپ مشخص يا ښودل شوی وي.

داسې بوټان ياڅپلۍ په پښو کړئ چې که اړتيا شي له هغو سره منډه وکړلی شئ په تېره په چې خطرناکو سيمو کې کارکوئ.

**نو دکلې خلک چېرې دي ولې ټول غلی او کرار دي؟**

**وډار شئ ، دا طبيعی ده خو ځان مه بايلئ**

**بيمه :**

که په خطرناکو سيمو کې کارکوئ فکرمو وي هغه څوک چې تاسې ته کار درسپاري بايد تاسې يې په مناسب ډول سره بيمه کړيئ .

**کار په خطرناکو سيمو کې :**

داسې ښکاري چې د خبرياالانو د مرګ موضوع نړيوالو سازمانونو ته هم چندان ارزښت نه لري نو ځکه خو بايد داسې پايله يا نتيجه واخلو چې موږ   يوازې يو.

دا برخه هغه نصيحتونه دي چې د ۱۵ کالو په اوږدو کې د زرګونو خبرياالانو د کار له تجربې څخه ترلاسه شوي چې، نږدې د ځمکې په ټولو خطر ناکو سيمو کې يې حضور درلوده او هلته وو.

ډير نصيحتونه او دستورالعملونه چې دلته راغلي دي تاسې ته هغه تصوير درکوي چې وکولی شئ له هغو پيښنو سره چې کېدی شي په خطرناکو سيمو کې د کار پر وخت ورسره مخ شئ او کولی شئ  ښه فکر پرې وکړئ او ځان ترې وژغورلی شئ.

د خبريالي متخصيصين او پوهان ټينګار کوي چې نبايد ځان قضا او قدر ته وسپارئ بايد ځان واردمخه له خطرناکې سيمې څخه د تيښتې له پاره چمتو   کړئ او په دې اړه پلان ولرئ.

**څوټکي :**

په هر حال خبريالي يو خطرناک مسلک دی. کله چې په خطرناکو سيمو کې کارکوئ د مثال په توګه که له تاوتريخوالي څخه ډکو لاريونونو ته پوښښ ورکوئ، تمه مه کوئ چې له تاسي سره به ښه سلوک ياچلند وکړي تاسي پوه شئ چې د کوم دوست يا ملګری ملاقات يا پوښتني ته نه ياست تللی، په ډيرو ملکونو کې دولتی چارواکي داسي فکر کوي چې د خبريالانو ډارونه ښه کار دی، دا ځکه چې له امله خبريالان د هغو کسانو په کار کې چې واک يې په لاس کې دی کار ونه لري، په ډيرو ملکونو کې د خبريالانو د ثبت وسايل او کمرې ضبطوي، قاضيان حکم صادروي چې خبريال خپله د خبر سرچينه وښيي او افشاء يې کړي، په امريکا کې که خبريال خپله د خبر سرچينه افشاء نه کړي کېدی شي بندي شي.

داسي ښکاري چې آن دموکراتيک ملکونه هم خبريالان ګواښوي.

خبريالان هم د ژوندي پاتې کېدو حق لري، خبريالان بايد ترسره شويو کارونو ته پوښښ ورکړي خو حق لري چې ځان له اخ و ډب څخه لرې وساتي او د ځان د امنيت په اړه فکر وکړي. د رويترز له استادانو څخه يو وايي << هيڅ خبر د وژل کېدلو ارزښت نه لري >> او زياتوي چې << هروخت سبا هم ښه خبرونه پيدا کېږی >> هيڅوخت د يوه ښه عکس اخيستلو فُرصت يا د يوې سوژې پوښښ له پاره تاسي خپل ځان له لاسه ورنه کړئ. کله چې احساس کړئ د خطر درجه لوړه ده کوښښ وکړئ چې د خپلو انديښنو او وسوسو مخه ونيسئ.

د ماجرا يا ستونزې خبر ور کړئ، خو د هغې برخه مه جوړيږئ يو خبر يا عکس هغه وخت ارزښت لري چې تاسي وکولی شئ هغه خپور کړئ، مړخبريال نه شي کولی چې خپل عکس يا خبر خپورکړي.

هغه اصول زده کړئ چې ستاسي د ساتلو له پاره مرسته وکړي، هغه شان، چې د خبر ليکلو اصول مو زده کړي بايد د هغو اصولو په لټه کې و اوسئ چې رعايتول يې کولی شي ستاسي ځان له احتمالي خطرونو څخه وساتئ .

**اوس څو نصيحتونه**

**مخکې له مخکې چمتو اوسئ!**

د هغه ځا ي په اړه چې کېدی شي هلته تاوتريخوالی رامنځ ته شي مالومات راټول کړئ مخکې له مخکې څېړنه وکړئ چې څه شی چېرې دی کوڅې چېرې دي ضرور يوه ښه نقشه جوړه کړئ، ډاډ حاصل کړئ چېرته چې ځئ ورتګ منع نه وي که هغه ځای ته د ورتلو له پاره د جواز اړتياوي بايد مخکې يې واخلئ.

فکر وکړئ چې کوم خطرونه کېدی شي د جګړې په سيمه کې تاسي وګواښوي او تاسي ځان د هغو د مقابلې له پاره چمتو کړئ.

د خطر درجه له مخکې وانګيرئ، د خطرد انګيرني له پاره بايد لومړی پوه شئ چې کوم خطرونه تاسې ته په کمين کې دی، کله چې پوه شئ کوم شی تاسي ګواښوي هغه وخت ځان د هغو مقابلې يا تيښتې ته ښه چمتو کړئ .

**له لومړنيو ارزونو وروسته لومړني اقدامات وکړئ!**

مثال – بده نه ده که له خپل موټر سره د جګړې سيمې ته ځئ موټر مو مخ پر هغه ځای ودروئ چې تاوېدلو ته اړتيا ونه لري او په اساني وکولی شئ دغه ځای پريږدئ.

خپل ارتباطی خط او لیکنه له مخکې واضح یا مشخصه کړئ یو څوک باید حتماً پوه شي چې تاسې چېرته تللي یاست او څه وخت بیرته راځئ د هغو کسانو د اړیکو شمیرې چې وکولی شي ستاسې په دردو خوړلی شي له ځانه سره ولرئ کېدی شي مجبور واوسئ دغه نومونه له جعلی یا غلطو نومونو سره ولیکئ چې د پیژندلو وړ نه وي، لومړنی مرستې حتما زده کړئ، په همدې ترتیب هم کولی شی ځانته گټه ورسوئ او هم نور و ژغورئ.

**د رویترز نصیحت**

که لومړنی مرستې مو زده وي حتما له هغه چا سره چې ټپي دی مرسته وکړئ کمره پر څمکه کېږدئ او د هغه مرستې ته ورشئ او په دې کارکې لږ ځنډ هم مه کوئ.

څومره چې کولی شئ دسیمې په اړه نوروته هم اطلاعات ورکړئ د نورو خبریالانو د تلیفون شمیرې ولرئ او د خطرونو په اړه له هغوی سره هم خبرې وکړئ د هغو کسانو د اړیکې شمېره چې وکولی شي ستاسې مرستې ته راشي د ټولو په واک کې ورکړي، خپل ریس ته یا هغه چاته چې ستاسې د راتلوپه انتظار دي وواياست چې که پیدا نه شوئ څه وکړئ، د ځان د خلاصون له پاره له مخکې پلان ولرئ

د جامو، د خبریالي کارت څخه د استفادې، د پیسو بټوې او د ځان پیژندگلوئ په اړه پریکړه وکړئ.

ښه ده چې د خبریالي کارت مو په جیب کښې وي نه دا چې پر کالیو پورې مو ټومبلی وي. تجربې ښودلې ښه به وي کله چې له تاسې څخه وپوښتی دلته څه کارکوئ؟ ځواب ورکړئ خبریال یم او خپل کارت ور وښیاست.

په داسې وختونو کښې لومړی کوښښ وکړي چې خپل مقابل لوری کرار کړئ له هغه سره په آرامې او کراره خبرې وکړئ او وروسته کارت وروښیاست.

کله کله کېدی شي د کارت درلودل وضعه لانوره هم خرابه یا ترینگلې کړي دا نو بیا ستا سې پر تجربې او هغه چاپیریال کښې چې کارکوئ اړه لري.

پر بدني تمرین پورې هم اړه لري، د چا چې بدنی وضعیت ښه وي ډیر ښه کولی شي ځان له خطر څخه لرې کړي.

وگورئ آیا چمتو یاست؟ د مثال په توگه ټوله شپه پلی وگرزئ یاکولی شئ منډ ووهئ

که پښې مو درد کوي ښه به وي له هماغه هوټل څخه چې تاسې پکښې اوسئ د هغه له منځ څخه په لیکلې تو گه خبر جوړکړئ یانې له هغه ځایه څخه یې جوړ کړ ،ځان قضا او قدر ته مه سپارئ او په چانس اعتبار مه کوئ

فکر مه کوئ چې دا یوازې ستا همکار دی چې مري او یا ټپي کېږی او تاسې خوندي یئ؟!

مه وایاست چې څه به نه کېږي ، داسې کسان وو چې که مخکې له جگړې څخه یې لږ شانته سوچ هم کړی وای تراوسه

به زموږ په خواکې وو.

د رویترز استادان د هغه آژانس څوخبر یالان یادوي چې د اخ و ډب په لړکې په ساده گی وژل شوي دي. که خطر درک نه کړئ یا له مخکې څخه یې وړاندوینه ونه لرئ، داسې وگڼئ چې د مین پر سر پښه ږدئ کله چې د مین میدان وپیژنئ وروسته کولی شئ د هغه له منځ څخه تیر شئ .

سر زوری او ضدي مه اوسئ

که ضدي یاست نور کسان هم په خطر کښې اچوي یانې چلونکی، مرستیال او ټول هغه څوک چې ستاسې له پاره خطرناکې سیمې ته پر لاره دي.

هروخت اړتیا نه شته چې د تاوتریخوالي په منځ کښې اوسئ داسې نه ده چې که د تاوتریخوالي په منځ کښې و اوسئ کولی شئ ښه خبر جوړ کړئ؟!

دوه هغه مستند فلمونه له تاوتریخوالی ډک یوه لاریون چې څنګه خلک منع کوي دا ښیي چې هغه خبریال چې دوربین یې په لاس کښې دی د خلکو په منځ کې د پوځي ځواکونو په راتګ سره ټپي کیږي په داسې حال کښې چې یو بل خبریال د یوه آپارتمان له برنډې څخه د صحنې فلم اخلي، ډیرې واضح صحنې یې اخیستي او په عین حال کښې یې خپل ځان هم ساتلی دی.

**شاوخواته مو پام وي!**

په داسې حال کښې چې غواړئ لاریونونو ته پوښښ ورکړئ باید د شاوخوا په لیدلو او د خپل فکر په راټولولو کوښښ وکړئ له احتمالي کارونو څخه وړاندې لیدنه وکړئ که فکر مو وکړ چې کېدی شي ستونزه مخ ته راشي ( مثال تاوتریخوالی زیات شي یا اوښکې بهونکی ګازاستعمال کړي یا باتوم په لاس معرکې ته راشي ) باید مخکې له هغه عمل وکړئ.

د مثال په توګه لړبايد له صحنې څخه لرې واوسئ چې که پولیس د لاریون کونکو په نیولو پیل وکړي تاسې د نیول شویو کسانو په ډله کښې ونه اوسئ .

**په ډله ییزه توګه کاروکړئ!**

تل سرتیری ځان ډیر ښه له خبریالانو څخه ساتلی شي سبب دادی چې هغوی هروخت په ډله ییزه توګه کارکوي په داسې حال کښې چې ډیر ځله خبریالان یوازې وي.

کله چې خطر احساس کړئ په ډله ییزه توګه کاروکړئ آن که اړ هم واوسئ چې له یوه رقیب خبریال سره په ډله کښې حضور لرئ.

نور خبریالان هم وهڅوئ چې له تاسې سره یو ځای شي، کوښښ وکړئ چې په ډله ییزه توګه کار ته له مثبت لیدلوري وګورئ.

**پر وضعیت واک ولرئ**

یاد مو وي! وضعیت هغه وخت خطرناکیږي چې کنترول مو له لاسه ووزي.

مثال ـ د یوې خوا مقابل لوری په قهرکړئ او یا یې عصبانی کړئ تل له مخکې څخه پر موضوع فکر وکړئ

**اصلي لوبغاړي پیدا کړئ**

په یوه لاریون یا تاوتریخوالي کې اصلي لوبغاړی پیدا کړئ او هغه تر نظر لاندې ونیسئ د هغوی اشارې وڅارئ چې خپلو شاوخوا کسانو ته یې کوي.

**له خپلو ټولو حسونو څخه ګټه واخلئ**

ليدل، اوريدل او بويول!

بوی وباسئ که شاوخوا مو د بنزينو بوی وي، ياني کېدی شي هره شيبه چاودنه رامنځته شي.

که څوک ووينئ چې له ځانه سره تيرې وړې يا په کوم لوري کې کاڼي پراته وي کېدی شي دلاريون ګډونوال هغه پر يو او بل وارکړي.

**يوه شئ چې کار کوئ!**

اجازه مه ورکوئ چې څوک ستاسي پر ځای تصميم ونيسي او تاسي خطرناکو سيمو ته ليږي کېدی شي چې ريس له دفتره زنګ ووهي او وغواړی چې تاسي کوم کاروکړئ.

تاسي په خپله د کار په ساحه کې ياست اوبايد د خطر په اړه وړاندوينه وکړی شئ اوتصميم ونيسئ.

کله کله کېدی شي د مقابل لوري لاسليک يا جواز ولرئ چې په کار مو راشي خو کله هم کېدی شي دا ليکنې هغه بل لوري ته په لاس ورشي اوکار خراب کړئ.

هر وخت مو پام وي چې کوم اطلاعات له ځانه سره لرئ؟ کېدای شي ځينې شيان له ځانه سره ولرئ چې له امله يې تاسي له يوه شورشي سره غلط کړي او زيان درته ورسوي .

مثال ـ دخبرو کولو په حال کې د شورشيانو د مشر عکس، شپې پاڼې، د شورشيانو له مشر سره عکس په داسې حال کښې چې لاس يې کښېکاږئ او کېدی شي له ياده مو وتلي وي او هغه د پيسو له بټوې څخه وباسئ آن که د تحريکونکوجريدو يوه ټوټه د پلټنې پروخت له تاسي سره پيدا شي او خطري وي.

**هغو خبريالانو ته څو نصيحتونه چې کار ته ليږل کيږي !**

که په تازه او نوي چاپيريال کې کارکوئ خامخا د هغه ځای له فرهنګ، آدابو، دودونو او رواجونو په اړه هم فکر وکړئ، آن د هغه ځای په اړه   چې هلته ستر شوي ياست يا ستاسي د خپل ملک په باره کې. په هر حال بايد له آدابو او دودونوسره بلد واوسئ.

که په داسي ځای کې کارکوئ چې کېدی شي رنګ، پوستکی، ژبه يا قوميت تاسي په خطرکې اچوي هغه ځای ته مه ځئ.

که ټاکل شوې وي چې په کوم بل هيواد کې اوږده موده پاتې شئ د هغه هيواد د ژبې لومړني اصول زده کړئ. کله هم کېدی شي صرف د څو جملو زده کړه تاسي وژغوري، لږ تر لږه دغه عبارت د هغه هيواد په ژبه زده کړئ چې<< زه خبريال يم >>

کله چې يوه نوي ځای کې پرکار بوختيږئ  تل له سيمه ييزو خبريالانو سره خبرې وکړئ.

هغوی تاسي ته لار در ښيي يا له خطرونو څخه تاسي خبروي، په دې توګه ډير ښه کولی شئ  د وضعي کنټرول په لاس کې ولرئ. که په خطرناکو ځايونوکې کار کوئ مثلا په جنګي ځايونو کې بده نه ده چې نړيوالو کنوانسيونونو ته نظر واچوي  لکه د ژنيو کنوانسيون ته! دا په دې مانا نه ده چې که کله له خپلو حقونو څخه خبرې کوئحتماً خلاصون پيدا کوئ.

کله هم صرف بیان کولی شي مقابل لوری خبرکړي چې که هر کار یې زړه وغواړي له تاسې سره یې وکړي کېدی شي وروسته ډیره ګرانه بیه ورکړي.

حتماً بیمه واوسئ هم د ناروغي له پاره ستاسې په درد خوري او هم که مړشئ لږترلږه ستاسې نږدې کسان به له مالي پلوه له ستونزو سره مخ نه شي.

که په نوي چاپیریال کې کار کوئ ناروغیو ته مو پام وي، ماشو ته یا مخکې له ورتګ څخه دغو ځایونوته کوم واکسینونه باید وکړئ.

که جګړه ییزو سیمو ته ځئ کوښښ وکړئ د ځان له پاره د ګولۍ ضد جاکټ پیدا کړئ.

په سفر کې نوي بوټان مه په پښو کوئ داسې بوټان له ځانه سره یوسئ چې څه وخت مو هغه په پښو کړي وي او ډاډمن شئ چې پښې مو ونه وهي داسې بوټان له ځان سره یوسئ چې سپک، ساده، داوبوضد او ښه وي.

کوښښ وکړئ چې د ډبلو کالیو پر ځای څه نازک له ځانه سره ولرئ او جامې د هوا مطابق واغوندئ.

یوه ښه خولۍ هروخت ستاسې په کار راځي

هغه جامې چې تاسې یې اغوندئ ډیرې د پاملرنې وړ نه وي مثلا که نارنجي رنګه جامې مو اغوستې وي کېدی شي د کوم لوري د ټوپک شپیلۍ ستاسې پر لوری در واوړي.

د خطر پر وخت بده نه ده چې یو سپین څادر له ځانه سره ولرئ. سپین څادر تردیره د سولې او تسلیمۍ مانا لري او کولی شي تاسې له مرګ څخه وژغوري یا نجات درکړي.

خپلې پیسې څو مختلفو ځایه کېږدئ. کېدی شي کله څوک وغواړي په زوره پیسې درڅخه واخلي، یو یا دوه جیبه چې خالي کړی کېدی شي نور لاس واخلي، بده به نه وي که دوه د پیسو بټوې ولرئ. یوه بټوه له لږ څه ناڅیزو پیسو سره او څو داني د بانګ کارتونه او د پیژندني کارت چې نیټه یې د اعتبار له مودې څخه تیره شوې وي .

ځینې ځایونو کې پاکې اوبه نه وي کولی شئ له ځانه سره تصفیه شوې اوبه ولرئ.

ځان پاک وساتئ صابون له ځان سره ولرئ.

یوڅه چاکلیټ له ځانه سره ولرئ ښه چاکلیټ ځینې وخت کولی شي ستاسې حال ښه کړي.

**همداشان، کله کله لاندې ټکي هم په پام کې ونیسئ!**

بې کوره شوي او وړې خلک د شخړې د خبریالي یوه برخه ده، خو کوښښ وکړئ چې دا شمېر د پاتې شویو انسانانو پر پوستکو او غوښو پورې وتړئ چې اغیز ولري. د پاتې شویو کسانو په لټه کې شئ او هغه څوک پیدا کړئ چې مثلا کور یې له لاسه ورکړی وي او کیسه تکرار کړي. په دې سره تاسې په واقعیت کې د ټولو انسانانو کیسه چې د هغه په شان دي بیانوئ. دغه کار مرسته کوي چې خبر خلک له هغو خلکو سره چې زیان یې لیدلی اړیکه ونیسي او هغه عمل چې مخې ته راغلی ښه یې درک کړي.

په دغه کار سره تاسې کولی شئ په ډیر دقت سره د وړې موضوع په وینا ټوله کیسه بیان کړئ.

(موټې پيدا کړئ چې له يو پنډ سره برابر وي) له جزياتو څخه مه تيريږه. په څرګند ډول يې بيان کړه، هغه کيسه چې وايې ژوندۍ وي او د اوريدونکي سترګو ته مخامخ راشي.

پام مو وي چې د پيښو په پيښيدو هرڅوک خپل نظرونه لري. له خپل ځان نه پوښتنه وکړئ، دا خبرې چې زه کووم پرکومو خلکو به ډيراغيز ولري. پر ښځو، ماشومانو، بوډاګانو، معلوليت لرونکو يا د ټولنې پر نوروپاړکو؟ فکر وکړئ ښايي هغه خلک چې رپوټ ليکي د ويلو طاقت يې ونه لري.

**د کړکيچ د خبريالي قاعده داده چې د ځان خيال به ساتې!**

زلزله، وچکالي، سيلاب، ناروغي يا ګډوډي او جنګ- په دې ټولو کې د خپل ځان خيال وساتئ هيڅ خبر د ځان له لاسه ورکولو ارزښت نه لري. مړه او ټپي خبريالان نه شي کولی خبر لاس ته راوړي. خپله خبرونه پر سختيو او جنګونو پورې تړلي دي نو ځکه خو بايد د خپل ځان په فکرکې و اوسئ! اول بايد ستاسې امنيت خوندي وي.

لومړی يو خطري ځای ته سفر کوئ بيا له هرڅه ډير د خپروني چمتو کولو ته اړتيا لري.لومړی اړتياوې په پام کې ونيسئ. اوبه له ځان سره يوسئ د اصلي اړتيايي شيان در سره وي او هغو خطرونو ته ځير اوسئ چې د انسانانو يا طبيعت له لوري متوجه وي. که چېرې ديرغمل نيونې ځای کې ياست له مختلفو لارو نه په بيلابيلو ساعتونوکی کار ته لاړ شئ او هره ورځ پر ټاکلي وخت له کور څخه بهر مه راووزئ. په جنګی ځايونو کې د امکان په صورت کې د ګولی ضد خولی او جامې واغوندئ خو په هر حالت کې کالي واغوندئ چې يو ښاري اوسيدونکي په شان ښکاره شئ نه د سرتېري په شان(له پوځي کاليو نه د شخصي کاليو اغوستل ښه دی)

د لومړنيو مرستو زيرمه بايد له ځان سره ولرئ او غوره ده چې د هغو استعمالول مو زده کړي وي. په ګرمه او اوچه هوا کې بايد د لمر سوزيدو او د بدن د اوبو وچيدو متوجه اوسئ.

په يخه هوا کې هم بايد د سړو کالي (د ژمي کالي) واغوندئ تل خپلو ملګرو او همکارانو سره په اړيکه کې اوسئ او هميشه د احتمالي ستونزې د حل په فکر کې واوسئ.

د موټرو ټکر له هر څه نه زيات تر اوسه پورې خبريالان وژلي نو امنيتي کمر بند هم له ياده ونه باسئ.

***د خبريالانو دامنيت ساتلو مسوول څوک دی ؟***

پوليس؟

ملي اردو؟

ملي امنيت ؟

د اطلاعاتواو فرهنګ وزارت ؟

رسنۍ ؟

قومي مشران ؟

خپله ژورناليست ؟

دولتي چارواکي؟

**دسفر پر وخت:**

کله چي ژورناليستان ناامنه سيمو ته سفر کوي کومو وسايلو او تجهيزاتوته اړتيا لري ؟

د سفر له پاره د يوه مناسب موټر غوره کول.

له سفر څخه مخکې دموټر ازمويل.

دوا درمل .

اوبه او ډوډۍ.

پيسي(په مناسب ځای کي وساتل شي له بهرنيوپيسوڅخه استفاده ونه شي)مروجي پيسي له ځانه سره ولرئ.

دموټر ازمويل وروسته له دريدلوڅخه.

د يوه مناسب هوټل غوره کول.

په هوټل کې د يوي با امنه کوټې يا خوني غوره کول.

له مناسب خوراک څخه استفاده.

د خلکو د فرهنګ دودونو په پام کې نيولو سره جامې وتاکئ.

يوازې د اړتيا پر وخت له هوټل څخه ووځئ.

له کمين سره مخ کېدو پر وخت امنيتي تدبيرونه .

د چاودنې پر مهال امنيتي تدبيرونه .

د سړک غاړې له ماينونو څخه ځان لرې وساتئ.

له ټکر سره د مخ کېدو يا کومې بلې پيښې سره د مخ کېدلو په وخت کې مه درېږئ .

د لاريونونو په وخت کې امنيتي تدبيرونه.

**اړيکې(ارتباطات)**

ـ د سفر پر وخت په منظم ډول د د فتر له مسوولينو سره په اړيکه کې واوسئ.

ـ له امنيتي چارواکو سره په اړيکه کې واوسئ.

ـ له قومي مشرانو سره خپله اړيکه وساتئ.

ـ له سيمه ييزو خبرياالانو څخه د امنيتي وضيعت په اړه او هم د نورو مسلو په هکله ا طلاع په لاس راوړئ.

- د اړتیا په وخت کې شپه د خبریالانو په کورکې تیره کړئ. دا په دې مانا چې دمسلک او کار له پلوه خبریال ستاسي هم مسلک او تاسي ته یو نږدې کس دی.

کېدی شي له خپل ځان سره ډېر قیمتی وسایل ونه لېږدوئ ښايي ستاسي امنیت په خطر کی واچوي بالخصوص هغه کسان چه غله وی ستاسې ظاهر ته د هغوی ډېره توجه وي نو ځکه خو باید کوښښ وکړئ چې هرې سیمې ته چې ځئ د هغې مطابق خپل ځان او جامې برابر ی کړئ.

کله چې له غلو سره مخ کیږئ نو هرڅه چه له تاسي غواړي باید ورېي کړئ که نه نو کیدی شي چې د هغه ځیز نه ورکونه ستاسي ژوند واخلي.

**سرچېنې:**


د لازیاتو مالوماتو تر لاسه کولو له پاره کېدی شي د لاندې انټرنیټي وبپاڼو او کتابو نو څخه ګټه واخلئ چې د دغه کتاب په ځینو برخو کې له همدغو سرچېنو استفاده شویده:

۱- نوي ورځپانه لیکل(حسین قندي، نعیم بدیعي)ایران، تهران، د علامه طبایي پوهنتون، کال۱۳۸۷ د وږي یا سنبلې میاشتې ۳۰ ، - ۹۸-۱۳۳-۲۳۴-۱۲۳-۹۰ مخونه.

۲- د مرکې بنسټونه(دکتر نمک دوست ، حسن، تولنه پیژندونکی، ایران، تهران، کال ۱۳۷۹ ، ۲۲- ۳۹- ۱۲۳- ۶۰-۱۲۲-۲۴۳ مخونه.

۳- د بي بي سي خبري وبپانه پانه.......................www.bbcpersian.com........................

۴- د جدید نیوز وبپانه.....................JadidNews.com 2006 ................................

۵- د ایرنا ( ایران ) خبري وبپانه پانه...............www.2.irna.ir................................

۶- د دویچپوله (آلمان) خبري وبپانه.................... www.dwworld.de/dw/0,2142,641,00.html

۷- د رویتر خبري وبپانه.................. ........................ RGUITAR.COM Coming Soon

۸- ژورنالیزم ، تلویزیون، تیرل، رابرت، ژباړونکی:مهدي رحیمیان. تهران: سروش،۱۳۷۱، .۵۸ ، ۴۴ ، ۷۰.۲۸ مخونه.

۹ - د ویندویي هنر ، شیدا، حسن ، تهران : ګلشهر، ۱۳۷۶، ۴۲،۴۱ ،۴۳، ۴۷،۴۴ مخونه.

۱۰ - د جن پریستر آسترلیایي د انترنیوز د ترینري لاسي منول کال ۱۳۸۹

۱۱- رادیو ژورنالیزم لیزا آپتن آسترلیایي ۱۱- ۱۵- ۲۱ – ۲۹ – ۴۰ مخونه.

۱۲- درسنیو حقوقي موضوعات محمد آفتاب عالم د رسنیو حقوقي سلاکار ۴۹-۵۸-۹۸ مخونه.

۱۳ د وپناکولو اصول – دیل کارنګي – ژباړن سعید خاکسار انتشارات اردیبهشت ۱۷۳-۳۱۶-۲۸۸ مخونه.

۱۴- په مطبوعاتو کې د مرکې کولو طريقې– سوزاندان – علي ايثاري کسمايي – يو نس شکر خواه ۱۴-۱۷-۴۱-۶۱-۷۱ مخونه.

۱۵- د خبرليکلو اصول د ورځپاڼوليکلو پيژندنه، نصراللهی اکبر –او را ټولونکی تهران د صدا او سيما خپروندويه ټولنه ، ۱۹-۹۸-۶۵-۲۳- ۱۱۰ مخونه.

۱۶ – د پوښتونو کولو اصول، شيراني پرويز د صدا اوسيما خپروندويه ټولنه، کال ۱۳۱۷ هجري شمسي ، ۱۹۸-۲۳-۱۸-۹۸ مخونه.

۱۷- د ژورناليزم لړۍ، پوهاند محمد کاظم آهنګ افغانستان د ميوند خپرندويه ټولنه کال ۱۳۷۹ هجري شمسي ۲۹-۳۳-۱۲-۴۹- ۹۸

مخونه.

۱۸- د خبر ليکلو بنسټيز ليک دود، پوهاند محمد کاظم آهنګ د صبور اسلامي خپرندويه ټولنه کال ۱۳۷۷ هجري شمسي ۴۴-۹۲-۹۸-۶۵-۹۰ مخونه.

۱۹- بنسټيزه او پر مختللي خبريالي ، څيرنېزه خبريالي، د نی دفتر( په افغانستان کې د خپلواکو رسنيو د ملاتړ اداری) ښوونيزې جزوې.

۲۰- منيژه، باختري. د خبريالي اخلاق اوحقوق، ۱۴۷-۱۴۸- مخونه، ۱۳۸۶ هجري شمسي کال

۲۱- د حقوقوترمينولوژي ، ۷۷،مخ درسنيو د جرمونو تعريفونه

۲۲- نصرالله استانکزی،د افغانستان د ټوليزو رسنيو حقوق، ۱۳۸۵، هجري شمسي کال کابل

۲۳- د افغانستان د ټوليزو رسنيو قانون (۱۳۸۴)هجري شمسي کال

۲۴- اميد معماريان؛ د آی – سي –اف د خبريالي آنلاين ښونکي نظريات

۲۵- د سولې او جنګ د رپوټ ورکونې انستيتيوت لاسي منولونه – ۱۳۸۷ هجري شمسي کال

۲۶- بليک ريد و ادوين هارولدسن ، په مطبوعاتو کې د مفاهيمو طبقه بندي، ژباړن مسعود اوحدي ، تهران ۱۳۷۸ هجري شمسي کال

۲۷- بينګر اتولر، اقناعي اړيکې، ژباړن علي رستمي، تهران، ۱۳۷۸ هجري شمسي کال

۲۸- جووت ګرت ،« د سياسي تبليغ جوړښت» ژباړن محبوبه ملک لو، رسنۍ، فصلنامه د رسنيو د څيړنې مرکز، ۲۳ نه تر ۳۱ مخونه.

۲۹- کلتنر جان . ډبليو، د خلکو په منځ کې پر اړيکو خبرې، ژباړن اکبر مير حسيني اوقاسم کبيري، تهران ، امير کبير، ۱۳۷۶ هجري شمسي کال

۳۰- لازار ژوديت، عمومي افکار، د ډاکتر مرتضی کتبي خپرونه ، تهران دوهم چاپ ۱۳۸۳ هجري شمسي

۳۱- دویسن، فیلیپ، " عمومي افکار ، لنډ تاریخ او تعریف،" داړیکو نړیواله دانش نامه، ج ۳، ۳۸۶- ۳۹۰ مخونه. خپرول په ګډه توګه د انبرګ په مرسته، د اړیکو مکتب او د پنسلوانیا پوهنتون ، ۱۹۸۹ زیږدیز کال

۳۲- ماري ګانګراس، آنه او ژان پیر کاریر، عمومي افکار: تشویق او جوړونه، کانادايي مجله اړیکي، ج ۲۱، مخ۴؛ کال ۱۹۹۶ زیږدیز

۳۳- پارک آر. ښکلي خبرونه، امریکایي ټولنیزه مجله، کال ۱۹۴۰ زیږدیز.

۳۴- والتون د. رسنی، د سیاسي اړیکو بیلونکي، هیریس، مخ 4، کال ۱۹۸۹ زیږدی

۳۵- د نظیر احمد سهار خپرې شوې مقالې اولیکنې.

۳۶- د نی دفتر(په افغانستان کی د خپلواکو رسنیو د ملاتړ ) درسي رسالې

**((ایډت اوکتنه دخپلواک احمدزيي تبلیغاتی شرکت ))**




Published by:
Friedrich-Ebert-Stiftung
Afghanistan Office
Shahr-e-Naw, Charahi Ansari
Behind Setara Hotel, Yaftali Street
Kabul Afghanistan
info@fes-afghanistan.org
www.fes-afghanistan.org